د پوهنې وزارت

تاریخ - یوولسم ټولگی

تاریخ

یوولسم ټولگی

Ketabton.com

د چاپ کال: ۱۳۹۸ هـ . ش

(c) ketabton.com: The Digital Library

ملي سرود

دا وطن افغانستان دی دا عزت د هر افغان دی
کور د سولې کور د تورې هر بچی یې قهرمان دی
دا وطن د ټولو کور دی د بلوڅو د ازبکو
د پښتون او هزاره وو د ترکمنو د تاجکو
ورسره عرب، گوجر دي پامیریان، نورستانیان
براهوي دي، قزلباش دي هم ایماق، هم پشه یان
دا هیواد به تل ځلیږي لکه لمر پر شنه آسمان
په سینه کې د آسیا به لکه زړه وي جاویدان
نوم د حق مو دی رهبر وایو الله اکبر وایو الله اکبر

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

د پوهنې وزارت

تـــاریخ

یوولسم ټولګی

د چاپ کال: ۱۳۹۸ هـ. ش

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کتاب ځانګړتیاوې

مضمون: تاریخ

مؤلفین: د تعلیمي نصاب د تاریخ دیپارتمنت د درسي کتابونو مؤلفین

اډیټ کوونکي: د پښتو ژبې د اډیټ دیپارتمنت غړي

ټولګی: یوولسم

د متن ژبه: پښتو

انکشاف ورکوونکی: د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تألیف لوی ریاست

خپروونکی: د پوهنې وزارت د اړیکو او عامه پوهاوي ریاست

د چاپ کال: ۱۳۹۸ هجري شمسي

برېښنالیک پته: curriculum@moe.gov.af

د درسي کتابونو د چاپ، وېش او پلورلو حق د افغانستان اسلامي جمهوریت د پوهنې وزارت سره محفوظ دی. په بازار کې یې پلورل او پېرودل منع دي. له سرغړوونکو سره قانوني چلندکیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پوهنې د وزیر پیغام

اقرأ باسم ربک

د لوی او ښونکي خدای ﷻ شکر په ځای کوو، چې موږ ته يې ژوند رابښلی، او د لوست او لیک له نعمت څخه يې برخمن کړي يو، او د الله تعالی پر وروستي پیغمبر محمد مصطفی ﷺ چې الهي لومړنی پیغام ورته (لوستل) و، درود وایو.

څرنګه چې ټولو ته ښکاره ده ۱۳۹۷ هجري لمریز کال د پوهنې د کال په نامه ونومول شو، له دې امله به د ګران هېواد ښوونیز نظام، د ژورو بدلونونو شاهد وي. ښوونکی، زده‌کوونکی، کتاب، ښوونځی، اداره او د والدینو شوراګانې د هېواد د پوهنیز نظام شپږګوني بنسټیز عناصر بلل کیږي، چې د هېواد د ښوونې او روزنې په پراختیا او پرمختیا کې مهم رول لري. په داسې مهم وخت کې د افغانستان د پوهنې وزارت د مشرتابه مقام، د هېواد په ښوونیز نظام کې د ودې او پراختیا په لور بنسټیزو بدلونونو ته ژمن دی.

له همدې امله د ښوونیز نصاب اصلاح او پراختیا، د پوهنې وزارت له مهمو لومړیتوبونو څخه دي. همدارنګه په ښوونځیو، مدرسو او ټولو دولتي او خصوصي ښوونیزو تأسیساتو کې، د درسي کتابونو محتوا، کیفیت او توزیع ته پاملرنه د پوهنې وزارت د چارو په سر کې ځای لري. موږ په دې باور یو، چې د باکیفیته درسي کتابونو له شتون پرته، د ښوونې او روزنې اساسي اهدافو ته رسېدلی نشو.

پورتنیو موخو ته د رسېدو او د اغېزناک ښوونیز نظام د رامنځته کولو لپاره، د راتلونکي نسل د روزونکو په توګه، د هېواد له ټولو زړه سواندو ښوونکو، استادانو او مسلکي مدیرانو څخه په درناوي هیله کوم، چې د هېواد بچیانو ته دې د درسي کتابونو په تدریس، او د محتوا په لېږدولو کې، هیڅ ډول هڅه او هاند ونه سپموي، او د یوه فعال او په دیني، ملي او انتقادي تفکر سمبال نسل په روزنه کې، زیار او کوښښ وکړي. هره ورځ د ژمنې په نوي کولو او د مسؤولیت په درک سره، په دې نیت لوست پیل کړي، چې د نن ورځې ګران زده‌کوونکي به سبا د یوه پرمختللي افغانستان معماران، او د ټولنې متمدن او ګټور اوسېدونکي وي.

همدا راز له خوږو زده کوونکو څخه، چې د هېواد ارزښتناکه پانګه ده، غوښتنه لرم، څو له هر فرصت څخه ګټه پورته کړي، او د زده کړې په پروسه کې د ځیرکو او فعالو ګډونوالو په توګه، او ښوونکو ته په درناوي سره، له تدریس څخه ښه او اغېزناکه استفاده وکړي.

په پای کې د ښوونې او روزنې له ټولو پوهانو او د ښوونیز نصاب له مسلکي همکارانو څخه، چې د دې کتاب په لیکلو او چمتو کولو کې يې نه ستړې کېدونکې هلې ځلې کړې دي، منه کوم، او د لوی خدای ﷻ له دربار څخه دوی ته په دې سپیڅلې او انسان جوړوونکې هڅې کې بریا غواړم.

د معیاري او پرمختللي ښوونیز نظام او د داسې ودان افغانستان په هیله چې وګړي ېې خپلواک، پوه او سوکاله وي.

د پوهنې وزیر

دکتور محمد میرویس بلخي

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مطالبو لړ لیک

عنوانونه	مخونه
دافغانستان عمومي وضعه د اسلام د ظهور په درشل کې	٤-٣
افغانستان ته د اسلام راتګ او خپریدل	٨-٥
افغانستان د امویانو په دوره کې	١٢-٩
له امویانو څخه عباسیانو ته د واک انتقال	١٤-١٣
افغانستان د عباسیانو په دوره کې	١٨-١٥
د عربي مسلمانانو او افغانستان د خلکو خپلمنځي اغیزې	٢٠-١٩
طاهریان او صفاریان	٢٨-٢٣
سامانیان	٣٤-٢٩
غزنویان او سلجوقیان	٤٢-٣٥
غوریان او خوارزم شاهیان	٤٨-٤٣
مغول او ال کرت	٥٢-٤٩
تیمور ګورکاني او د ده ځایناستي	٥٦-٥٣
د مغولو او تیموریانو په دوره کې اقتصاد او فرهنګ	٦٠-٥٧
د کندهار له پاڅونه مخکې د افغانستان وضع	٦٤-٦٣
بابریان او افغانستان	٦٦-٦٥
افغانستان او صفویان	٦٨-٦٧
د حاجي میرویس نیکه تر مشرۍ لاندې د کندهار پاڅون	٧٢-٦٩
په ایران کې د هوتکي دولت را منځته کېدل	٧٦-٧٣
د هوتکیانو په دوره کې اقتصاد او فرهنګ	٧٨-٧٧
په هند کې افغاني پاچاهان	٨٤-٨١

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مطالبو لړ لیک

عنوانونه	مخونه
لودیان او سوریان	۸۵-۸۶
ایران په منځنیو پېړیوکې	۸۹-۹۰
ایران په نویو پېړیوکې	۹۱-۹۴
هند په منځنیو پېړیو کې	۹۵-۹۶
هند په نویو پېړیوکې	۹۷-۱۰۰
د هند په بابري دوره کې علم، فرهنګ او هنر	۱۰۱-۱۰۴
چین په منځنیو پېړیو کې	۱۰۵-۱۰۸
چین په نویو پېړیو کې	۱۰۹-۱۱۰
د چین اقتصادي، فرهنګي او هنري وضع	۱۰۹-۱۱۰
اروپا په منځنیو پېړیو کې	۱۱۱-۱۱۲
صلیبي جګړې	۱۲۱-۱۲۶
د اروپا سیاسي اوضاع د رنسانس په عصر کې	۱۲۷-۱۳۲
په نویو پېړیو کې د اروپاعلمي او فکري بدلونونه	۱۳۳-۱۳۴
په نویو پېړیو کې داروپا سیاسي بدلونونه	۱۳۵-۱۳۸
د انګلستان صنعتي انقلاب	۱۳۹-۱۴۰
د عثماني دولت را منځته کېدل	۱۴۱-۱۴۳
د امریکا د متحده ایالاتو د خپلواکۍ انقلاب	۱۴۴-۱۴۵
د امریکا د متحده ایالاتو د پر مختګ د لوړتیا لارې چارې	۱۴۶-۱۴۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

لومړی څپرکی

افغانستان او اسلام

تېر کال په لسم ټولګي کې د اسلام له تاریخ سره آشنا شوئ. په دې څپرکي کې به په منځنیو او نویو پیړیو کې د افغانستان له تاریخ سره په لنډه توګه بلدتیا ترلاسه کړئ.

د شاه دو شمشیره (علیه الرحمه) جومات

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دې څپرکي موخې

هيله کېږي چې زده‌کوونکي به د دې څپرکي په پای کې لاندې پوهنيزې، مهارتي او ذهنيتي موخو ته ورسيږي:

- د اسلام د ظهور په در شل کې به د افغانستان له عمومي وضعې، افغانستان ته د اسلام د سپېڅلي دين راتګ او خپريدل، افغانستان د امويانو په دوره کې، له امويانو څخه عباسيانو ته د واک انتقال، افغانستان د عباسيانو په دوره کې او د مسلمانانو او د افغانستان د خلکو په دوه اړخيزو اغيزو خبر شي.
- په افغانستان کې به د مسلمانانو د بري لاملونه او همدارنګه د ځينو اميرانو پر وړاندې د افغانستان د خلکو د پاڅونونو دلايل وپيژني.
- د تاريخي نقشو او اطلسونو څخه به کار واخېستلای شي.
- د اسلامي او تاريخي هويت او د پوهې د لاسته راوړلو سره به مينه پيدا کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

افغانستان او اسلام
د افغانستان عمومي وضع د اسلام د ظهور په در شل کې

په دې لوست کې به د اسلام د ظهور په وخت کې د افغانستان د وضعې او حالت له څرنګوالي او هغو لاملونو سره په لنډه توګه بلدتیا ومومئ چې اسلام ته زمونږ د هېوادوالو د لیواتیا سبب ګرځیدلی وو.

د اسلام د ظهور په وخت کې د افغانستان شرایط پایداره نه وو او سیاسي، اقتصادي او ټولنیز تینګښت یې نه درلود چې په لنډه توګه به د ځینو برخو په تشریح پیل وکړو:

۱- سیاسي وضع

د شپږمې میلادي پیړۍ په دویمې نیمایي کې هغه وخت چې د یفتلیانو دولت مخ په ځوړ روان شو، د ایراني ساسانیانو او د ماوراءالنهر د ترکانو لاسوهنه په ترتیب سره د افغانستان شمال لوېدیځ، شمال او شمال ختیځ ته وغځیدله او تسلط یې وموند. پاتې هېواد په ملوك الطوایفي حکومتونو ووېشل شو او ډیر سیمه ییز حکومتونه رامنځته شول. د بیلګې په توګه په غور کې د سوریانو کورنۍ، په بامیانو کې د شېرانو، په کابل کې د رتبیلانو او په غزني او ګردیز کې د لاویکیانو سیمه ییز حکومتونه په پښو ودرېدل.

۲- اقتصادي او ټولنیزه وضع

د اسلام د ظهور څخه پخوا افغانستان د سوداګریزو مالونو د وړلو او راوړلو لاره وه. د وربښمو مشهوره لاره له دې سیمې څخه تېره شوې وه او سوداګریز کاروانونه به له چین او هند څخه ایران، عراق، ترکیې، لویدیځو هېوادونو او ختیځ روم ته رسیدل، همدارنګه د کرنیزو ځمکو، پریمانه اوبو، مساعدې هوا او انساني قوې شتون د اقتصادي وضعې د پرمختګ لپاره ښه زمینه برابره کړې وه. خو د اسلام د ظهور په مهال د یوه سیاسي او اداري مرکزیت د نشتوالی له کبله شرایط د ویجاړۍ لوري ته مخه کړه، چې کله به یوه سیمه او کله به بله سیمه د یرغل او چور لاندې راتله.

له بلې خوا، د ټولنې زیاتره وګړي په کرنې، مالدارۍ او کسبګرۍ بوخت وو، د خپلو عاداتو یوه برخه به یې د عبادت ځایونو ساتونکو ته ورکوله او دغه کړنلاره د دوی د ژوند بیوزلۍ سبب کېده.

همدارنګه د وخت په تېریدو سره د ځینو بزګرو ځمکې د لویو ځمکوالو لاسته ورغلې، یوې ډلې ته د شتمنۍ لاسته ورتلل او د بلې ډلې بیوزلي د دې لامل شو چې سخته مالي او اقتصادي نا انډولي رامنځته شي.

۳- پوهنیزه، ادبي او دیني وضع

دین چې د یوې ټولنې د یووالي پیاوړی لامل شمېرل کېږي، په افغانستان کې یې د اسلام د پیدایښت په درشل کې د ټولنې د خلکو په باور کې خپل حیثیت له لاسه ورکړ او په خپله د بې اتفاقۍ سبب وګرځید.

څرنګه چې د هېواد لوېدیځه برخه چې د ساسانیانو تر سیاسي، ادبي او دیني نفوذ لاندې وه، نو زردشتي دین ډیر پلویان درلودل خو په مرکزي سیمو، زابلستان، د کابل سیند وادي (ګندهارا)، د ارغنداب وادي د هندوکش د غرونو تر لرېو او د هېواد تر شماله او همدارنګه د سند تر څنډو پورې بودایي او برهمني دینونه دود وو. لمر لمانځنې او بت لمانځنې هم د هېواد په شاو خوا کې پیروان درلودل.

د یادو شوو دینونو څخه هر یو د ځانګړو عبادت ځایونو او اړوندو ادارو لرونکي وو. چې په دې کې زیاتره ساتونکو او راهبانو کار کولو او مزدوري یې اخیستله.

د هېواد د جغرافیوي موقعیت له مخې چې د جګو غرونو د سلسلو په واسطه په ډېرو درو ویشل شوی و هره دره د ځانګړې ژبې او لهجې لرونکې وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خرګندونې

۱- یفتلي یا هیتالي په چیني ژبه کې (یي- تي- لي- دو)، په یوناني او رومي ژبو کې (افتهالیت)، په پهلوي، عربي اوفارسی کې (هیطل یا هیفتا ل یا هیاطله) او په هندي او سانسکریټ کې (شوته هونه) بلل شوې ده.
۲- ماوراءالنهر د امو سند په شمال کې پراخه سیمه ده چې د نوموړی سند او سیر دریا تر منځ پرته ده. د بخارا، سمرقند، خوقند،خجند او نور ..... مهم ښارونه په دې سیمه کې موقعیت درلود او اوس د ازبکستان د هېواد په قلمرو کې شامل دی.

لکه څرنګه چې د اسلام د ظهور په وخت کې ډېرې ژبې لکه پښتو، دري، تخاري، سانسکریت او... د هېواد په بېلابېلو برخو کې دود وې.
د (۲۱- ٤٠ ق/ ٦٤٢ - ٦٦١م) کلونو ترمنځ د افغانستان خلکو ریاضي، نجوم او طب ته لاس رسی درلود او د یوناني او ساماني دودیزو علومو او هندي فلسفې سره هم بلد وو.
له ټولنیز پلوه هم د مشرې او رعیت طبقو شتوالی او د وینې او نژاد په اصالت باندې باور خلک له ستونزو سره مخ کړي وو. د کورنۍ جوړښت او بنسټ پیاوړې پایه نه درلوده او ښځې له خپلو انساني حقوقو څخه محرومې وې.
شرایط همداسې وو چې د اسلام دین غږ زموږ هېواد ته راورسېد. هغه دین چې ټول یې د یوه خدای ﷻ له لورې، یووالي، خپلواکی، عدالت، ورورولۍ او برابرۍ ته را وبلل.
د اسلام دین د مجاهدینو او دعوتګرو لومړنۍ ډله د دویم خلیفه په زمانه (۲۲ ق/ ٦٤٣م) کې زموږ د هېواد پولو ته ورسېده او د اسلام د سپیڅلي دین د خپراوي لامل شوه.

په ټولګي کې فعالیت

زده‌کوونکي دې په خلورو ډلو ووېشل شي او هره ډله دې د لاندنیو خلورو موضوعاتو په هکله بحث وکړي او له خبرو اترو وروسته، د موضوعاتو پایلې دې د ډلې یو غړی له نورو سره شریکې کړي.
د اسلام د ظهور په درشل کې د افغانستان سیاسي وضع،
د اسلام د ظهور په درشل کې د افغانستان ټولنیزه وضع،
د اسلام د ظهور په درشل کې د افغانستان اقتصادي وضع،
د اسلام د ظهور په درشل کې د افغانستان پوهنیزه وضع.

پوښتنې

۱. د دینونو زیاتوالی د ټولنې په یوالي کې څه اغېزه کوله؟ څرګندونې پرې وکړئ.
۲. د اسلام د پیدابښت په وخت کې زموږ د هېواد خلکو په کومو ژبو خبرې کولې، ایا تراوسه هم په هماغو ژبو خبرې کېږي؟

له ټولګي څخه دباندې فعالیت

ستاسو په نظر هغه دلایل کوم وو چې زموږ خلکو د اسلام دین سره نژدېوالی وښود؟ یو مطلب برابر کړئ او مخکې له راتلونکي لوست څخه یې په ټولګي کې وړاندې کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

افغانستان ته د اسلام راتګ او خپرېدل

په دې لوست کې به افغانستان ته د اسلام له راتګ او خپرېدو سره بلد شئ. او همدارنګه هغه لاملونه به هم وپيژنئ چې د هېواد په بېلابېلو برخو کې د دې اسماني دين د نفوذ لامل وګرځېدل.

(۱۵۰۰) کاله مخکې افغانستان ته د اسلام راتګ د پام وړ او د تاريخ مهمه پېښه بلل کېږي. افغانستان ته د اسلام راتګ او پايښت، دغه هېواد له يوې دورې څخه يوې بلې تاريخي دورې ته بوتلو او پرته له ځينو لرغونو عناصرو لکه ژبه او ځينې دودونه چې په هر وخت کې وو په خپل حالت پاتې شول، نور د هېواد ټول کلتوري، اقتصادي او ټولنيز جوړښتونه له بنسټيزو بدلونونو سره مخ شول او يا په بله وينا، اسلام زمونږ هېواد ته نوی روح او هويت وبخښه نو اسلام په افغانستان کې څنګه خپور شو؟

د اسلام خپرېدل

هغه ګرنديتوب او ثبات چې د مسلمانانو له فتوحاتو سره همغاړی و، د نړۍ په تاريخ کې ساری نه لري، نو له دې کبله پر ځای به وي چې دغه کار يوه الهي معجزه وبولو؛ ځکه د دې بريدونو او فتوحاتو رښتينی لامل او اصلي محرک هغه اسماني پيغامونه او لارښوونې وې چې د نوي دين په قالب کې د حضرت محمد ﷺ له خوا مسلمانانو ته ورسول شول.

په (۱۲ ق) کال کې د مثنی تر قوماندې لاندې چې د حارث زوی و د لومړي ځل لپاره د جزيره العرب په خټيځو سيمو باندې يرغل وکړ چې په پايله کې مسلمانانو د فرات سيند په لوېديځه څنډه کې د حيره ښار لاندې کړ. له دې فتحې سره مسلمانانو ته د بين النهرين د فتحې کلی لاسته ورغله.

وروسته له دې مسلمانانو د يوې لسيزې په درشل کې د ساساني ايران د نيولوکار بشپړ کړ او په ځانګړې توګه د نهاوند جګړه (نهاوند د همدان په سويل او د اوسني ايران مرکز ته نژدې يو ښار دی). په (۲۱ ق) کال کې مسلمانانو د ساساني ايران لښکرې او دولت په بشپړه توګه له منځه يوړ چې مسلمانانو دغه سوبه د فتح الفتوح په نامه ونومواله.

نو په دې توګه هغه حايل چې د خراسان او عربو مسلمانانو ترمنځ و، له منځه لاړ او اسلامي مجاهدينو خپل ځانونه د دې سيمې پولو ته ورسول او د خليفه فرمان ته سترګې په لار پاتې شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغه فرمان په(۲۲ هـ .ق.) کال کې د حضرت عمرﷺ له لورې صادر شو، مسلمانانو د احنف بن قیس تر مشرۍ لاندې حرکت وکړ او د اوسني ایران په سویل ختیځ کې د طبس د نیولو وروسته یې د هرات لور ته مخه کړه او دغه ښار یې په زور ونیوه. هغه بدلونونه چې د خلافت په مرکز کې د حضرت عثمانﷺ د ځایناستۍ په سر رامنځته شول، زمونږ په هېواد کې یې د مسلمانانو پرمختګ لږ څه وځنډاوه خو دا ځل د مسلمانانو خلیفه،(عبدالله بن عامر بن کریز) د ختیځو سیمو د فتحه کولو مشر وټاکه او نوموړي په دې برخه کې ډیرې هڅې وکړې.

یوه څرګندونه

وایي کله چې د لومړي ځل لپاره د عربو او ایرانیانو لښکرې سره مخ شوې دواړو لورو د جګړو له پیل څخه مخ ګرزاوه. په دې موده کې د دواړو لورو استازو په تګ او راتګ کې وو. د دې مذاکراتو له ډلې څخه، په یوه غونډه کې رستم د مسلمانانو له استازي څخه د دوی د موخې په هکله پوښتنه وکړه.

ځواب یې ورکړ:

زمونږ موخه، د اسلام خپرېدل دي، چې تر ټولو مهم ارکان یې د خدایﷻ په یووالي او د اسلام د پیغمبرﷺ په نبوت شهادت او همدارنګه د قرآن کریم قبلول دي.

رستم پوښتنه وکړه: نور څه؟

هغه سړي وویل: د خدایﷻ بندګانو ته دعوت ورکول چې د بندګانو له عبادت څخه د خدایﷻ د عبادت په لور وګرځي.

رستم پوښتنه وکړه: نور څه؟

د مسلمانانو استازي وویل:

او بل دا چې ټول خلک د آدم او حوا اولاده او ټول له یوه مور او پلار څخه پیدا دي.

عبدالله هغه ښارونه چې له اسلام څخه یې مخ اړولی و، بېرته تسلیم کړل او په ځانګړې توګه د نیشاپور له فتحې وروسته په (۳۰ ق) کال کې د نوموړي لاره د افغانستان د بېلابېلو ښارونو لوري ته خلاصه شوه. زمونږ د هېواد مهم ښارونه لکه هرات، فاریاب، جوزجان، تخار او بلخ د مسلمانانو لاسته ورغلل. د نوموړي تره (عبدالرحمن بن سمره) هم د افغانستان د سویلي سیمو د فتحې کار په غاړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

واخیست او سیستان چې په هغه وخت کې غزنی، زمین داور او کندهار پکې شامل وو ونیول او له هغه ځایه د کابل په لور وخوځېد.

په کابل کې مسلمانان له ډېرو ستونزو او کړاوونو سره مخ شول او کابلیانو د اسلام د لښکرو په وړاندې سخت مقاومت وکړ خو په پای کې یې ماتې وخوړه.

د پام وړ خبره دا ده چې له دې لښکرلیږنې سره یوځای، یو زیات شمېر عربانو په قبیلوی توګه مهاجرتونه وکړل او زمور د هېواد په هغو سیمو کې میشته شول چې له جزیره العرب سره یې ورته والي درلود.

سره له دې لومړنیو فتوحاتو، زمور د هېواد په ځینو برخو کې د مسلمانانو په وړاندې مخالفتونه له منځه ولاړل نشول او په ځانګړې توګه د ځینو بنی امیه و قبیلې د پلویانو چلند د خلکو د ځورېدو او ناراميِ لامل وګرځېد او پاڅونونه یې وزیږول، او په پای کې د یوه پاڅون په ترڅ کې چې د ابومسلم خراساني تر مشرۍ لاندې ترسره شو خلافت د امویانو څخه یوې بلې نرمې عربي ډلې یعنې عباسیانو ته چې ځان یې د پیغمبر ﷺ له کورنۍ او د هغه سیاسی نظام وارث باله چې د هغه په واسطه جوړ شوی و، ولیږدیده.

د مسلمانانو د بریالیتوب دلایل

۱- په پاک خدای ﷻ، د قیامت په ورځ، د اسلام په پیغمبر ﷺ او قرآن کریم باندې پیاوړی ایمان د مجاهدینو د بریالیتوب تر ټولو مهم دلیل ګڼل کېږي، ځکه دې عقیدې دوی ته ډېره لوړه روحیه ورکوله او دوی یې لا زیات فعالیت او خوځښت ته هڅول.

جهاد، شهادت او جنت له معنوي پلوه تر ټولو هغه اساسي ارزښتونه وو چې د دې سبب شول ترڅو مسلمانان په نه تصور کېدونکې توګه له خپل ځانه مېرانه، نه ستړي کېدل او جرئت وښيي.

۲- د مسلمانانو پیاوړې نظامي مشرۍ او له اغیزمنو جګړه ییزو تکتیکونو څخه ګټه اخیستنه او همدارنګه د مجاهدینو ترمنځ د جګړې د مشر د امر منلو روحیه.

۳- سربیره پر دې، مادي انګیزې هم باید له یاده ونه باسو. ځکه د اسلام د قوانینو سره سم د غنیمتونو یو پر پنځمه برخه اسلامي دولت او ځلور پر پنځمه برخه د مجاهدینو حق ګڼل کېده.

٤- زمور د هېواد د خلکو له خوا د اسلام عدالت غوښتنې او مساواتو د شعارونو بدرګه کول، ځکه زمور خلک د اشرافي نظامونو له شتون څخه ناراضه او تر پزې رسیدلي وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۵- د عربو په مقابل لوري کې اداري ضعف او د تیت او پرکې اداري او مذهبي وضعې شتون په ځانګړې توګه زمور د هېواد د خلکو ترمنځ، مسلمانو عربو ته دا زمینه برابره کړه، ترڅو ګټه تري واخلي، ځکه چې په دې وخت کې په افغانستان کې پیاوړی واحد حکومت او یو دین شتون نه درلود چې خلک سره راټول کړي.

٦- د واحدې نظامي مشرۍ نشتوالی او د اسلامي لښکرو پر وړاندې ګډه وډه دفاع د اسلامي مجاهدینو د بریالیتوب بل دلیل شمېرل کېږي.

۷- په اسلامي لارښوونو او تمدن کې د ژوند د بشپړ پروګرام شتون او په سیمه کې د پخوانیو حاکمو ادیانو د ټولنیز په زړه پورې او پراخه پروګرام نشتوالی.

د پورتنیو خوګونو دلایلو او ځینې نورو لاملونو له مخې، اسلامي لښکرې وتوانیدې چې افغانستان یا د هغه وخت خراسان تر خپلې ولکې لاندې راولي.

پوښتنې

۱. ستاسو په نظر کوم دلیل یا دلیلونه وو چې اسلامي مجاهدینو د ختیځ لور ته لښکرکشي وکړه؟ لاندې تش ځایونه په خپلو کتابچو کې ډک کړئ

۲. په کال ..... هجري مسلمانانو د لومړي ځل لپاره د ..... تر مشرۍ لاندې په ایران برید وکړ او په ترڅ کې یې ..... مهم ښار د مسلمانانو تر ولکې لاندې راغی.

۳. اسلامي لښکرې د کوم خلیفه په وخت کې خراسان یا افغانستان ته ورسیدې؟

٤. ستاسو په نظر عربي مسلمانانو ولې له جزیره العرب څخه زمور سیمو ته کډوال شول؟

۵. د مسلمانانو د خلیفه حضرت ..... فرمان په ..... کال کې د خراسان پر لور د مجاهدینو د پرمختګ په هکله صادر شو.

له ټولګي څخه دباندې فعالیت

زده‌کوونکي دې په افغانستان کې د اسلامي مجاهدینو د بریالیتوب د لاملونو په هکله یوه مقاله ولیکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

افغانستان د امويانو په دوره کې

په دې لوست کې به د امويانو د اداري سيستم له څرنګوالي او په هغه وخت کې د افغانستان د اقتصادي او سياسي وضعې په اړه معلومات ترلاسه کړو.

امويانو په ٤١ ق / ٦٦١ م. کال کې اسلامي خلافت ترلاسه کړ. دوی ٩٠ کاله په اسلامي نړۍ واکمني وکړه او کابو د افغانستان په ډيرو سيمو واکمن شول.

دوی چې د قبيلوی نظام بنسټ تر يوه حده ساتلی و د فتحه شوو سيمو د ساتلو لپاره يې د قوم د متنفذو خلکو څخه کار اخيسته چې نوموړي مشران به د ډپر واک خاوندان وو.

د امويانو په دوره کې زمور هېواد د وربښمو د لارې، پراخه کرنيزو ځمکو، بهيدونکو سيندونو، مساعدې هوا او انساني قوې په لرلو سره د ښه اقتصادي وضعيت لرونکی و. خو د امويانو د

(c) ketabton.com: The Digital Library

دربار د مصارفو زياتوالې چې د مالياتو له لارې تامينيدل، نه يوازې دا چې د کسبګرو او بزګرانو د نارامۍ لامل وګرځېدل بلکې د ډېرو ځمکو لرونکي هم ناراضه شول، ځکه چې د ټولنې د لوړې طبقې سياسي حقوق هم محدود شول او د بزګرانو د ورځنيو مالياتو زياتوالی د سيمه ييزو اشرافو د عوايدو د کمښت لامل وګرځېدل. په دې توګه د اموي دولت د واکمنۍ په مهال د خراسان کلني مالیات څلويښت مېليونه درهمو ته ورسيدل.

د عربو په منځ کې هم د اموي دولت له سياست څخه نارضايتۍ زياتې شوې. د قريشو يوه بله څانګه عباسيان وو چې له امويانو سره به يې سيالي کوله، د عباسيانو پلويان ورځ په ورځ زياتېدل. ځکه چې دوی به خلکو ته وعدې ورکولې چې د بريالیتوب په صورت کې به د مالياتو اندازه او بېګاري کارونه راکم کړي. سيمه ييزو ځمکوالو ته به يې هم وعده ورکوله چې د دوی سياسي حقوق به په پام کې نيسي او دوی ته به د دولت په اداره کې برخه ورکوي.

په دې ترتيب د امويانو او عباسيانو ترمنځ مخالفت زيات شو، څرنګه چې په خراسان کې د اسد بن عبدالله ۱۱٤- ۱۱۷ ق / ۷۳۵- ۷۳۸ م. په دوره کې د عباسيانو د پلويانو له ډلې څخه څو پټ کسان ونيول شول، لاس اوپښې يې پرې او غوڅې شوې. د امويانو بل والي نصر بن سيار هم په خراسان کې د عباسيانو پلويان په سخته توګه وڅارل. خو هېڅوک ونه توانېدل چې په زور او شکنجه د خلکو د نارضايتۍ مخه ونيسي او د هرې ورځې په تېريدو سره د خلکو نارضايتي زياتېدله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د امویانو شجره



(c) ketabton.com: The Digital Library

د ولسي پاڅونونو لاملونه

د بني امیه د خلافت په دوره کې نارضایتي زمور په هېواد کې زیاته شوه. دوی حاکم، قاضي او امام د عربي توکمه خلکو څخه ټاکل. دولتي مهمې دندې په عربي توکمه خلکو پورې اړه لرلې. سیاسي مخالفین په سختۍ سره ځپل کېدل. اسلامي ساده دربار په مجلل دربار بدل شو. د دربار او لښکر د لګښتونو زیاتوالی چې د مالیې له لارې به اخیستل کېده او همدارنګه بېګار اجباري کارونه د دې لامل وګرځېدل چې د خلکو د بېوزلۍ کچه لوړه او په پای کې د زیاتې ناراضایتۍ لامل وګرځي.

زمور خلکو د ځینو متعصبو له خوا د بې عدالتۍ او له توپیره ډک چلند ته په کتو سره، په داسې حال کې چې په اسلام یې ټینګ ایمان درلود او د هغه په پراختیا کې یې قربانۍ ورکړې وې خو د نومورو کسانو د تسلط پر وړاندې یې پاڅون وکړ، لکه د ابومسلم خراساني پاڅون.

په ټولګي کې فعالیت

زده‌کوونکي دې په دوو ډلو ووېشل شي او هره ډله دې له لاندې موضوعګانو څخه یوه وټاکي، خبرې اتري دې پرې وکړي او بیا دې یو تن په لنډه توګه د خپلې ډلې معلومات نوروته وړاندې کړي.

- د امویانو په دوره کې زمور د هېواد سیاسي وضعیت،
- د امویانو په دوره کې زمور د هېواد اقتصادي وضعیت،

سوچ وکړئ او ځواب ورکړئ

۱- د امویانو په دوره کې د مالیاتو او بېګاري د زیاتوالي لاملونه څه وو؟ په لنډه توګه یې واضح کړئ.

۲- د عربو په وړاندې د افغانستان د خلکو د پاڅون اساسي علتونه په ګوته کړئ.

۳- بېګار او حشر یو تر بله څه توپیر لري؟ په دې هکله خرګندونې وکړئ.

٤- اموي والیانو اسد او نصر په خراسان کې د خپلو سیاسي مخالفینو سره څه وکړل؟

له ټولګي څخه دباندې فعالیت

ستاسوپه آند د افغانستان د هغو ولسي پاڅونونو لاملونه چې د عباسیانو په ګټه تر سره کېدل څه وو؟

په دې هکله یو مطلب برابر کړئ او له اجازې وروسته یې د ښوونځي په دېوالي جریدې کې وځړوئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له امویانو څخه عباسیانو ته د واک لیږد

په دې لوست کې به زده کړو چې واک څه ډول له امویانو څخه عباسیانو ته ولیږدیده او په دې برخه کې د ابومسلم خراساني او د غوري مشرانو ونډه څه وه؟

ابو مسلم خراسانی او د واک په لیږد کې د هغه ونډه

عبدالرحمن چې په ابو مسلم ملقب و، د ماشومتوب د دورې نوم یې (بهزادان) او د پلارنوم یې بنداد هرمزد و. نوموړی په ۱۰۰ ق / ۷۲۱م. کې د سفیدنج (یا سپید دژ چې د جوزجان د انبار له مضافاتو څخه دی) په کلي کې زیږیدلی دی. په لومړي سرکې یې تحصیل ته مخه کړه او عربي ژبه یې زده کړه. د ژوند په ترخو شیبو کې یې غم او په خوږو کې یې خوښي نه ښکاره کوله. په ۱۹ کلنۍ کې یې د سیاست ډګرته و دانګل. د سلیم عقل، د هېواد پالنې احساس او پیاوړی عزم په لرلو سره ډېر په بیړه د ولسي فعالیتونو په سرلاري او مخکښ بدل شو. نوموړي په ۲۳ کلنۍ کې کوفې ته سفر وکړ، په مکه کې یې له ابراهیم عباسي سره ولیدل او د بني عباس له پټ ګوند سره یې اړیکې ټینګې کړې. څه وخت چې هېواد ته راستون شو، د علوي سیدانو یحي بن زید له شهادته وروسته یې په خراسان کې د امویانو په وړاندې د پاڅون مشري په غاړه واخیسته. د پاڅون په لومړیو ورځو کې ډېرې ډلې له ده سره یو ځای شوې، تر هغه پورې چې د (۱۲۶ ق / ۷۴۷م) کال په کوچني اخترکې د سفیدنج په کلي کې یې د امویانو بیرغ کوز او د عباسیانو تور بیرغ یې پورته کړ.

د ابو مسلم د دعوت په پایله کې هم د خراسان په خلکو کې او هم د عباسیانو په ملاتړو عربو کې د عباسیانو پلویان زیات شول او په بیړه سره د هرات، بادغیس، تالقان، سرخس، مرو، طوس، غور، نیشاپور، بلخ، تخارستان او د نورو سیمو زیات شمېر خلک د نوموړي مرستې ته حاضر شول. پیاده او سپاره خلک به له ابومسلم سره یو ځای کېدل.

د خراسان والي نصر بن سیار چې له ابومسلم سره یې مقابله کوله ونه توانېد چې د پاڅون کوونکو په وړاندې ټینګ شي. د ابومسلم په واسطه د مروې له نیولو وروسته نصر نیشاپور ته شاتګ وکړ. د ابومسلم ځواکونو د سیار لښکر و څاره او ماتې یې ورکړه.

د امویانو امیر مروان حمار ډېره هڅه وکړه چې دا پاڅون وځپي. د دې لپاره نوموړي نورې لښکرې برابرې کړې او ابراهیم عباسي یې هم وواژه. خو پاڅون کوونکو څو ځله د مروان ځواکونوته په عراق کې سختې ماتې ورکړې او د امویانو وروستی د خلافت مرکز دمشق یې تري ونیو او په (۱۳۲ ق / ۷۴۹م) کال یې د کوفې د ښار په جامع جومات کې ابوالعباس سفاح خلیفه اعلان کړ، مروان د مصر په لور و تښتید او هلته ووژل شو.

په دې ترتیب عباسیان د امویانو پرځای واک ته ورسېدل. خو د خلکو او پاڅون کوونکو د ژوند ښه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کولو لپاره يې کوم ګام پورته نه کړ او خپلو وعدوته يې شا کړه. ابومسلم د خراسان والي وټاکل شو خو عباسي مشرانو ابومسلم او نورو پاڅون کوونکو ته په ښه سترګه نه کتل نو ځکه يې د له منځه وړلو لپاره لاسونه بډ وهل. ترڅو په (١٣٤ ق/ ٧٥٥م) کال کې ابوجعفرمنصور، ابومسلم په ټګۍ د خلافت مرکز ته وغوښت او مړې کړ. د ابومسلم وژنې خلک بيا وخوځول، څرنګه چې پاڅون کوونکو په لومړي سرکې د ((سنباد)) بيا د استاد ((سيس)) او وروسته د ((مقنع)) په مشرۍ پاڅونونه پيل کړل.

امير فولاد او امير کرور

امير فولاد د ملک شنسپ بن خرنګ له اولادې څخه و، شنسپ د افغانستان په مرکز کې د غورله مشرانو څخه و چې د غور د غرونو په شاوخواکې يې واکمني درلوده. څه وخت چې نوموړي واورېدل چې د افغانستان خلکو د امويانو په وړاندې پاڅون کړی، ده هم پاڅون وکړ او په عباسي ګوندکې يې د ابومسلم خراساني سره يوځای د خلکو په راغونډولو پيل وکړ.

امير کرور د امير فولاد زوی و. په کال (١٢٩ ق/ ٧٦٠م) کې په غور کې امير شو. نوموړی و توانېده چې د غور په شاوخواکې د واکمنۍ لمنه و غوړوي ځکه چې دی يو هوډمن، زړه ور او مېړنی سړی و او دخپل پلار په څېر نوموړي د ابومسلم خراساني سره يوځای د عباسي ګوند سره په مرسته کې فعاله ونډه واخيسته. همدارنګه نوموړی يو زړه ور هوډمن او پوخ شاعر و چې لومړنی پښتو شعر ده ويلی دی.

په ټولګي کې فعاليت

زده‌کوونکي دې په دريو ډ لو ووېشل شي او عباسيانو ته د واک د رسېدو په برخه کې دې د لاندې شخصيتونو په اړه له يو له بل سره خبرې اترې وکړي، د خبرو اترو پايله دې د ډلې د يوه غړي له خوا نورو ته وړاندې کړي. (ابومسلم خراساني، امير فولاد غوري او امير کرور غوري).

پوښتنې

١- عباسي خليفه ولې ابومسلم وواژه؟

٢- ستاسو په اند، هغه خوځښتونه چې د ابومسلم خراساني له وژنې را منځته شول، څه ځانګړتيا وې يې لرلې؟

٣- له امويانو څخه عباسيانو ته واک څه ډول انتقال شو، په لنډه توګه يې شرحه کړئ.

له ټولګي څخه دباندې فعاليت

ستاسو په اند، ابومسلم ولې ابوالعباس سفاح واک ته ورساوه او خپله يې د خلافت واګې ترلاسه نه کړې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

افغانستان د عباسيانو په دوره کې

په دې لوست کې به د عباسيانو په دورې کې د هېواد په سياسي، اقتصادي او فرهنګي وضع وپوهېږو، په دې برخې کې به د طاهر فوشنجي او د برمکي کورنۍ په ونډه پوه شئ.

عباسيان د اسلام د پيغمبر د اکا (تره) عباس له اولادې څخه دي او د قريشو د بني هاشمو له قبيلې څخه شمېرل کيږي، د دويمې هجري پېړۍ په وروستيو کې د سياست ډګرته راووتل او څه وخت چې د خراسان له نا آرامې وضعې څخه خبر شول، په (۱۰۶هـ / ۷۲۲م) کې يې خپل مبلغان او دعوت کوونکي دې سيمې ته ولېږل.

د افغانستان خلکو د دوی د موخو څخه ملاتړ وکړ او د وينې په بيه يې د امويانو په ځای عباسيان په (۱۲۸هـ ./ ۷۴۹م) واک ته ورسول. د عباسيانو دوره (۵۲۳) کاله اوږده شوه اوپه پای کې د مغولو له خوا په (۶۵۶هـ./ ۱۲۴۹م.) کې د دوی خلافت ړنګ شو.

د عباسيانو په دوره کې د افغانستان مالیات کابو له څلوېښتو ميليونو درهمو څخه اويا ميليونو درهمو ته لوړشول، په همدې دليل په افغانستان کې د بزګرانو ډېر پا څونونه د عباسيانو د مالياتي زورزياتيو په وړاندې رامنځته شول. اوپه ځانګړې توګه د هېواد د شمال او لوېديځو ولايتونو خلکو ډېر کلونه مبارزه وکړه ترڅو لږ تر لږه يې ځانونه د دوی له درانه باره وژغورل.

عباسيانو نه شوای کولی د افغانستان د خلکو له سياسي او اقتصادي پاڅونونو سره په يوازيتوب برلاسي ترلاسه کړي، نوله دې امله چې په دې برخه کې برلاسي ترلاسه کړې د سيمه ييزو اشرافو او مشرانو مرسته يې ځانته را جلب کړه او دګډوګټو ترسيوري لاندې يې خپل تسلط ته دوام ورکړ.

په دې دوره کې په افغانستان کې کرنې او د اوبولګولوسيستم قانوني بڼه ځانته غوره کړه. له هريرود او د هلمند له سيند څخه نوي کانالونه او ويالې وغزيدې. په بلخ کې له (۷۰) زياتې د اوبو ژرندې او په سيستان کې بادي ژرندې جوړې شوې. په بلخ کې د غلو دانو له ډلې څخه غنم او وربشې کرل کېدې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په بادغیسات او غور کې مالداری او کرنې پرمختګ وکړ. تالقان او مرغاب د پشمي منسوجاتو د تولید مهم مرکزونه شمېرل کېدل او بلخ د سوداګرۍ عمده مرکز و. د ورېښمو صنعت او کسب هم زمور د هېواد په ځینو برخوکې دود و. په غور کې او سپنه او مس استخراج کېدل. د غور وسلو په ګاونډیو هېوادونو کې ډېر شهرت درلود. په تخارستان کې سرب او نور فلزونه، د هېواد په شمالي نورو ولایتونوکې اوسپنه، سپین زر او سره زر استخرا جېدل او همدارنګه د پنجشېر سپین زر مشهور و.

د عباسیانو شجره



د عباسیانو وروستني خلیفه

(c) ketabton.com: The Digital Library

د فرهنګ او ادب له پلوه هم د هغه وخت افغانستان د داسې ځلېدونکو شخصیتونو لرونکی و چې د ادبي او پوهنیزو آثارو په پنځولو سره یې خپل نومونه زمونږ د هېواد په تاریخ کې تلپاتې کړل. د بېلګې په توګه د موسی بن شاکر خراساني زامن هریو محمد، احمد او حسن او همدا رنګه ابو معشر جعفر بن محمد بلخي په ریاضیاتو کې لوی لاس درلود، بشار بن بدر تخارستاني شاعر او ابو زید احمد بن سهل بلخي ادیب، فیلسوف او جغرافیه پوه وو.

سوچ وکړئ او ځواب ورکړئ!

د عباسیانو په وړاندې د افغانستان د خلکو د پاڅون دلایل توضیح کړئ.

برمکیان

برمکیان په اصل کې د برمک په نامه د یوه شخص د زامنو له ډلې څخه دي. برمک د بلخ د نوبهار د زردشتي اورتون (آتشکده) راهب یا موبد و. د دې کورنۍ لومړنی مشهور شخص د برمک زوی خالد و چې د اموي وروستنی خلیفه مروان حمار په چوپړ کې و. نوموړي وروسته د عباسي ابوجعفر منصور د وزیر او سلاکار په توګه هم دنده ترسره کوله. له خالد څخه وروسته یحیی د ده زوی د دې کورنۍ پوه او متنفذ شخص ګڼل کېږي. نوموړی د مهدي له خوا د هارون الرشید د پالنې او روزنې لپاره وګمارل شو. نوموړي د هارون الرشید په زمانه کې د عباسي خلافت ټولې چارې په غاړه لرلې او له دوو زامنو سره یې د دوی لپاره کار کاوه.

څه موده وروسته هارون الرشید په دوی بدګمانه شو او په (۱۸۷ هـ / ۸۰۳م) کې یې د خلیفه د امر سره سم د یحیی زوی جعفر مړ او پخپله دی یې د کورنۍ له نورو غړو سره په بند محکوم کړل. او د برمکیانو ټول مالونه یې هم ضبط کړل.

طاهر فوشنجي (طاهر ذوالیمینین)

طاهر بن حسین فوشنجي په (۱۵۹ هـ / ۷۷۶م) کې په فوشنج یا د هرات په اوسني زنده جان کې وزیږېده. طاهر د ځوانۍ له پیل څخه په سیاسي او ټولنیزو فعالیتونو کې ګډون کاوه. نوموړی هوډمن

(c) ketabton.com: The Digital Library

سړی و. د دوو عباسي ورونو مامون او امین د اختلاف په برخه کې ده د مامون الرشید چې د بادغیسی مور څخه زیږېدلی و ملاتړ وکړ او په (۱۹۵ق / ۸۱۱ م) کې یې امین الرشید وواژه.

څه وخت چې مامون الرشید خلافت ته ورسېده. طاهر د ده له پلوه د خراسان والي وټاکل شو. طاهر په (۲۰۷ ق / ۸۲۲ م) کال کې د جمعې په ورځ همدلته د خطبې په مها ل د خلیفه نوم د خطبې څخه لرې کړ او د خپلواکۍ اعلان یې وکړ. خو په سبا ورځ په نامعلوم ډول ووژل شو. له ده وروسته د ده اولادونو په افغانستان کې د پنځوسو کلونو په مودې واکمني درلوده.

په ټولګي کې فعالیت

زده‌کوونکي دې په دریو ډلو وویشل شي، هره ډله دې بیا له لاندې موضوعګانو څخه یوه موضوع وټاکي له خبرو اترو وروسته دې د ټولګي یو تن بیا د خپلې ډلې نظریات او معلومات نورو غړو ته وړاندې کړي.

- د عباسیانو په دوره کې د افغانستان سیاسي وضعیت.
- د عباسیانو په دوره کې د افغانستان اقتصادي وضعیت.
- د عباسیانو په دوره کې د افغانستان پوهنیز وضعیت.

پوښتنې

۱- عباسیانو څه وخت او څه ډول خپل سیاسي فعالیتونه په افغانستان کې پیل کړل؟

۲- طاهر څوک و او څه ډول واکمنۍ ته ورسید؟

۳- برمکیان د کوم ځای وو او په څه ډول یې د عباسیانو دربار ته یې لار ومونده؟

٤- ستاسو په اند ولې هارون الرشید په برمکیانو بدګمانه شو؟

له ټولګي څخه دباندې فعالیت

په افغانستان کې د امویانو او عباسیانو کړه وړه، ورته والی او توپیرونه په لنډ ډول سره پرتله کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د عرب مسلمانانو او د افغانستان د خلکو پریوبل اغیزې

په دې لوست کې به زده کړو چې اسلام په څه ډول زموږ خلکو ته اسلامي هویت ورکړ، یووالی یې وروبښه او د پوهې دروازې یې ورته خلاصې کړې او په بدل کې زموږ د هېواد خلکو او پوهانو د اسلام د پرمختګ په لاره کې څه قربانۍ ورکړې او اسلامي نړۍ ته یې څه پوهنیز او فرهنګي خدمتونه وکړل؟

د اسلام د سپیڅلي دین په راتګ او خپریدو سره، زموږ د هېواد تاریخ یو نوي پړاو ته ورننوت؛ ځکه اسلام مونږ ته نوی اسلامي هویت وبښه او دغه اسلامي هویت زموږ د خلکو د یووالي سبب شو او ټول قومونه او قبیلې د یوه دین او عقیدې خاوندان شول. همدارنګه د اسلام دین د پوهې د لاسته راوړلو په لاره کې خنډونه او د پوهې انحصار له منځه یووړ نو په دې دلیل پوهې او زده کړې پراختیا وموندله.

همدا چې زموږ خلکو په لومړۍ هجري پیړۍ کې اسلام ومانه د عربی ژبې په زده کړه او ديني علومو لکه قران شریف، حدیث، او فقې په تحصیل کې یې لوی لوی بریالیتوبونه تر لاسه کړل او تردرېیمې پیړۍ پورې یې ډېر مشهور پوهان لکه نعمان بن ثابت چې امام اعظم ابو حنیفه رحمه الله شهرت لري، امام احمد بن حنبل مروزي، ابو داوود سجستانی (سیستاني) او داسې نور تر دریمې هجري پیړۍ پورې رابنکاره شول چې د اسلام د دین لپاره یې د قدر وړ خدمتونه وکړل.

همدارنګه په دې دورې کې سیستاني عالمانو او پوهانو له دې سیمې نه سر پورته کړ او د پوهې په بېلابېلو څانګو کې یې تآلیفات رامنځ ته کړل. په دې څای کې د ځینو هغو لیکوالانو یادونه اړینه بولو چې د دویمې هجري پیړۍ له نیمایي څخه یې د کتابونو په لیکلو پیل وکړ:

ابو زید بلخي ادیب او جغرافیه پوه، ابو مشعر بلخي ریاضی پوه، محمد بن موسی د هندسې عالم بشار بن برد، تخارستانی شاعر او ابو نصرفارابی (چې د لرغوني نړۍ د طب، جغرافیې، فلسفې، نجوم او ادبیاتو تر ټولو لویو عالمانو له ډلې څخه شمېرل کیږي) څخه عبارت دي. د دوی له آثارو څخه ځنې په اتلسمه او نولسمه پیړۍ کې په اروپا کې د نړۍ ژوندیو ژبو وژباړل او بیا خپاره شول.

زموږ خلکو د خپلو پیاوړو کورنیو او خلکو په واسطه د افغانستان تهذیب د خپلو ژباړونکو په وسیلې عربي ټولنې ته او د اسلام تمدن یې نړۍ ته وړاندې کړ. د برمکیانو کورنۍ په دویمې هجري پیړۍ کې د طب په برخې کې د (منکه) کتاب، د نجوم او فلکیاتو په برخه کې د (سند هند) کتاب او د سند بادکیسه عربي ته وژباړله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدارنګه زمونږ خلکو د اسلام د پراختيا او خپرېدو په لاره کې ډېرې قربانۍ ورکړې او اسلام يې د هېواد تر خټيځو پولو يعنې هند پورې خپور کړ.

په دې ترتيب د عربي مسلمانانو او زمونږ د هېوادوالو ترمنځ اغېزې دوه اړخيزې وې. اسلام زمونږ خلکو ته نوی اسلامي هويت ورکړ، يووالی يې وروبانبه د پوهې دروازې يې زمونږ پرمخ پرانيستې. په بدل کې د افغانستان خلکو هم د علمي او فرهنګي خدمتونو او همدارنګه د وينې په بيه يې د اسلامي تمدن او د اسلام د خپرېدو په لاره کې فعاله ونډه واخيسته او په ځانګړې توګه پوهانو او عالمانو په دې برخه کې ارزښتناکه ونډه درلوده.

په ټولګي کې فعاليت

زده‌کوونکي دې په دوو ډلو وويشل شي، يوه ډله دې د عربي مسلمانانو اغېزې زمونږ په هېواد والو او دويمه ډله دې زمونږ د هېوادوالو اغېزې په عربي ټولنه او اسلامي نړۍ کې تر خبرو اترو لاندې ونيسي او د خبرو اترو پايلې دې له دوی څخه يو تن بيا نورو ټولګيوالو ته وړاندې کړي.

پوښتنې

۱- د عربي مسلمانانو او د افغانستان د خلکو تر منځ ګډې اغېزې څه ډول وې؟ په دې هکله خرګندونې وکړئ.

۲- زمونږ د هېواد پوهانو او عالمانو اسلامي نړۍ ته کوم خدمتونه کړي دي؟ په لنډه توګه يې بيان کړئ.

۳- ستاسو په اند د بلخ برمکي ډلې د اسلام په تمدن کې کوم مقام درلود؟ په دې هکله خرګندونې وکړئ.

له ټولګي څخه دباندې فعاليت

افغانستان ته د اسلام تر ټولو مهم خدمت په هکله يوه مقاله وليکئ او تر راتلونکي لوست مخکې يې وړاندې کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دويم څپرکی

په افغانستان کې د اسلام له راتلو وروسته خپلواک حکومتونه

په دې څپرکي کې به د هغو حکومتونو سره پیژندګلوي تر لاسه کړئ چې افغانستان ته د اسلام له راتګ څخه وروسته جوړ شول.

په بلخ ولایت کې د حضرت علي (کرم الله وجهه)روضه

د هرات ستر جامع جومات

(c) ketabton.com: The Digital Library

د څپرکي موخې

۱. د اسلام څخه وروسته له سیمه ییزو واکمنو کورنیو او د هغوی د حکومتونو د رامنځته کېدلو له لاملونو سره د زده‌کوونکو بلدول؛

۲. له درېمې نه تر اوومې هجري پیړۍ پورې د هېواد د خپلواکۍ غوښتونکو څېړو سره د زده‌کوونکو بلدول؛

۳. په هېواد کې د سیمه ییزو حکومتونو یو له بل سره د اړیکو او د بغداد د خلافت سره د هغوی اړیکو په څرنګوالي د زده‌کوونکو بلدول؛

٤. زمونږ په هېواد باندې د تیموریانو او مغولو د یرغلونو د علتونو او انګیزو څېړل او همدارنګه د هغو په پایلو باندې د زده‌کوونکو پوهیدل؛

۵. له درېیمې نه تر لسمې هجري پیړۍ پورې زمونږ د هېواد له عمومي اقتصادي او فرهنګي وضعې سره د زده‌کوونکو بلدول؛

٦. زده‌کوونکي دې د تاریخي نقشو او اطلسونو څخه کار واخیستلای شي؛

۷. په یاده شوې دورې کې د هېواد له تاریخي او فرهنګي څېړو، عالمانو او پوهانو سره د زده‌کوونکو بلدتیا.

(c) ketabton.com: The Digital Library

طاهريان او صفاريان

ايا پوهېږئ چې له اسلام څخه وروسته د خپلواکۍ هڅه لومړی طاهر فوشنجي تر سره کړه او وروسته د طاهر د نيمه خپلواک دولت د منځته راتلو څخه صفاريانو د عباسي خلافت څخه د خپلواکۍ اخيستلو په لاره کې د پام وړ کارونه کړي؟



زمور د هېواد په تاريخ کې د طاهريانو او صفاريانو هغه دوه دولتونه و چې له عباسيانو سره يې مخالفت کاوه. که هر څومره طاهريان د حکومت تر پايه په نيمه خپلواکه توګه پاتې شول خو صفاريانو د دوی په پرتله خپلواکه سياست غوره کړ او په همدې علت د عباسي خلفاو سره په شخړو کې ښکيل شول. د ملي فرهنګي هڅو له پلوه هم صفاريان د ملي فرهنګي ملاتړ لرونکو څخه شمېرل کېږي. په دې لوست کې به له پورته مطالبو سربېره د دې دوو کورنيو د هغه وخت له ډېرو نورو سياسي، اقتصادي او فرهنګي موضوعاتو څخه خبر شئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

طاهريان

د دغې کورنۍ نوم د حسين د زوی طاهر له نوم څخه اخيستل شوی چې اصلاً د پوشنګ يا فوشنج (د هرات زنده جان) اوسېدونکي دي او د هرات له لرغونو کورنيو څخه شمېرل کيږي. د طاهر نيکه (مصعب) په عباسي نهضت کې ګډون وکړ نو څه وخت چې عباسيانو بری وموند، د پوشنګ د ښار مشري يې ده ته وسپارله.

له دې وروسته دا مقام د دوی په کورنۍ کې پاتې شو او طاهر هم د ځوانۍ په پيل کې دا دنده لرله.

طاهر د دوو وروڼو هر يو امين او مامون د اختلاف په مسئله کې د عباسي مامون پلوي وکړه او د امين له وژلو څخه يې وروسته د مامون خلافت ته زمينه برابره کړه. که څه هم طاهر وروسته له دې د عباسي خلافت په لوړو مقامونو کې دندې ترسره کړې، خو تل به دا سوچ ورسره و چې د مامون د ورور (امين) د وژلو په مسئلې کې خليفه راته په غوسه نه شي نو په همدې دليل يې نه غوښتل چې په بغداد کې زيات پاتې شي. او له بله پلوه په (۲۰٤ ق) کال کې له خراسان څخه بغداد ته د مامون په راتلو سره، نوموړي بايد دغه سيمه يوه تکړه کس ته سپارلې وای، ترڅو د عباسي خلافت پر وړاندې احتمالي پاڅونونه وځپي او د مامون الرشيد په نظر طاهر وړکس و. نو له دې امله خراسان ته د طاهر د راتلو دلايل په لاندې توګه وړاندې کولای شو:

۱- د خراسان سيمه د طاهر په ځپر د يوه پياوړي او تکړه سړي په شتون کې د عباسي خلافت ضد پاڅونونو څخه خوندي پاتې کېدله.

۲- طاهر چې د مامون د ورور (امين) او په عباسي خلافت کې د امين د نورو پلويانو په وژلو يې په بغداد کې ځانته د اوسېدو ځای نه ليده، نو دايې ښه وګڼله چې له بغداد څخه ليرې وي.

۳- طاهر د خراسان د مشرۍ په منلو سره، د مامون د ملاتړې عوض ترلاسه کاوه.

نو په دې ترتيب طاهر په (۲۰۷ ق / ۸۲۲ اکټوبر) کال د ذالقعدې په مياشت کې د مامون څخه د خراسان حکومت د مشرۍ فرمان ترلاسه کړ. په دې هکله ويل کېږي: چې عباسي خليفه په پټه سره د طاهر دکړو وړو د څارلو لپاره يو څوک ګمارلی وو. او هغه وخت چې نوموړي له عباسي خلافت څخه د خپلواکۍ نيت څرګند کړ، د ده کارېې يو طرفه کړ او له پښو يې وغورځاوه.

برسېره پردې چې د لمانځه له خطبې يې د مامون نوم ايسته کړ په هغو سکو کې هم د عباسي خليفه نوم نه ليدل کيږي چې د (۲۰٦ ق) کال څخه را پاتې دي. او دا د حسين د زوی (طاهر) مينه دخپلې سيمې د خپلواکۍ په باره کې ښيي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د طاهر زامن

د بغداد له دربار سره د طاهر د زامنو اړیکې د طاهر په پرتله ښې وې، د طاهر له مړینې سره جوخت د ده زامنو هر یوه عبدالله او طلحه په عراق او خراسان کې ښه منصبونه ترلاسه کړل. له دې وروسته داسې ریوټ نه دی اورېدل شوی چې له خپلواکۍ سره د طاهر د اولادونو مینه وښیي.

له طاهر وروسته د طاهریانو د حکومت ترټولو لویه سیاسي ځانګړتیا د بغداد د عباسي خلافت څخه ملاتړ او مرسته شمېرل کیږي. او دوی د عباسي خلفاوو د خدمت لپاره ملاوې تړلې وې او په دې توګه د عباسیانو او طاهریانو ترمنځ اړیکو دوام وموند.

هغه پاڅونونه به چې قصداً د عباسي خلافت پر وړاندې د خوارجو یا علویانو له خوا ترسره کېدل د طاهریانو له خوا به ځپل کېدل.

په افغانستان باندې د طاهر زامنو (۵۵) کاله واکمني وکړه خو دغه واک بیا صفاریانو په سیستان کې له طاهریانو څخه تر لاسه کړ چې وروسته بیا په افغانستان کې د دوی د واک او حکومت پراختیا د طاهریانو دولت د له منځه وړلو لامل وګرځېده او د دې کورنۍ وروستی سړی محمد بن طاهر په نوموړی (۲۵۹ ق) کال کې د یعقوب لیث صفاري له خوا ونیول شو او د نوموړي ساه په زندان کې وختله.

طاهري مشران

طاهر بن حسین (۲۰۶ – ۲۰۷ق)

طلحه بن طاهر (۲۰۷ – ۲۱۳ ق)

عبدالله بن طاهر (۲۱۳ – ۲۳۰ق)

طاهر بن عبدالله (۲۳۰ – ۲۴۸ ق)

محمد بن طاهر (۲۴۸ – ۲۵۹ق)

صفاریان

یعقوب د صفاري حکومت بنسټګر او د ده درې وروڼه هر یو عمرو، علي او طاهر د لیث زامن وو. پلار یې په سیستان کې د صفارۍ یا ټټارۍ په کسب بوخت و. او په همدې دلیل دوی د صفاریانو (ټټارانو) په نوم مشهور شول.

سیستان د دریمې هجري پیړۍ په لومړۍ نیمایي کې د بېلابېلو ټولنیزو ډلو د رامنځته کېدو شاهد و. پرته له خوارجو چې افراطي ډله شمېرل کېده بله ټولنیزه ډله، عیاران نومېدله چې د ټولنې د ټیټې او بیوزلو خلکو په منځ کې د ډېر نفوذ لرونکې شوه او یعقوب چې پخپله هم د ټولنې د ټیټې طبقې څخه و په ځوانۍ کې له دې ډلې سره یو ځای شو او د خپلې ورټیا او لیاقت په مټ ډېر ژر د دې ډلې د افسرۍ او مشرۍ درجې ته ورسېد، د سیستان خلکو د (۲۴۷ ق کال د/ ۸۶۱ م) ورسره بیعت وکړ، له هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

د صفاریانو دولت



وروسته یعقوب لیث صفاري زمور د هېواد د ډېرو سیمو په نیولو پیل وکړ.

یوله هغو علتونو څخه چې په سیستان کې پې د یعقوب بریالیتوب ته مرستندوی واقع شو هغه د ده له لښکرو سره دګڼ شمېر خوارجو یوځای کېدل وو چې ده د هغوی په ملګریتوب ټول سیستان چې مهم ښارونه پې بُست او کندهار وو ونیول، دغه راز د کرمان، هرات او کابل ښارو ته پې هم ونیول او په دې خاطر چې مخالفان له ده سره یوځای شول نو له دې امله د ده تر ولکې لاندې سیمو کې ښه امن رامنځته شو. نوموړي په (۲۴۹ ق ۸۷۲م) کال کې د طاهري حکومت مرکز نیشاپور ونیو خو ونه توانېده چې د اېران په شمال کې طبرستان هم تر ولکې لاندې راولي.

د یعقوب او عباسي خلیفه اړیکې

په خلافت کې د انقلاب او بیلابیلو پاڅونونو له امله د خلافت د واکمنۍ په سیمو کې او همدارنګه د عباسي دربار په د ننه کې د ترکانو نفوذ، د عباسي خلفاوو ځواک کمزوری کړی و؛ نو ځکه یعقوب لیث صفاري د اسلامي قلمرو ځینې سیمې تر خپلې ولکې لاندې راوستې او خلیفه د ده امارت له منلو پرته بله لاره نه لیده.

یعقوب لیث صفاري هم چې د عباسي خلیفه له دې دریځ څخه خبر و، د خپل حکومت د نفوذ د سیمې د پراختیا په خاطر له خلیفه سره له درنښته ډک چلند کاوه. او ځینې وخت به پې ډالۍ هم

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورلېږلې. لکه چې يو ځل يې ډېرې قيمتې ډالۍ د پنځوسو په شمېر د سرو اوسپينو زرو بتان چې له کابل څخه لاسته ورغلي وو، خليفه معتمد عباسي ته ولېږل او معتمد هم د خپل ورور (موفق) په واسطه د بلخ، تخارستان، سند او سيستان د حکومت فرمان ورولېږه. خو وروسته له دې، يعقوب په (٢٦٢ هـ / ٨٦٧م) کال هغه وخت چې غوښتل يې خپله واکمني د عباسي خلافت تر لمنې ورسوي او د بغداد د اداري غوښتونکی شو نو له عباسي خليفه سره په جګړې کې ښکيل شو. او په پايله کې د خليفه د ورور (موفق) د چل په واسطه چې د دجلې اوبه يې په صفاري لښکرو ورخوشې کړې او هغوی يې له ډېرې سختې ماتې سره مخ کړل له دې وروسته عباسي خليفه د صفاريانو دمخالفينو يعنې سامانيانو د ملاتړ سياست ځانته غوره کړ.

د صفاريانو د حکومت پای

يعقوب ليث صفاري د عباسي خليفه له خوا د ماتې نه څه موده وروسته، په (٢٦٥ ق / ٨٧٩م) کال کې مړ شو، له هغه وروسته د ده ورور عمرو د واکمنۍ ډګر ته راووت. که هرڅو د عمرو او د بغداد د حکومت اړيکې په لومړي سر کې څه نا څه ښې وې او هغه قيمتي ډالۍ د خليفه لپاره ورولېږلې خو دغه اړيکې تر ډېرې مودې پاتې نه شوې دا ځکه چې عباسي خلافت په اصل کې له صفاريانو سره د زړه مينه نه لرله او د نومورې د اطاعت په هکله يې شک درلود. ځکه په (٢٧١ق ٨٨٤م) کال کې د بغداد خليفه د خراسان حاجيان ځانته وروغوښتل او د هغوی ترمخ يې دغه اعلان وکړ چې عمرو ليث صفاری مې له ټولو مقامونو او منصبونو څخه لېرې کړی دی. دغه مسئله له يوه پلوه د صفاريانو په سيمې کې پاڅونونه رامنځته کړل او له بل پلوه د صفاريانو کمزورۍ ته يې لاره اواره کړه. په دې ترڅ کې، په ماوراُلنهر کې د سامانيانو واک چې د بغداد د عباسي خلافت له ملاتړ څخه هم برخمن وو، د عمرو ليث صفاري وېره يې لازياته کړه. نو له دې امله يې د هغوی د مقابلې لپاره ترتيبات ونيول او په (٢٨٧ ق/ ٩٠٠م) کال کې د دوی په وړاندې جګړې ته ووت. خو بلخ ته نژدې د اسماعيل سامانې د لښکرو له خوا يې ماته وخوړه. امير اسماعيل سامانې نومورې بغداد ته د خليفه معتمد حضور ته ولېږه هلته زنداني شو او په (٢٨٩ق) کال کې ووژل شو.

له دې وروسته د صفاريانو پاتې خلکو يوه پېړۍ په سيستان کې واکمني وکړه او د دوی وروستی مشر د خلف ابن احمد په نامه په (٣٤٤ - ٣٩٩ ق/ ٩٥٥- ١٠٠٨ م) کال کې د سلطان محمود غزنوي له خوا ووژل شو.

د طاهريانو او صفاريانو په دوره کې اقتصاد او فرهنګ

په هغه وخت کې زمور د خلکو د اقتصاد اصلي بنسټ کرنې تشکيلاوه. او د کرنې کار ته پاملرنه د طاهري مشرانو، په تېره بيا د طاهر د زوی عبدالله له مهمو او مثبتو اقداماتو څخه و.

ځکه ده برسېره پردې چې د کښتونو د له منځه وړلو په برخه کې به يې د خپلو عسکرو مخه نيوله، د

(c) ketabton.com: The Digital Library

کرکیلې د ښه والي لپاره يې ځينې ارزښتناک کارونه هم ترسره کړل. عبدالله بن طاهر د اوبو لګولو سيستم د جوړولو په برخه کې د ټولو په سرکې يادولای شو. زمونږ د هېواد مشهور تاريخ ليکونکی عبدالحی بن ضحاک ګردېزي د رپورټ له مخې، نومورې د خراسان ټول فقها راغونډکړل او له هغوی څخه يې وغوښتل چې د اوبو لګولو په برخه کې شرعي موازين وضع کړي او دوی د (کاريزکتاب) يا (کتاب القنی) په نامه يو کتاب وليکه. دغه موضوع زمونږ په هېواد کې د ډېرو کارېزونو او همدارنګه د پر مختللي اقتصاد ښودونکی دی. دغه ذکر شوي کارېزونه زياتره د پردیو د يرغلونو په پايله کې ړنګ شول.

همدارنګه د عبدالله بن طاهر په توصيو او سپارښتنو د ښارونو کارګرانو (کارپوهانو)ته د کرنې په هکله سپارښتنه شوې ده. طلحه بن طاهر هم د کرنې په وده کې د خپل ورور د سياست پلوي و. په پايله کې په اقتصادي برخه کې د پام وړ ښه والی راغی. بېلابېلې مېوې او غلې کېدلې، همدا رنګه د هرات انګورو، با دامو او پستې، د سيستان خرما، د بست زعفران او د بلخ او مروې انارو ډېر شهرت درلود او زمونږ هېواد ته يې ښه شتمني برابره کړه. خو صفاريانو د پاچاهۍ ډېر وخت په جګړو او همدارنګه د سيمو او ايالتونو د لاسته راوړلو په برخه کې تېرشو د هېواد د اقتصاد لپاره يې روښانه پروګرام نه درلود خو په فرهنګي برخه کې د ملي ادبياتو مينه وال و، او دا يې غوره ګڼله چې پارسي ژبه بايد د عربي ژبې او ادبياتو ځای ونيسي.

ويل کېږي چې يعقوب ليث صفاري د پيغامونو مدير مسؤول محمد بن وصيف سګزي څخه وغوښتل چې د عربي ژبې په ځای په پارسي ژبه شعر وليکي. نومورې د يعقوب په ستاينه کې يوه پارسي قصيده وليکله. خو طاهريانو عربي ژبه ومنله، د طاهر يو زوی طلحه پخپله د عربي ژبې د نحوې عالم و. د طاهري امراو له ډلې څخه يو څو نور هم د پوهانو او ادیبانو د ملاتړ په برخه کې مشهور وو.

په ټولګي کې فعاليت

زده‌کوونکي دې د الف او ب په دوو ډلو کې د طاهريانو فرهنګي او اقتصادي خدمتونه وشمېري.

پوښتنې

۱- خپل اصلي سيمې ته د طاهر د راګرځېدو مهم دليل څه دی؟

۲- ايا د عباسي خليفه په وړاندې د طاهر سياست د ده د اولادونو له خوا وپالل شو؟

۳- د يعقوب ليث صفاري د کار په پيل کې، د ده د شهرت علت څه و؟

٤- د طاهريانو په دوره کې کرنې او زراعت ولې وده وکړه؟

له ټولګي څخه دباندې فعاليت

زده‌کوونکي دې د خپل هېواد تاريخ او فرهنګ ته د طاهر او يعقوب د خدمتونو په هکله يو لنډ مطلب چمتو او په راتلونکي لوست کې دې خپلو ټولګيوالو ته وړاندې کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سامانیان

په دې لوست کې به د سامانیانو د واکمنې کورنۍ سره آشنا شئ هغه چې د بغداد د عباسي خلفا وو د سیاست په ملاتړ یې په افغانستان او د هغه د اوسنیو ګاونډیو هېوادونو په ساحه کې یو پیاوړی او پراخ حکومت رامنځته کړ او په دې به هم وپوهېږئ چې د دوی د واکمنۍ په مهال ولې زمونږ هېواد له علمي او فرهنګي غورېدا سره مخ شو؟

سامانیان د ختیځو اصلي کورنیو له ډلې څخه دي چې ریښه یې له اسلام څخه مخکې وختونو ته رسېږي. دوی د عباسي خلفاوو په پلوۍ خپل سیاسي موقعیت د افغانستان، ایران او مرکزي آسیا په اسلامي ختیځ کې ټینګ کړ. سره له دې چې سامانیانو له خلفاوو سره ښې اړیکې لرلې خوبیاې هم مالیات او خراجونه بغداد ته نه لېږل. د دوی د حکومت شکل ((امارت استکفا استیلا)) (معنا دا چې خلیفه د عزل او نصب، د مالیاتو اخیستل، د ځایناستي ټاکلو او ... کې به لاسوهنه نه کوي) پیژندل شوی دی. د سامانیانو دوره د اسلامي فرهنګ او تمدن د غورېدنې دوره بللی شو. په ځانګړې توګه عقلي علومو د دوی په دوره کې ډېره وده وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سامانيان

سامانيان د سامان خدات په نامه د يوه سړي له نوم څخه اخيستل شوي دي. زمونږ د هېواد د مشهور تاريخ ليکوونکي عبدالحی گردېزي په وينا سامان خدات له مغان يا زردشتي روحانيونو څخه شمېرل کېږي او د ماوراءالنهر په څنډو کې يې استوګنه کړې ده.

د سامان خدات پلرونه له اسلام څخه د مخه د ماوراءالنهر له مشرانو څخه وو. او له اسلام څخه وروسته هم په ماوراءالنهر کې د رسوخ او نفوذ خاوندان وو. سامان خدات د اموي هشام بن عبدالملک په زمانې کې مسلمان شو او د اسد بن عبدالله په نامه د خراسان د اموي حاکم تر ملاتړ لاندې راغی. نوموړي وروسته د ابو مسلم خراساني په نهضت کې برخه واخيسته او د ابومسلم له ملګرو څخه شو. چې په عباسي دولت کې يې هم د ښه نوم ازانګې پورته شوې.

د دويمې هجري (اتمې ميلادي) پېړۍ په پای کې هغه اختلاف چې د هارون الرشيد د زامنو تر منځ د ځايناستۍ په مسئله کې رامنځته شو، مامون الرشيد سره په مروه کې خلکو بيعت وکړ مامون الرشيد له ځينو بانفوذه کورنيو لکه طاهريانو او سامانيانو څخه د مرستې غوښتنه وکړه او د دوی د مرستې په بدله کې يې بيا وروسته ډېر مهم حکومتي مقامونه دوی ته وسپارل. له همدې وخته وروسته د عباسيانو او سامانيانو تر منځ اړيکې سره نژدې شوې او څه وخت چې مامون الرشيد له مروې څخه بغداد ته لاړ نو د عباسي خلافت په ختيځ کې يې د څلورو مهمو ښارونو مشري د سامان څلورو زامنو ته وسپارله: نوح بن اسدته يې سمرقند، احمدبن اسد ته يې فرغانه، يحيی بن اسدته تاشکند او الياس ته يې هرات وسپاره.

د صفاريانو په را څرګندېدو سره چې د بغداد له خلافت سره يې چندان ښې اړيکې نه لرلې. د بغداد د خلفاوو او سامانيانو اړيکې يوې نوې مرحلې ته د اخلې شوې او د بغداد خلافت چې د مخالفينو د شتون له امله يې د سامانيانو ملاتړ ته اړتيا لرله، هڅه يې کوله چې د دوی حکومت ته په غاړې اېښودو سره، سامانيانو ته سياسي مشروعيت ورکړي. سامانيانو هم چې دې ډول تائيد ته اړتيا لرله نو د خلافت په تائيد سره يې د عامو خلکو په ذهنونو کې ډېر ښه ځای ونيو.

د سامانې لړۍ لومړی بنسټګر، اسماعيل

د سامانې لړۍ بنسټګر اسماعيل بن احمد بن سامان خدات دی. نوموړی په (۲۳٤ق، ۸٤۸ م) کال په فرغانه کې وزېږېد. امير اسماعيل په پوره ډول، په ماوراءالنهر کې هغه وخت واکمنې ترلاسه کړه چې د ده ورور (نصر) په (۲۷۹ق، ۸۹۲ م) کال کې مړشو خو د ده شهرت او اعتبار هغه وخت

(c) ketabton.com: The Digital Library

د بخارا په ښار کې د امیر اسماعیل سامانې قبر

زیات شو چې صفاریانو ته یې په جګړه کې ماتې ورکړه او عمرو بن لیث صفاري یې ونیوه. دغه پېښه د (۲۸۷ق/ ۹۰۰ میلادي کال د اپریل ۱۹م) کې د ربیع الاول په ۱۵ ق رامنځته شوه. وروسته له دې پېښې یې عباسي خلیفه معتضد ته د حکومت فرمان ولېږه، څکه چې د صفاریانو (د خلافت له اوامرو څخه د سرغړوونکو) په ماتې سره سامانیانو په عباسي خلافت کې ډېر محبوبیت ترلاسه کړ.

امیر اسماعیل سامانې د عباسي خلافت د ملاتړ په لاره کې د نورو مخالفانوسره هم جګړې وکړې لکه د طبرستان له علوي ساداتو سره یې جګړه وکړه او د هغوی مشر محمد بن زید علوي یې وواژه، طبرستان او ری (اوسنی تهران) او لرې وروسته یې زنجان او قزوین هم ونیول اوبه دې ترتیب یې د خپلو فتوحاتو لمنه له افغانستان څخه واړوله او د اوسني ایران ترلویدیځو څنډو ورسېد.

د امیر اسماعیل سامانې په وخت کې، د سامانې دولت پلازمېنې یعنې د بخارا ښار ښه پرمختګ وکړ او په ختیځ کې د اسلامي ښارونو په یو مهم مرکز بدل شو. امیر اسماعیل کابو له اتو کلونو امارت وروسته، په (۲۹۵ق، ۹۰۷ م) کال مړ شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د امیر اسماعیل ځایناستی

د امیر اسماعیل زوی دویم احمد د ده ځایناستی شو. د ده د واکمنی په دورې کې چې پنځه نیم کاله اوږده شوه، د سامانې دولت عسکرو په سیستان کې د صفاریانو د پاتې شوو او همدارنګه په ماوراءالنهر کې یې له ترکانو سره نښتې وشوې. په دې نښتو کې سامانې دولت بری وګاټه خو احمد سامانې ډېر ژر په (۳۰۰ق- / ۹۱٤ م) کې د خپلو مریيو له خوا ووژل شو. وروسته له ده څخه د نوموړې زوی (نصر) واکمنی ته ورسېد. که هر څو د نوموړې د پاچاهۍ پیل په هغو ولایتونو کې چې د سامانې دولت تر ولکې لاندې وو، له شخړو سره لاس اوګریوان و خو نوموړې د خپل عالم او تکړه وزیر (ابوعبدالله جیهاني) او د لښکرو د وفادار مشر (حمویه بن علي) په مرسته ببرته خپل هېواد ته امنیت او ثبات راوست. په اصل کې د نصر د پاچاهۍ دوره (۳۰۱ نه تر ۳۳۱ ق / ۹۱٤ نه تر ۹٤۲ م) کلونو کې د سامانې لړۍ د حکومت د دبدبې د اوج دوره وه.

د نصر له مړینې وروسته سامانې حکومت تر (۳۹۵ ق / ۱۰۰۵ م) کال پورې پاتې شو اوپه دې موده کې اوه تنه سامانې مشران واکمنۍ ته ورسېدل. خو د سامانې دولت ځوړتیا هغه مهال پیل شوه چې زیات واک سیمه ییزو مشرانو ته په لاس ورغی. له دې مشرانو څخه یو هم الپ تګین نومېده چې په لومړیو کې د ترک غلامانو څخه و. نوموړې په غزنه کې په (۳۵۱ ق/ ۹٦۲م) کال کې د ترک مریيو په ملاتړ د غزنویانو د نوي حکومت بنسټ کېښود. سامانې حکومت او دولت یو سلو دوه کاله او شپږ میاشتې اوږد شو.

د سامانیانو په دورې کې اقتصاد او فرهنګ

د سامانیانودوره چې د ختیځې نړۍ په تاریخ کې د اسلامي رنسانس په توګه تعبیر شوې د اقتصاد له پلوه په ځانګړې توګه زمور د هېواد له روښانه دورو څخه شمېرل کېږي. د اقتصاد او صنعت په برخه کې د پر مختګ دوه عمده لاملونه یې په لاندې توګه بیانولای شو:

لومړی د درنو مالیاتو او باجونو نشتوالی او دویم لازم کورنی ثبات او همدارنګه بهرنۍ سوله. د پورته دوه عواملو په ترڅ کې ښه اقتصادي وده رامنځته شوه. د خلکو اقتصادي وړتیا لوړه، قصرونه، باغونه او ظریفه صنایع را منځته شول. د خلکو تولیداتو وده وکړه ترهغه ځایه چې په یوه کا ل کې د سامانیانو لخوا د ټول هېواد نه څلوېښت مېلیونه درهم راټولېدل.

په هغو کشفیاتو کې چې بیا وروسته د پولنډ او سکانډیناویې هېوادونو په څنډوکې ترسره شوي، د

(c) ketabton.com: The Digital Library

سامانیانو د وخت نقره یي سکې لاسته راغلې او دا خبره څرګندوي چې د سامانې دولت او ختیځې اروپا تر منځ د سوداګریزو توکو راکړه ورکړه کیدله.

له بزګرانو څخه د سامانې دولت د ملاتړ په سیوري کې کرنې او زراعت هم ښه وده وکړه. او په ځانګړې توګه په ګڼ مېشتو سیمو لکه بادغیس، هرات، پوشنګ د سیستان ځینو برخو او بُست کې د مېوو، غلو اونباتاتو بیلابیل ډولونه پیدا کېدل. د څارویو په ځانګړې توګه د آسانو او اوښانو د ساتنې مرکزونه په تخارستان او بلخ کې موجود وو او په هرات او بُست کې ورېښم هم تولیدیدل.

که څه هم د سامانیانو سیمې ته د ترکانو راتګ او بیا لوړو حکومتي او سیاسي مقامونو ته د دوي لاس رسي، دغه پروسه څه نا څه زیانمنه کړه خو داسې رپوټ نه دی لاسته راغلی چې اقتصادي وضعه یې له خطر سره مخ کړې وي.

د فرهنګ او تمدن په برخه کې مهم یون رامنځته شو؛ ځکه د سامانیانو په لاس د یوه پیاوړي نظام د بنسټ اېښودو سره، فرهنګ او تمدن وده وکړه او د استعدادونو د راخرګندېدو لپاره مناسب چاپېریال رامنځته شو. په ځانګړې توګه د نظم او نثر په برخه کې ډېر لوی بدلون رامنځته شو.

د سامانیانو په دورې کې د پوهنو د پراختیا مهم علت، د عقیدې آزادي او همدارنګه د سامانې مشرانو حوصله او نرمي وه. په دې دورې کې له تعصبه ډکه فضا موجوده نه وه. د ببلا ببلو فکري او دیني کړنلارو او همدارنګه د نظر او فکر دخاوندانو لپاره یو ډاډمن چاپېریال موجود و. سامانې مشرانو هڅه کوله چې له ځان پالنې او عقیدتي استبداد څخه ځان وژغوري. او همدا کار د ببلا ببلو فکرونو د راخرګندېدو لامل شو. محمدخوارزمي او ابو ریحان البیروني په ترتیب سره په خپلو کتابونو (مفاتیح العلوم) او (آثارالباقیه) کې د هغه وخت د ببلا ببلو فکري او عقیدتي څانګو او ډلو څخه خبر راکوي او په (زین الاخبار) کې د عبدالحی ګردېزي په وینا، د سامانیانو د پوه وزیر ابو عبدالله جیحاني په امر د سامانې دربار د کړنلارو ټاکلو او همدارنګه د هېواد د اداري لپاره، د هغه وخت د نړۍ د ټولو دربارونو کړنلارې بې له تعصبه راټولې کړې او د دوی له منځ څخه د هغو هېوادونو قوانین غوره کړي چې پرمختللې انساني بڼه ولري. نوموړي وروسته امر وکړ چې د دربار او دېوان ټول غړي نوموړو کړنلارو عملي کولو ته غاړه کېږدي. نوله دې کبله ډېر پوهان او د فکر خاوندان وهڅېدل تر څو خپلې پوهې او فکرونه ټولنې ته وړاندې کړي.

په دې ترتیب د اسلام د تمدن طلایي دوره وځلېده او لوی اسلامي فیلسوف ابونصر محمد بن محمد فارابي، د ختیځو سیمو د حکیمانو خاتم شیخ الرئیس ابوعلي حسین بن عبدالله بن سینا، لوي متفکر

(c) ketabton.com: The Digital Library

رياضي پوه او تکړه ستوری پېژندونکی ابوریحان محمدبن احمد خوارزمي، د دري پارسي شاعرانو لوی استاد جعفربن محمد رودکي، شاعر، استاد او تکړه حکيم ابوالحسن شهيد بلخي، د امير منصور ساماني وزير او د بلعمي تاريخ ليکونکی محمد بن عبدالله بلعمي، د لومړي منصور ساماني تکړه وزير، جغرافيه پوه او (اشکال العالم) د کتاب ليکونکي ابو عبدالله احمد بن محمد جيهاني، وروسته له اسلامه د دري پارسي لومړنۍ شاعره رابعه بلخي چې پلار يې د (زينت العرب) لقب ورکړی و، او لسګونو نورو پوهانو او هوښيارانو په دې دورې کې استوګنه درلوده او کتابونه يې وړاندې کړل.

په ټولګي کې فعاليت

زده‌کوونکي دې په ډله ييزه توګه د نقشې پر مخ ساماني قلمرو او پولې په ګوته کړي او د دې دورې د پوهانو او عالمانو نومونه دې وليکي.

پوښتنې

۱- زمونږ په هېواد کې سامانيانو څه ډول سابقه لرله؟

۲- د سامان خدات اولادونو ولې لوړې حکومتي څوکۍ ترلاسه کړې؟

۳- د سامانيانو تر ټولو مشهور پاچا څه نومېده او په څه ډول يې ساماني دولت د د بدبې اوج ته ورساوه؟

٤- د بغداد د عباسي خلفاوو او سامانيانو ترمنځ څه ډول اړيکه وه؟

له ټولګي څخه دباندې فعاليت

زده‌کوونکي دې د سامانيانو د فرهنګي سياست په هکله يوه مقاله وليکي، په راتلونکي درسي ساعت کې دې ترټولو غوره مقاله د ښوونځي په تابلو کي وځړول شي، چې نور زده‌کوونکي ورنه ګټه واخلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزنويان او سلجوقيان

ترکان د هغو قومونو له ډلې څخه وو چې په مرکزي آسيا کې اوسېدل، له يادو شوو قومونو سره د سامانيانو د حکومت په دوري کې ډېرې اړيکې ټينګې شوې نو له دې کبله د ترکانو ځينې ډلې د اسلام په سپيڅلي دين مشرفې شوې او د ترکانو ځينې سرداران او مشران د سامانې دولت د چوپړ په لاره کې لوړو حکومتي مقاماتو او په ځانګړې توګه نظامي منصبونو ته ورسېدل.

يو هم له دې مشرانو څخه الپ تګين نومېده چې د سامانيانو له خوا د خراسان يا افغانستان د سپه سالارۍ دنده ورته سپارل شوې وه. نوموړې د غزنويانو د لړۍ بنسټګر بلل کېږي.

زمونږ دهېواد په تاريخ کې د ترکانو په نامه درې لړۍ (غزنويان، سلجوقيان او خوارزم شاهيان) مشهور دي. په دې لوست کې به د ترکانو دوې مهمې کورنۍ (غزنويان او سلجوقيان) وپېژنئ.



غزنويان

زمونږ په هېواد کې د غزنه (غزنين يا غزني) ښار په ځانګړې توګه هغه وخت د اهميت وړ وګرځېد چې د سامانيانو ترکي سردار الپ تګين په (۳۵۰ ق/ ۹۶۱ م) کال کې د امير عبدالملک بن نوح د

(c) ketabton.com: The Digital Library

مرګ په وخت کې په هغه توطئه کې ګډون وکړ چې غوښتل يې د خپلې خوښې شهزاده د واک ګډې ته ورسوي؛ خو ونه توانيد نو ځکه له خپلو لښکرو سره غزني ته لاړ او دغه ښار يې د خپل مرکز په توګه غوره کړ خو د غزنويانو واک د سبکتګين په نامه د يوه بل ترکي غلام په واسطه تثبيت شو. دغه سړی چې په اصل کې د مرکزي آسيا له ترکانو څخه و، له زنداني کېدو وروسته د الپ تګين له خوا و اخسيستل شو او د نوموړي د هوښيارۍ له کبله د الپ تګين د پام وړ وګرځيد، تر هغه ځايه چې د نوموړي د ساتونکو مشري ور په غاړه شوه او د الپ تګين له لور سره يې واده هم وکړ.

سبکتګين

په (۳۵۲ق/ ۹۶۳م.) کال کې د الپ تګين له مړينې وروسته د ده زوی ابو اسحاق ابراهيم درې کاله او بيا د ده وروسته بلکاتګين د لسو کلونو لپاره د غزني اداره په غاړه لرله او دوی د الپ تګين خلاف د سامانيانو سره خپلې اړيکې ټينګې کړې.

خو د غزني کمزورې اداړې او په غزني باندې د لويکيانو اونورو مخالفينو احتمالي لاس بري، ترکي افسران او سرتېري دې ته وهڅول تر څو سبګتګين د الپ تګين زوم د خپل امير په توګه وټاکي.

د نوموړي د واکمنۍ موده په (۳۶۶ق، ۹۷۶ م) کال کې پيل او په (۳۸۷ق، ۹۹۷م) کال کې د ده له مړينې سره يو ځای پای ته ورسېده او نوموړي په دې دوړې کې د غزنويانو حکومت ځواکمن کړ.

سبګتګين بُست او قصدار په خپل قلمرو کې دننه او همدارنګه د دې حملو په ترڅ کې يې د افغانستان مشهور پوه او اديب ابوالفتح بُستي هم خپل چوپړ ته حاضر کړ.

دهندوستان په لور يې هم لښکر کښۍ وکړې. چې برسېره پر دينې اعتبار غزنويانو ته ډېر غنيمتونه هم په لاس ورغلل. او د حکومت ساحه يې د هندتر جيپال پورې ورسېده.

سبکتګين د هېواد د اداړې لپاره، ايالتونه د خپلې کورنۍ د غړو ترمنځ ووېشل چې ډېر مهم ښار (نيشاپور) يې خپل زوی ابوالقاسم محمود، بُست يې بل زوی نصر او همدارنګه غزني او بلخ يې بل زوی اسماعيل ته وسپارل.

سلطان محمود غزنوي

سلطان محمود غزنوي

د سبکتګين له خوا اسماعيل (د سبکتګين د لور له خوا لمسي) ته د بلخ او غزني حکومت سپارل، د ده او محمود غزنوي (چې يو تکړه او په کار پوه سړی و)، د اختلاف لپاره يې زمينه مساعده کړه. نو په دې توګه څه وخت چې په (۳۸۷ق/ ۹۹۷م) کال کې سبکتګين مړشو، نوموړي خپل ورور له واکه لېرې کړ او د غزنوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

دولت اداره يې پخپله غاړه واخيسته. د محمود غزنوي منظم سياست په افغانستان او د هغه په شاوخوا کې د سيمه ييزو حکومتونو په له منځه وړلو ولاړ و او دې کار د ده واکمني ځواکمنه کړه. په دې توګه چې سيستان، غرجستان (هزاره جات)، ګوزګانان (جوزجان)، چغانيان او خوارزم د غزني دربار اطاعت ته غاړه کښوده.

فتوحات

زمونږ د هېواد په تاريخ کې محمود غزنوي ځکه د ستر فاتح په توګه پېژندل شوی چې ده زيات فتوحات په ځانګړې توګه د هندوستان په لورې تر سره کړي دي. نوموړي د بېلابېلو دلايلو له مخې په هندوستان باندې يرغلونه تر سره کړل، د اسلام خپرېدل او هغه قيمتي غنيمتونو چې د هندوستان په معبدونو او بت خانو کې ساتل کېدل لاسته راوړل.

د محمود غزنوي د يرغلونو په پايله کې يې په هندوستان کې د اسلام د سپېڅلي دين رېښې وغځولې او همدارنګه ډېر زيات غنيمتونه د غزنوي ترکانو سرتېروته لاسته ورغلل. په ځانګړې توګه د هندوستان په ګوجرات کې په (٤١٦ق/١٠٢٥م)کال کې د سومنات بت فتحه کړ چې د هند د ډېرو لويو او مشهورو بتانو له ډلې څخه و. د غه کار د سلطان محمود غزنوي او د ده د سرتيرو د ډېر شهرت لامل وګرځېد. د هند په لور د لشکر کښيو په اړه د پام وړ خبره دا ده چې داکار د غزنوي دولت د سرتېرو لپاره بوختيا وه چې په دې توګه غزنوي دولت له هغو خطرونو څخه په امن پاتې شو کوم چې د سرتېرو او افسرانو له پلوه ورته متوجه و. په هرحال، د سلطان محمود غزنوي فتوحات چې په هره انګېزه تر سره شوي، د هندوستان په سيمه کې په تېره بيا د اسلام د خپرېدو په برخه کې ډېر اغېزمن وو او د اسلام دين چې مخکې تر ملتانه رسېدلی و، د غزنويانو په دوره کې د هند تر ډېرو نورو سيمو پورې ورسېد.

د سلطان محمود غزنوي ځاينا ستي

سربېره پر دې چې سلطان محمود غزنوي د خپل حکومت په منځنيو کلونو کې د مسعود په هکله مناسب نظر درلود او نوموړی يې خپل وليعهد وټاکه خو د ژوند په وروستيو کلونو کې يې مسعود باندې بدګمانه شو او د ده په ځای يې خپل بل زوی (محمد) وليعهد وټاکه، د دې لپاره چې د ده زړور او مېړنی زوی (مسعود) له مرکز څخه ليرې لاړ شي نو د ری او (تهران) او جبال (د ايران لويديځ) ايالتونو مشر يې وټاکه.

سلطان محمود غزنوي په (٤٢١ ق/١٠٣٠ م) کال کې مړشو او محمد د خپل پلار په غوښتنه په غزني کې پر تخت کښېناست.

محمد له خپل ورور (مسعود) سره د واک د وېش غوښتنه رد کړه خو مسعود په بريالیتوب سره له تهران څخه د نيشاپور په لور پرمختګ وکړ او د (روژې٤٢١ق/ سپټمبر ١٠٣٠ م) کال کې هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

په غزنې کې د غزنويانو تاريخي منار

وخت چې د غزني لښکرو خبر ترلاسه کړ چې د خراسان لښکرو مسعود د پاچا په توګه اعلان کړي نو د دې خبرې په اوريدو سره يې بې له ځنډه محمد له واکه لېرې کړ.

مسعود غزنوي د خپلې پاچاهۍ په وخت کې له مخالفينو او سرغړوونکو سره زياتې جګړې وکړې.

نوموړي د خپل پلار ډېر شمېر هغه ملګري ووژل او يا يې زنداني کړل چې د ده په اند د نوموړي د ځايناستي په نه قبلولو کې يې د ده له پلا رسره سلا وه. په حکومت کولو کې يې هم استبدادي لاره غوره کړه او په خلکو يې زياتې مالیې و ټاکلې. او له بلې خوا د سلجوقي کورنۍ په مشرۍ د اغز د ترکمنانو نوي واک نوموړی لاکمزوری کړ او په پای کې په هغه جګړه کې چې په (٤٣١ق/١٠٤٠م) کال په روژې کې د يادوشوو ترکمنانو او غزنويانو ترمنځ سرخس ته نژدې د دندانقان په سيمه کې وشوه. غزنويانو سخته ماته وخوړه مسعود غزنوي له دې ځايه د غزني په لور تېښته وکړه او خرنګه چې نوموړي فکر کاوه چې د ترکمنانو تر ځارنې لاندې نه شي، نو ځکه له خپلې کورنۍ او خزانو سره د هند په لور وتښتېد. مسعود په (٤٣٢ق/١٠٤١ م) کال کې په هغه توطئه کې ووژل شو چې د نوموړي د ورور محمود له خوا ورته برابره شوې وه. له دې وروسته غزنويان د (١٣٠) کلونو لپاره په واک کې پاتې شول خو د دوی واکمني د افغانستان په ځينو سيمو او همدارنګه د بلوچستان او پنجاب په يوې برخې پورې محدوده شوه.

غزنوي پاچاهان

نوم

الپ تګين

سبکتګين

اسماعيل بن سبکتګين

سلطان محمود غزنوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

محمد بن محمود

سلطان مسعود

مودود بن مسعود

مسعود بن مودود

بهاالدوله علي بن مسعود

سلجوقيان

سلجوقيان په اصل کې د اغز له ترکمنانو څخه شمېرل کېږي چې د اتمې هجري پيړۍ په ترڅ کې يې د خوارزم (ارال) بحيرې او د سير دريا سيمې ته کډې وکړې.

دسلجوقي کورنۍ لوی نيکه دقاق(تقاق)نومېده.نوموړی د ترکي پاچاهانو په خدمت کې حاضر و او سلجوق هم د همدې (دقاق) زوی د ترک پاچاهانو په خدمت کې شپې ورځې تېرولې.

د سلجوقي دولت د واکمنې سيمې

ويل کېږي چې دی او کورنۍ يې په (۳۸۲ق./۹۹۲ م.) کال کې مسلمان شول. د سلجوق درې زامن اسرائيل، ميکائيل او موسی په نومونو د ماوراءالنهر لورته کډوال شول او هلته يې د سامانيانو خدمت ته غاړه کېښوده. خو د سلطان محمود غزنوي له خوا د اسرائيل نيول او د هندوستان کالنجر په زندان کې وروسته له اوو کلونو بند څخه د ده مرينه، د ترکمني سلجوقيانو او ترک غزنويانو تر منځ اړيکې خرابې کړلې او په ځانګړې توګه د سلطان مسعود غزنوي سياستونو دوی ته دا زمينه برابره کړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې سياسي او نظامي واکمني ترلاسه کړي. دوی په (٤٢٩ق/ ١٠٣٨م.) کال کې د خراسان مشهور ښار نیشاپور ونیو. او وروسته یې د جګړې په ترڅ کې د دندانقان په سیمه کې د سلطان مسعود غزنوي ځواکونو ته سخته ماته ورکړه، په دې جګړه کې د سلجوقیانو د جګړې مشري د میکائیل زوی طغرل بېګ په غاړه لرله چې نوموړي سربېره په نېشاپور د ماوراءالنهر، افغانستان او ایران نور مهم ولایتونه هم لاسته راوړل.

طغرل بیګ د سلجوقي حکومت د لړۍ بنسټګر ګڼل کېږي او تر (٤٥٥ق/ ١٠٦٣ م) کال پورې یې واکمني وکړه. له (٢٦) کلونو واکمنۍ وروسته د ده له مړینې سره سم د نوموړي وراره الپ ارسلان واکمنۍ ته ورسېده. نوموړي خواجه نظام الملک خپل وزیر وټاکه د دې پوه وزیر په هڅو سره یې دولت او سلجوقي نظام له ښه کورنۍ ثبات څخه برخمن شو او په بهرنۍ برخه کې یې په (٤٦٢ق/ ١٠٧٠ م) کال کې د وان او ارزروم د بحیرې په منځ کې د ملازجرد په مشهوره جګړه کې رومیانو ته ماته ورکړه. د روم قیصر دیوژن رومانوس یې اسیر او کوچنۍ آسیایې تر لاسه کړه.

الپ ارسلان په (٤٦٥ق/ ١٠٧٣م.) کال کې د خوارزم په لاره کې ووژل شو او له ده څخه وروسته د نوموړي زوی ملک شاه سلجوقي د خواجه نظام المُلک په هڅو واکمنۍ ته ورسېد. نوموړي نه یوازې په کورنیو ګډوډیو برلاسی شو، بلکې د سلجوقي دولت ترواک لاندې سیمه یې د ختیځ لورته ترچینه او لویدیځ لورته د مدیترانې ترسمندره پورې ورسوله.

د ملک شاه حکومت د خواجه نظام الملک په ایسته کولو او د تاج الملک قمي په راوستلو سره د کمزورۍ خواته روان شو او په (٤٨٥ق/ ١٠٩٢ م) کال کې د نوموړي له مړینې سره سم د ده د کورنۍ د غړو ترمنځ د واکمنۍ د لاسته راوړلو په موخه جګړې پیل شوې او دغه جګړې د دې لامل شوې چې د سلجوقیانو سیمې د شهزاده ګانو ترمنځ ووېشل شي او هر شهزاده د خپل وزیر او سرپرست چې (اتابک) به ورته ویل کېده، په مرسته ولایت اداره کاوه.

اتابکانو هم له څه مودې وروسته د خپلواکۍ خوبونه ولیدل او همدارنګه د ایران په آذربایجان او لرستان کې یې خپلواکه لړۍ رامنځته کړه. د سلجوقیانو د واکمنۍ ختیځې سیمې، افغانستان چې د سلطان سنجر تر واک لاندې راغی او نوموړي له ډېر اخ او ډب وروسته مروه خپله پلازمېنه وټاکله. خو له (٤٢) کلونو واکمنۍ وروسته په (٥٥٢ق/ ١١٥٧م) کال کې د نوموړي له مړینې سره سم، د ختیځو سلجوقیانو کورنۍ هم کړه لاره ځانته غوره کړه او څرنګه چې سلطان سنجر ځایناستی نه درلود، نو د نوموړي خوري رکن الدین محمود په (٥٥٧ق/ ١١٦٢ م) کال کې د افغانستان او ماوراءالنهر په ځینو برخو واک وچلاوه. خو په دې کال کې د یوه سلجوقي سردار له خوا ونیول شو او بیا ړوند شو.

له دې وروسته افغانستان او ماوراءالنهر د غوري او خوارزم شاهي پاچاهانو ترمنځ د کړکېچونو ډګر شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د سلجوقيانو د دورې يو اثر

په دې دورې کې اقتصاد او فرهنګ

د محمود غزنوي فتوحاتو په ځانګړې توګه سر بېره د اسلام د دين په خپرېدو ډېره شتمني يې هم غزنويانو ته ورکړه؛ ځکه د دې يرغلونو په ترڅ کې ډېر غنيمتونه د دوی په برخه شول. چې د دې شتمنيو په وسيله د غزني ښار ودان او آباد شو، د غزني په ښار کې ډېر جوماتونه، کتابتونونه او مانۍ ورغېدې. د غزني جومات د دبدبې په هکله ويل کېږي چې د بغداد له جومات سره برابر و.

د غزنويانو په وخت کې د مانۍو جوړول هم دود وو او ويل کېږي چې سلطان مسعود غزنوي يوازې د اوو ميليونو درهمو په بيه يوه مانۍ جوړه کړه چې د ودانۍ او جوړولو کارونو يې څلورو کلونو پورې دوام وکړ. د پلونو جوړولو په برخه کې هم د پام وړ کارونه تر سره شول او د سلطان محمود غزنوي له خوا د جيحون رود پر سر د زنځيرونو د پيوسته کولو په واسطه په (۱۶-۴۱۵ق/۲۵-۱۰۲۴م) کال کې د زورقي پله جوړول د غزنويانو د دورې له غوره نوښتونو څخه ګڼل کېږي.

زمونږ په هېواد کې د کرنې په برخه کې د غزنويانو څخه د مخکښو دورو په پرتله زيات توپير ترسترګونه شو خو د غزنويانو له خوا د حاصل خيزو ولايتونو لاندې کولو او د پريمانه غنيمتونو لاسته راوړلو د غزنوي دولت د عوايدو کچه لوړه کړه دغه عوايد په کال کې څه د پاسه سلو مېليونو درهمو ته ورسېد.

له فرهنګي پلوه د غزني د ښار پرمختګ، د علومو د غوړېدو او دودېدو عامل وګرځېد، په داسې کچه چې د سلطان محمود غزنوي په وخت کې د غزني ښار د دارالعلم حکم ترلاسه کړ او ويل کېږي چې د پوهانو سربېره د ده په دربار کې څلور سوه شاعران هم اوسېدل.

د غزنويانو دورې د نامتو پوهانو اوشاعرانو له ډلې څخه د لاندې کسانو نومونه د يادونې وړ دي. د نجوم، ځمکپوهنې او عقايدو په برخه کې نامتو پوه ابوريحان البېروني، رياضي پوه ابوالحسن علي بن احمد نسوي، ابوالقاسم حسن عنصري، ابوالنجم احمد منوچهري، عبدالعزيز عسجدي مروزی او ابوالقاسم فردوسي او سلجوقيان هم سره له دې چې د فرهنګ او تمدن له پلوه بېرته پاتې وو او تراوسه يې خپل قبيلوي خويونه نه وو هېر کړي، دوی هم د سيمه ييزو وزيرانو او پوهو شخصيتونو څخه غوښتنه وکړه ترڅو د حکومتدارۍ په برخه کې ورسره مرسته وکړي، په دې توګه يې غوښتل چې د قبيلوي نظام د زيانونو کچه راټيټه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې دورې کې املاک او کرنيزې ځمکې د واکمنو له خوا هغو خلکوته ورکړل شوې چې په سلجوقي کورنۍ پورې يې اړه درلوده، له دې کبله د کرنې برخه زيانمنه شوه. خو په دې دوره کې د جوماتونو او قبرونو بيا رغونه د ځانګړي مذهبي ارزښت لرونکې وه، د ښوونې او روزنې لپاره د (نظاميه) په نامه مدرسې هم د هېواد په بېلابېلو برخو کې جوړې شوې. د دوی د آبادیو له ډلې څخه د جوزجان په سرپل کې د امام خرد زيارت، د بلخ په دولت آباد کې يو منار او په بلخ کې د بابا حاتم زيارت يادولای شو. د نورو فرهنګي بدلونونو له ډلې څخه د ترکي اداري اصطلاحاتو دودېدل لکه کوتوال (د کلاګانو سرمشر)، باسقاق (د مالیې اخیستلو مامور) او همدا راز د رنګارنګ او ارزښتمنو جامو دودېدل.

همدارنګه سلجوقيان د دري او فارسي ژبې د جدي خدمت کوونکو څخه شمېرلای شو ځکه نوموړې ژبه د دوی په وسيله عراق، اذربايجان او کوچنۍ آسيا (اوسنۍ ترکيې) ته ورسېدله.

د سلجوقي دورې د مشهورو فرهنګي او علمي څېرو نومونه په لاندې توګه يادولی شو:

حکيم مجدود چې په سنايي غزنوي مشهورو، خواجه عبدالله انصاري، شيخ محمد غزالي او همدارنګه شاعره او هنرمنده مېرمن منيژه مهستي.

په ټولګي کې فعاليت

زده‌کوونکي دې په دوو (الف) او (ب) ډلو ووېشل شي، د الف ډله دې د غزنويانو په دورې کې د غزني د پرمختګ او آبادۍ علتونو او (ب) ډله دې د سلجوقيانو په دورې کې زمونږ د هېواد د فرهنګي پراختيا د علتونو په برخې کې يو له بل سره خبرې اترې وکړي.

پوښتنې

۱- ولې سلطان محمود غزنوي په هندوستان کې له فتوحاتو سره مينه در لوده؟

۲- د سلطان محمود غزنوي ځانګړتياوې څه نومېده او سلطان مسعود څه ډول ماته ورکړه؟

۳- سلجوقيان په اصل کې له کومو خلکو څخه دي او په څه ډول يې دولتي واکمني ترلاسه کړه؟

٤- د سلجوقي دولت تر ټولو مهم وزير څه نومېده؟

له ټولګي څخه دباندې فعاليت

زده‌کوونکي دې د ابوريحان البيروني او خواجه عبدالله انصاري د آثارو په هکله يوه مقاله وليکي او تر راتلونکې لوست دې ټولګي ته وړاندې کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

غوريان او خوارزم شاهان

غوريان او خوارزم شاهيان زمونږ د هېواد او سيمې د تاريخ هغه واکمن ګڼل کېږي چې د ځانګړي ارزښت او نقش څخه برخمن وو. غوريانو هغه وخت چې په غور کې د سلطنت بنسټ کېښود، نو هندوستان يې هم تر خپلې ولکې لاندې راوست. خوارزم شاهيان سره له دې چې د ترکي سلسلو او د ماوراُ لنهر په شمال کې خوارزم ته منسوب وو خو زمونږ هېواد يې هم تر واک لاندې و.

زمونږ په هېواد کې د يادو شوو لړيو ترولکې لاندې، د وضعې څېړنه د دې لوست موضوع ده، ورسره به آشنا شئ.

د غوريانو دولت



غوريان چې زمونږ د هېواد افغانستان په مرکز کې له غور څخه پاڅېدل، په اصل کې يې ربښه ملک شنسب ته رسېږي. نوموړي په غور کې امارت درلود، منهاج السراج جوزجاني د (طبقات ناصري) په کتاب کې د ملک شنسب په اړه ويلي دي: نوموړی د اسلام په لومړيو کې ژوند کاوه او په داوطلبانه توګه يې د حضرت علي﵁ په دوري کې د نوموړي په واسطه د اسلام په سپېڅلي دين مشرف شو او همدارنګه د امارت دوه سمبولونه (عهد او لوا) ده ته ورکړل شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

غوري شاهان د ځانګړي جغرافيوي موقعيت او د سيمې د ډېرو لوړو ژورو په لرلو سره، له همماغه لومړيو څخه د نسبي خپلواکۍ لرونکي وو، ډير پاچاهان او هېواد نيوونکي و نه توانېدل چې دا سيمه لاندې کړي. غوريانو له عباسي نهضت سره فعاله


د غور جام منار

وندې واخيسته او امير فولاد غوري له ابومسلم خراساني سره مرسته وکړه.

خو لومړی کس چې له هارون الرشيد څخه يې (عهد او لوا) ترلاسه کړل، امير بنجي نهاران نومېده. نومورې وروسته له امير فولاد څخه د غور دويم ځواکمن امير بلل کېده.

د غور له اميرانو څخه محمد سوري د سبکتګين او د ده د زوی سلطان محمود غزنوي هم عصره و چې په کلکه به د زوی او پلار د يرغلونو په وړاندې درېده. په پای کې سلطان محمود غزنوي په (٤٠١ق/١٠١١ م) کال کې په محمد سوري يرغل وکړ او هغه يې ونيوه. او د سلطان محمود غزنوي په بند کې له منځه لاړ؛ خو د غور واکمني د سلطان محمود غزنوي له خوا د هغه زوی شيث ته ورکړل شوه. وروسته له دې غوريان د غزنويانو تر ولکې لاندې راغلل. سره له دې چې په خپلې سيمې کې خپلواکه وو، خو غزنويانو ته به يې باج ورکاوه. دغې وضعې د سلطان بهرام شاه غزنوي او سلطان سنجر سلجوقي تر پاچاهۍ پورې دوام وکړ. په دې دورې کې غوريانو د علاوالدين حسين تر مشرۍ لاندې په (٥٤٧ق/ ١١٥٢ م) کال کې له سلطان سنجر سلجوقي سره جګړه وکړه. خو علاوالدين حسين د سلطان سنجر سلجوقي له خوا ماته وخوړه، بيا د غور مشرۍ ته ورسېد.

علاوالدين حسين له څه مودې وروسته پر غزني يرغل وکړ او غزني يې ونيو، خپل ورور سيف الدين يې د بهرام شاه غزنوي پر ځای په غزني کې حاکم وټاکه. له څه مودې وروسته د غزني خلکو د هغه پر ضد پا څون وکړ او د سيف الدين په وژلو سره يې يوځل بيا بهرام شاه غزنوي د پاچاهي پر تخت کېناوه.

علاوالدين حسين د غزنويانو د دې عمل څخه د غچ اخيستلو په نيت په (٥٥٦ق، ١١٦٠م)کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې هغه وخت چې د بهرام شاه زوی خسرو شاه واکمن و، په غزني يرغل وکړ. غزني يې ونيو او ويې سوزاوه له دې وروسته نوموړی په علاوالدين جهانسوز مشهور شو.

له علاوالدين څخه څه موده وروسته د هغه وراره غياث الدين بن سام د غور واکمن شو او نوموړي د خپل زړور ورور شهاب الدين محمد بن سام په مرسته غزان ته چې د غزني حاکم و، ماته ورکړه او د غوريانو تر لاس لاندې سيمه يې له سند څخه تر کرمان پورې ورسوله سلطان شهاب الدين په (۵۷۹ق/ ۱۱۸٤ م) کال کې لاهور هم ونيو او د غزنويانو سلطنت يې په بشپړه توګه له منځه يوړ.

سلطان غياث الدين غوري

د شهاب الدين د اقداماتو په ترڅ کې د غوريانو هېواد ډېر پراخ شو. په دې ډول د کسپين(خزر) سمندر له څنډو څخه نيولې بيا په هند کې د جمنا تر ساحله او له جيحون څخه تر بلوچستان پورې خطبه د سلطان غياث الدين په نامه ويل کېده.

په (۵۹۹ق/ ۱۲۰۳م)کال کې د سلطان غياث الدين له مړينې وروسته د نوموړي ورور شهاب الدين محمد چې د معزالدين په لقب مشهور و، پر تخت کېناست. خو دی په مرکزي آسيا کې د يوه بل ځواک سره مخامخ شو چې خوارزم شاهيان نومېدل. چې په پايله کې يې غوريانو ته ماته ورکړه او سلطان شهاب الدين هم په (۶۰۲هـ/ ۱۲۰۶م)کال کې د يوه مخالف له خوا ووژل شو.

د غوري حکومت کمزوري د غياث الدين محمد د زوی غياث الدين محمود له زمانې راپيل شوه او امپراطوري يې د دوه توټې کېدو په لور روانه شوه.

څرنګه چې قطب الدين ايبک په ډهلي او ناصر الدين په سند کې د خپلواکۍ بيرغونه اوچت کړل نو ورو ورو غوري دولت يوازې په غور پورې محدود شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوارزم شاهان



خوارزم چې په لرغونو متنونو کې هوا زرميا راغلی د هغې سيمې نوم دی چې د جيحون سيند د لوړې برخې او د کسپين (خزر) د بحيرې شمالي څنډې ترمنځ پرته ده. او خوارزم شاهان د دې سيمې او سېدونکو ته ويل کېږي. دوی هم د سيمه ييزو اسلامي حکومتونو د پاڅونونو په موده کې د خپلواکۍ بيرغ اوچت کړ او د ځانګړې حکمرانۍ لړۍ يې رامنځته کړه.

د خوارزم شاهانو لومړنۍ څېره انوشتګين غرجه نومېده چې په اصل کې د افغانستان په مرکز کې له غرجستان (اوسني هزاره جات) څخه و، نوموړی د هغو خدمتونو په بدل کې چې سلجوقي دولت ته يې ترسره کړل. لوړو مقامونو ته ورسېده چې په پای کې حتی د خوارزم امارت ور په برخه شو. د انوشتګين غرجه له مړينې وروسته د ده زوی محمد په (۴۹۱ق/ ۱۰۹۸ م) کال کې د سلطان سلجوقي له خوا د خوارزم حکمران وټاکل شو.

د خوارزم شاهيانو د دولت پرچم

محمد د لومړي ځل لپاره په ځان د (خوارزم شاه) نوم کېښود او د ټول عمر لپاره يې خپل حکومت د (سلطان سنجر سلجوقي) په ملاتړ پر مخ بيولو خو د ده زوی (اتسز) چې پوه او د فضيلت خاوند و، څه وخت چې په (۵۲۲ق/ ۱۱۲۸ م)کال کې د خوارزم مشر شو، نو د سلجوقي حکومت څخه يې د خپلواکۍ لپاره هڅې وکړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نوموړي په (۵۳۵ق/۱۱۸۱م) کال کې د سلجوقیانو نوم له خطبې او سکې ایسته کړ، او په بشپړه توګه یې خپله خپلواکي اعلان کړه او هڅه یې وکړه چې د نویو سیمو په لاندې کولو سره خپله تر لاس لاندې جغرافیایي سیمې پراخه کړي.

د خوارزم شاهانو پیاوړي امیران عبارت وو له علاوالدین تکش او علاوالدین محمد څخه و چې په ځانګړي توګه د علاوالدین د حکومت په دورې کې د خوارزم شاهي دولت تر ولکې لاندې سیمې خپل اعظمي حدته ورسیدې. د غوریانو حکومت هم په (۶۰۲ق/ ۱۲۰۶ م)کال کې د علاوالدین له خوا ړنګ شو. او په دې توګه د سند د سیند تر څنډو پورې د خوارزم شاهانو واکمني وغزېده. سره له دومره پراختیا، بیا هم خوارزم شاهي دولت ډېره موده پاتې نشو. ځکه له یوه پلوه یې له عباسي خلیفه سره اړیکې ښې نه وې چې په پایله کې ناصر الدین الله د خوارزم شاهانو له مخالفینو څخه ملا تړ وکړ او له بله پلوه مغولانو د چنګېزخان تر مشرۍ لاندې د دوی سیمه په (۶۱۷ق/۱۲۲۱ م)کال کې تر یرغل لاندې ونیوه. مغولو د خوارزم ښار ونیوه چې په دې ترتیب د خوارزم شاهي دولت او واکمنۍ د له منځه وړلو موده راورسېده.

علاوالدین محمد خوارزم شاه له مغولو څخه وتښتېده او د مازندران سیند یوې جزیرې ته یې پناه یوړه. او هماغلته مړ شو، خو مخکې تر مړینې یې خپل زوی جلال الدین خپل ځاناستی وټاکه. نوموړي د مغولو پر وړاندې ډېر مقاومت وکړ خو د پروان په جګړه کې یې له دوی څخه ماتې وخوړه او سند ته وتښتېد. یو ځل بیا یې سند ته نژدې د چنګېزخان له خوا ماتې وخوړه او ډهلي ته یې پناه یوړه، یو ځل بیا یې د کرمان او شیراز له لارې ځان اصفهان او آذربایجان ته ورساوه خو په پای کې په (۶۲۷ق/۱۳۳۰م)کال کې د کردانو له خوا ووژل شو او خوارزم شاهي حکومت هم د ده له مرګ سره د تاریخ یوه برخه وګرځیده.

اقتصادي او فرهنګي وضع

د پرله پسې یرغلونو، لښکر کښیو او دوامداره جګړو په دلیل که څه هم دا سیمه دومره د اقتصادي ودې او غوړېدنې لپاره مناسبه نه ده خو بیا هم زمور خلکو به په دې دورې کې د کرنې، زراعت او تولیدول له لارې خپلې لومړنۍ اړتیاوې پوره کولې. وربشې، غنم، وریجې، پنبه، انګور، ممیز، بادام، پنیر یې تولیدول. همدارنګه د هېواد له ځینو کانونو څخه سره زر، سپین زر، اوسپنه، مس، سرب او نوشادر استخراجېدل. او کوچنۍ صنایع، لکه: نساجي، چرم جوړونه، قالین او بدنه او وسله جوړول دود وو، دا دوره د پوهې او فرهنګ په برخې کې، د سامانې او غزنوي دورو ادامه بللې شوې ده. سره له دې ټولو، په ځانګړې توګه غوریانو ودانیو او آبادیو ته پاملرنه وکړه او ځنیې جوماتونه، کلاګانې او ودانۍ یې جوړې کړې.

د دوی د ودانیو له ډلې څخه د پام وړ عمرانات یو هم د هرات جامع جومات دی چې د غیاث الدین محمد غوري په دورې کې یې کار پیل شو. بل په غور کې د جام منار چې ٦٤ متره لوړوالی لري د محمد غوري په نامه د یوه ډبرلیک په لرلو سره د غور د جام په سیمې کې واقع دی چې د نرۍ له لویو مارونو څخه ګڼل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له بلې خوا غوريان د مذهبي تسامح (آسانۍ) په برخه کې مشهور وو او د دوی دربار د بېلابېلو ديني او مذهبي ډلو او فرقو د پوهانو او عالمانو د ټولېدو ځای ګڼل کېده.ددې د پوهانو او عالمانو د جدي ملاتړو له ډلې څخه بلل کېدل.

دوی پوهانو او عالمانو ته په درنه او د قدر په سترګه کتل. غوري امیرانو د علم او ادب سره دومره مینه لرله، هغه وخت چې علاوالدین جهانسوز د محمود غزنوي او د ده د ځاییناستو ښایسته ودانۍ رنګولې په همغه حال نوموړي هغه شعرونه چې د دې ماڼیو په هکله ویل شوي وو، ټول یې په سرو زرو واخیستل او په خپل کتابتون کې یې کېښودل.

خوارزم شاهانو هم د ادیبانو او شاعرانو د ملاتړ سیاست وپاله او دا خبره مشهوره ده چې استز خوارزم شاه، د خپل انشا د دېوان مشرۍ لپاره رشید الدین محمد وطواط بلخي غوره کړ.

او دغه هنرمند شاعر چې په عربي او فارسي، نظم او نثر کې یې لوی لاس درلود، (حدائق السحر في دقایق الشعر) کتاب یې د ده په لارښوونې ولیکه. دغه کتاب د معاني، بیان او د وینا د لفظي او معنوي صنایعو په برخه کې ولیکل شو. همدارنګه سیده بېګم (علویه) د کمال او فضل خاونده او د دېوان لرونکې شاعره په همدې وخت کې اوسېدله. نوموړې د وطواط بلخي د شعرونو په ځواب کې شعرونه ویلي دي.

علاوالدین محمد سره له دې چې یو بې رحمه او د تدبیر او سیاست نه لرونکې څېره وه خو د یوه علم پال او ادب پالې څېرې په توګه پېژندل شوی او ویل کېږي چې نوموړی دیندار او علم دوست پاچا و.

په ټولګي کې فعالیت

زده‌کوونکي دې، له جغرافیوي نقشې څخه په ګټه اخیستنې سره د غور په تاریخي ارزښت خبرې وکړي.

پوښتنې

۱- غوریانو ولې په عباسي نهضت کې ګډون وکړ؟

۲- د غور د مهمو امیرانو نومونه واخلئ.

۳- د سلطان سنجر سلجوقي په څنګ کې د انوشتګین غرچه او علاوالدین حسین د سیاستونو توپیر څه و؟

٤- رشیدالدین وطواط بلخي په کومه زمانه کې اوسېده او ترټولو مهم کتاب یې څه نومېده؟

له ټولګي څخه دباندې فعالیت

زده‌کوونکي دې د افغانستان په تاریخ کې د غوریانو ونډه (نقش) په هکله مقاله ولیکي او په راتلونکې درسي ساعت کې دې ټولګي ته وړاندې کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مغول او آل کرت

زمور په هېواد باندې د مغولو يرغلونه زمور د سيمې د تاريخ له مهمو پېښو څخه ګڼل کېږي. دغه يرغلونه چې د مغولو په برلاسۍ او بريالیتوب پای ته ورسېدل زمور د ټولنيز، سياسي، اقتصادي او فرهنګي ژوند په بېلابېلو برخو کې يې بېلا بېلې پايلې رامنځته کړې. د مغولو د برلاسۍ څرنګوالی او د دوی د واکمنۍ په دورې کې د کرتي دولت رامنځته کېدل، هغه موضوعګانې دي چې په دې لوست کې به يې ولولئ.

د مغولو د لومړنۍ واکمنۍ جوړښت

مغول په اصل کې د زېړ پوستو قومونو څخه وو چې د مرکزي، ختيځې آسيا په ځينو برخو کې اوسېدل. دغه قوم له بېلابېلو ډلو څخه جوړ شوی دی او ترټولو مهمې ډلې يې: تاتار، قيات، جلاير، قنقرات او کرائيت دي. دوی قبيلوي او د کډوالۍ ژوند کاوه. او تر هغه پورې چې يسوکابها در (د چنګيزخان پلار) په شپږمه هجري/ دولسمه ميلادي پېړۍ کې دوی سره متحد کړي نه وو، په جګړو او شخړو کې ښکېل وو.

وروسته د ده له مړينې، د نوموړي زوی (تموچين) د مغولو مشري ترلاسه کړه. تموچين د شپږمې پېړۍ په پای کې د مغولي قومونو په لويه غونډه کې د چنګيز خان لقب ترلاسه کړ. نوموړی وتوانېد چې د (اوومې هجري/ ديارلسمې ميلادي) پېړۍ تر لومړيو پورې په منځنۍ آسيا کې زياتره مغولي قومونه د ځان تابع کړي.

په چين کې د مغولو د پرمختګ او لاس اچونې خبر د سلطان محمد خوارزم شاه ترغوږه هم ورسېده او همدارنګه د چنګيزخان له پلوه يو پلاوی هم د خوارزم شاه دولت ته ولېږل شو چې په (٦١٥ق/ ١٢١٩م.) کال کې د چنګيزخان د استازي او سلطان محمد خوارزم شاه ترمنځ ترون لاسليک شو. خو د اترار ښار د حکمران له خوا چې د سلطان محمد خوارزم شاه له خپلوانو څخه و، د مغولي سوداګريز کاروان چور کول او د سوداګرو وژل، چنګيزخان ته ښه بهانه په لاس ورکړه چې په خوارزم شاهي دولت يرغلونه وکړي. نو په دې توګه په (٦١٦ق/١٢٢٠م.) کال کې د يرغل فرمان ورکړ شو، او په لسګونو زره مغولي سرتېري اسلامي سيمو ته ننوتل. وروسته د بخارا، سمرقند، خوارزم او مروې ښارونو د لوټولو او وژنو څخه زمور د هېواد ځينې مهم ښارونه، لکه: هرات، غزني، کابل او باميان د مغولو په واسطه په سخته توګه ويجاړ او خلک يې ووژل شول. چې په دې توګه مغولي قومونه په افغانستان برلاسي شول او زمور د هېواد په تاريخ کې يوه توره دوره رامنځته شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

چنګېز خان دخوارزم شاهي دولت تر لاس لاندې سيمو د نيولو وروسته، بېرته مغولستان ته وګرځيد. نوموړی په (٦٢٤ق./١٢٢٧م.) کال کې د تبت د شمال له نيولو وروسته د (٧٢) کلنۍ په عمر مړشو. د چنګېزخان د ځايناستو له ډلې څخه يو ځل بيا د منګوقاآن د واکمنۍ په وخت کې هلاکوخان ته دنده وسپارل شوه چې په اسلامي نړۍ يرغل وکړي. نوموړي خپل ماموريت په (٦٥١ق/ ١٢٥٣ م) کال پيل کړ. هلاکوخان په (٦٥٦ق/ ١٢٥٨م) کال کې د عباسي خليفه (المعتصم با الله) په وژلو او د بغداد په نيولو سره د عباسيانو د خلافت (٥٢٥)کلنه واکمني ختمه کړه. وروسته له عراقه يې همدارنګه ګرجستان، ارمنستان او د کوچنۍ آسيا (اوسنۍ ترکيې) ښارونه هم ونيوه. هلاکوخان په (٦٦٣ق/ ١٢٥٣ م)کال کې وروسته له دې چې له جيحون نه د مصر ترپولو يې خلک د مغولو تابع وګرځول، مړشو.

له دې وروسته د اوسني ايران او د افغانستان د لوېديځ يوه برخه د هلاکوخان د اولادونو يعنې مغولي ايلخانانو په لاس ورغله خو ماوراءالنهر او افغانستان (تخارستان، بلخ او زابل) د يوې بلې مغولي ډلې (جفائيانو) په لاس کې ورغلې. د افغانستان په نورو برخو کې سيمه ييزو مشرانو واکمني چلوله.

آل کرت

د آل کرت دولت



د مغولو په دورې کې يوله هغو سيمه ييزو حکومتو څخه چې د افغانستان په لويې برخې يې واکمني کوله آل کرت يا کرتيان وو. د کرتيانو اصل او نسب په هکله اختلاف موجود دی. ځينې دوی په غوريانو پورې ترې او ځينې نور مورخين بيا د ربيع فوشنجي د هغه شعر له مخې چې د ملک فخرالدين کرت په ستاينه کې يې ويلی، نوموړي په سلجوقي او ترکمني پاچاهانو پورې ترې. د فوشنجيانو هغه شعر په لاندې ډول دی:

(c) ketabton.com: The Digital Library

قاعـــده دوده سنـــجر تـــويي	واسطه ملك ســكنـــدر تويي
دوده سنجر زتو خواهد نويد	ملك سكندر به تو دارد اميد

په هر حال، ملك ركن الدين د دې كورنۍ له مشهورو شخصيتونو څخه و. نوموړی د تاج الدين مرغني زوی و چې د غوريانو له خوا په قلعه خيسارکې ګمارل شوی و.

د مغولو د يرغلونو په وخت کې، هغه د غور او غزني د ځينو برخو سر لښکر و او څرنګه چې د چنګېزخان د فتوحاتو آوازه يې واورېده نو د اطاعت لاره يې غوره کړه چې په دې توګه نوموړي ته د غور ولايت او شاوخوا سيمو حکومت وسپارل شو.

ملك ركن الدين د خپلې (۲٦) کلنې واکمنۍ په موده (٦٤۳-٦۱۷ق/ ۱۲۲۰- ۱۲٤٥ م) کې د لور له پلوه لمسي (شمس الدين کرت) ته ډېره پاملرنه وکړه اونوموړی يې خپل ځاىناستي وټاکه. او همدغه شمس الدين کرت چې وروسته له خپل نيکه واکمنۍ ته ورسېد، د کرتي اميرانو او مشرانو د لړۍ پيل بلل کېږي.

ملك شمس الدين هم دخپل نيکه په څېر د مغولو ملاتړی و او مغولو د نوموړي د دې کار په بدل کې ده ته د مهمو ختيځو ايالتونو مشري وسپارله چې د افغانستان يوه مهمه برخه د سند تر سينده پورې په کې شامله وه.

په هرات کې د اختيارالدين کلا

د ملك شــمس الدين زياتــره اولادونــو او ځاىناســتې د مغولــو سره د مرستې سياست تــه دوام ورکــړ. ملك معزالدين حسين کرت کــه هر څــو لــه مغولو څخــه د خپلواکــۍ په لاره کې ګامونــه پورته

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړل خو د مخالفینو په وړاندې د ناوړه چلند په لړلو او د بلخ، بادغیس او شــبرغان د خلکو د وژلو او لوټولو په سبب د ډېرو پاڅونونو سره مخ شو او په پای کې د غوري حکومت له خوا له واکه وغورځول شو. د دې کورنۍ وروستی مشر ملک غیاث الدین د ملک حسین زوی و چې د امیر تیمور ګورکاني په عصر کې يې ژوند کاوه. په (٧٨٤ق/ ١٣٨٣م) کال کې د تیمور په امر ووژل شو او په دې ترتیب د آل کرت دولت هم زمور د هېواد د تاریخ یوه برخه وګرځیده. د آل کرت امیرانو شــمېر اته کســان وو او (١٣٠) کاله يې واکمني وکړه.

په ټولګي کې فعالیت

زده‌کوونکي دې د نقشې څخه په کار اخیستلو، د مغولستان موقعیت پیدا او د افغانستان پر لور د مغولو د حرکت او نفوذ لاره پیدا کړي.

پوښتنې

١- د مغولو د مهمو قبیلو نومونه واخلئ.

٢- مغول د لومړي ځل لپاره د کوم تاریخي شخصیت په مشرۍ سره راغونډ شول؟

٣- د مغولو او کرتیانو ترمنځ څه اړیکې موجودي وې؟

٤- د مغولو په وړاندې د کرتیانو د سیاست په هکله څه پوهېږئ؟ څرګند يې کړئ.

٥- عباسي خلافت څه وخت او د کوم مغولي کس له خوا له منځه لاړ؟

له ټولګي څخه دباندې فعالیت

زده‌کوونکي دې، د قبایلي ژوند د ځانګړتیاوو په اړه مقاله ولیکي او د ټولګي په راتلونکې درسي ساعت کې دې يې وړاندې کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تیمور ګورکاني او د ده ځاینا‌ستی

تیمور ګورکاني هم د منځنۍ آسیا د غوسه ناکو نړۍ نیوونکو څخه و چې د چنګېزخان په څېر یې په سلګونو زره کسان مړه او د سمرقند په مرکزیت یې یوه پراخه امپراطوري رامنځته کړه، خو هغه اولادونه یې چې په ځانګړې توګه زمونږ په هېواد یې واکمني وکړه، د پلار پر خلاف علمي او فرهنګي شخصیتونه وو او همدارنګه زمونږ په هېواد کې د بېلابېلو پوهنو او هنرونو د رواجونکو څخه وو. په سیاسي او نظامي برخې کې د تیمور ګورکاني ټولې کار نامې او د هرات د تیموري دولت رامنځته کېدل به د دې لوست موضوع وي چې ورسره به بلد شئ.

مورخینو د تیمور نسب تومنای خان ته رسولی چې نوموړی د چنګېزخان له کورنۍ څخه و. تیمور په (۷۳۶ق/ ۱۳۳۶ م) کال کې د ازبکستان، سمرقند ته نژدې د کش په ښار کې وزېرېد. تر (۷۶۲ق/ ۱۳۶۱م) کال پورې د تیمور د ژوند په هکله سمه اطلاع نه لرو، پرته له دې چې ویل شوي نوموړي په هلکتوب کې علم او ادب زده کړل او په غیشو ویشتلو بوخت شو خو په ځوانۍ کې یې د امیر حاجي بر لاس په اداري دستګاه کې خدمت کاوه. ځرنګه چې امیر حاجي په مرکزي آسیا کې د داخلي رقابتونو په لړکې، افغانستان ته وتښتېده، دی هم ورسره و. تیمور ډېر ژر ماوراءالنهر ته راوګرځېد او دا ځل د کاشغر له خان سره یو ځای شو. نوموړي ته د کاشغرخان د کش ښار اداره وسپارله. له دې نیټې وروسته د ده شهرت زیات شو او د نوموړي واکمني د ماوراءالنهر په ډېرو برخو کې پراخه شوه. ګورکاني (زوم) لقب یې هغه وخت غوره کړ چې د ماوراءالنهر د یوه امیر (امیر حسین قزغني) خور یې په نکاح کړه.

تیمور د امیر حسین قزغني په مرسته له ماوراءالنهر څخه د جغتایي ترکانو لاسونه لنډ کړل او ځرنګه چې په (۷۷۱ق/ ۱۳۷۰ م) کال کې یې د بلخ په شاوخوا کې امیر حسین او د ده زوی ووژل نو د ماوراءالنهر په ځواکمن مشر بدل شو او سمرقند یې خپله پلازمېنه وټاکله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د تیمور یرغلونه

تیمور د (۷۳۳ق./ ۱۳۳۳م. او ۷۸۱ق/ ۱۳۸۰ م.) کلونو په منځ کې څلور ځله د خوارزم په هېواد پسې لښکرې وایستې او هغه یې ړنګ کړ. مغولستان او قبچاق دښته یې فتح کړه او خپل څوارلس کلن زوی (میران شاه) د خراسان (افغانستان) لاندې کولو پسې ولېږه او په خپله هم پسې ورغی، نوموړي هرات کې په پراخه ورانکاریو لاس پورې کړ. د ښار ټولې ودانۍ یې ړنګې کړې پرته د اختیارالدین له ارګ څخه او د یادولو وړ ده چې ډلې ډلې د نامه او اعتبار خاوندان لکه عالمان، فقیهان او پوهان یې په جبري توګه د سبز ښار ته ولېږل.

ملک غیاث الدین کرتي که څه هم په لومړیو کې د تیمور له غوسې په امان پاتې شو خو په (۷۸۵ق/ ۱۳۸۳م) کال کې د تیمور په امر ووژل شو او د آل کرت د لړۍ پاڼه هم واوښته.

تیمور په خپله (۲۹) کلنه واکمنۍ کې د خپلو ډېرو سختو یرغلونو او حملو په پایله کې په سلګونو زره انسانان ووژل او له چین څخه تر مدیترانې او همدارنګه د روسیې او مسکو د استپونو څخه تر ډهلي پورې سیمې یې ونیولې او د لویې امپراتورۍ بنسټ یې کېښود. د تیمور د لښکرو اصلي هسته جغتایي ترکانو تشکیلوله. د ده په لښکرو کې ځینې ښځې هم وې تیمور په (۸۰۷ق/ ۱٤۰٤م) کال کې د (۷۱) کلونو په عمر مړ شو.

د تیمور ځانګړتیا

د مړینې په وخت کې یې ۳٦ زامن او لمسیان لرل. د دې لپاره چې د ده نه وروسته یې د اولادونو ترمنځ په واکمنۍ جګړې پېښې نه شي. په ژوند یې فتح کړي هېوادونه د دوی ترمنځ ووېشل. سره له دې هم، د تیمور له مړینې څخه وروسته د ده د دوو زامنو او لمسیو ترمنځ اختلاف رامنځته شو. او دواړو زامنو یې ورو ورو د خپلو ورېرونو له خوا نیول شوې سیمې ترلاسه کړې. دوی دوه نسبتاً پراخه دولتونه رامنځته کړل. یو یې د میران شاه او د ده د زامنو دولت په عربي عراق، د ایران په لویدیځ ګرجستان، ارمنستان او الجزایر کې او دویم دولت د شاهرخ په

(c) ketabton.com: The Digital Library

خراسان، افغانستان او ماوراءالنهر کې رامنځته کړ چې مرکز يې د هرات ښارو.

که له يوه پلوه د ميران شاه دولت، د نوموړي د لېونتوب، د ده د زامنو ترمنځ د اختلاف او د قراقويونلو ترکمنانو او همدارنګه د ايران د آل جلاير د واک نيولو په دليل له منځه لاړ خو له بله پلوه د شاهرخ دولت د ده او د نوموړی د درباريانو کفايت او پوهې له برکته دوام وکړ.د ده دوره د افغانستان په تاريخ کې چې مرکز يې هرات و، روښانه دوره بلل کېږي.

نوموړي (٤٣) کاله واکمني وکړه. د ده په دوره کې هرات نه يوازې د لوی کتابتون چې د شاهرخ په امر جوړ شوی و، لرونکی شو. بلکې د پوهانو او عالمانو د غونډېدو مرکز وګرځېد. د ده له مېرمنو څخه يوه ګوهرشاد آغا(په ترکي ژبه کې آغا د ملکې نوم دی) نومېده. چې د ښوکارونو په کولو او د خير د آثارو په رامنځته کولو مشهوره وه.

وروسته له شاهرخ څخه د ده زوی الغ بيګ واکمنۍ ته ورسېد. دی هم د پلار په څېر علم دوست او پوه سړی و. خو په (٨٥٢ق/ ١٤٤٨م)کال کې د خپل زوی له خوا ووژل شو. له دې وروسته د شهزاده ګانو ترمنځ اختلاف زيات شو. له څه مودې وروسته د سلطان حسين بايقرا په نامه يو بل تيموري امير په هرات کې واکمنۍ ته ورسېد. نوموړي، امير علي شېر نوايي چې د خپل وخت له پوهانو او ادیبانو څخه ګڼل کېده، وزير وټاکه. د ده د واکمنۍ دوره (٣٣) کاله اوږده شوه. او د ده په وخت کې هرات د آبادۍ او د بدبې اوج ته ورسېد.

د سلطان حسين بايقـرا له مړينې سـره سـم د تيمـور د ځـايناستو زوال هـم پيل شو او د دوی د واکمنۍ سيمه د شيباني ازبکانو او د ايران د صفويانو له خوا تر يرغل لاندې راغله او په همدې توګه دوی د تاريخ يوه برخه شول. تيموريانو (١١٣) کاله واکمني وکړه او د دوی له ډلې څخه شېږو امېرانو په افغانستان واکمني تر سره کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ټولګي کې فعالیت

زده‌کوونکي دې، له نقشې څخه په ګټه اخیستنې سره د تیموریانو د راولاړېدو ځای او د امپراتورۍ حدودد او پولې څرګند کړي.

پوښتنې

۱- د تیمور د ګورکاني لقب لامل څه و؟

۲- افغانستان ته د تیمور د راتلو په وخت کې په هرات باندې چا حکومت کاوه او همدارنګه د ده برخلیک څنګه شو؟

۳- د هرات د دوو مشهورو تیموري پاچاهانو نومونه واخلئ.

٤- د هرات آبادي او دبدبه د کوم تیموري واکمن په دوره کې رامنځته شوه او ولې؟

له ټولګي څخه دباندې فعالیت

زده‌کوونکي دې له تاریخي کتابونو او سرچینو څخه په ګټې اخیستنې سره، د تیموریانو په دورې کې د هرات د فرهنګ او تمدن په هکله یوه مقاله ولیکي او په راتلونکې درسي ساعت کې دې خپلو ټولګیوالوته وړاندې کړي. همدارنګه ترټولو غوره مقاله دې د ښوونځي په تابلو کې ځوړنده کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مغولو او تیموریانو په دوره کې اقتصاد او فرهنگ

زمونږ په هېواد باندې د ماوراءالنهرد ډاروونکو یرغلونو پایلې او اغېزې په اقتصادي او فرهنګي برخو کې راڅرګندې شوې. سر بیره پر دې چې مدرسې، ښوونځي، کتابتونونه او علمي مرکزونه یې ړنګ کړل، ورسره یې زمونږ د سیمې زیات شمېر پوهان او عالمان یا یې ووژل او یا یې هم لیرې او نژدې هېوادونو ته تښتې ته اړ کړل. په واقعیت کې یو درېدلی حالت یا یو ډول په شاتګ رامنځته شو. په دې لوست کې دغه وضعیت ترڅېړنې لاندې نیول کېږي.

د مغولو د یرغلونو تر ټولو مهمې پایلې، سربیره پر دې چې په سلګونو زره انسانان ووژل شول، ښارونه ویجاړ او همدارنګه کارېزونه او کرنیزې ځمکې له منځه لاړې مغولانو د نیول شوو سیمو هنرمندان او صنعتګران بندي کول او مغولستان ته به یې لېږل او دوی به یې استثمارول. یوه ډله به چې په کلو او ښارونو کې د مغولو له تېغه خلاصه شوه، نو د خان یا دخان اړوند کسانو له خوا به تري اقتصادي ګټه پورته کېده. بېلابېل مالیات په خلکو لګول کېدل.

ړنګونو او اقتصادي ویجاړتیا په فرهنګي وضعې هم اغېزه وکړه او فرهنګي زیانونه په هغه کچه زیات وو چې د مغولو له یرغلونو څخه د مخه زمونږ په هېواد کې زیاتره کتابونه او آثار چې پیدا کېدل له منځه لاړل. مدرسې، ښوونځی، کتابتونونه، جوماتونه او دیني ودانۍ چې په عین وخت کې به د پوهانو کتابونه او آثار هم پکې ساتل کېدل، له منځه لاړل.

پوهان او عالمان ووژل شول یا د مغولو له خوا اړ شول چې مغولستان ته کډه وکړي. او یا پخپله هغو ځایونو ته لاړل چې ګومان یې کاوه د مغولو لاسونه هلته نه رسېږي، لکه: مصر، شامات او هندوستان.

په همدې دلیل په ځانګړې توګه د عقلي او فکري پوهنو په برخه کې یو وحشتناک سقوط رامنځته شو. او نور د ابن سینا په شان روښانه ځېرې رامنځته نشوې.

له بله پلوه فقر، بېوزلۍ، تېریو او غمونو د خلکو انګېزه د ګټورو پوهنو په وړاندې راټیټه کړه او د علومو زیاتره اړخونو او دیني لیوالتیا ته پاملرنه و نه شوه چې دې کاربه له دنیا څخه تیښتې، صبر، قناعت او د ژوند سختۍ قبلولو لور ته توصیه کوله لکه تصوف او نړۍ پرېښودنه چې په

(c) ketabton.com: The Digital Library

دې وخت کې يې زيات مينه وال پيدا شول او هغو کسانو ته به چې نړۍ ښه ونه برېښېده، نو به يې پناه ورورله. که څه هم د يوشمېر صوفيانو کړنه او د فعاليتونو پايلې د هغه وخت د مغولي حاکمانو په ګټه وې خو په عين وخت کې د طريقت پيروان او داسي صوفيان هم اوسېدل چې خلک به يې د پرديو په وړاندې پاڅون ته را بلل.

په هر حال، له ټولو زيانونو سره سره چې د فرهنګ په برخه کې رامنځته شول. زمور د هېواد ځينې پوهان او ادېبان د مغولو له منګولو څخه خلاص شول او په ليرې سيمو کې يې خپل آثار وپنځول، د دې دورې يو له مهمو شخصيتونو څخه مولانا جلال الدين محمد بلخي و چې پلار يې بهاولد نومېده. نوموړی (بهاولد) په ماوراءالنهر او خراسان کې ډېر مريدان لرل. او د مغولو د يرغل په سبب يې سيمه پرېښوده. د کډوالۍ په وخت کې درې سوه او ښان د بهاءالدين او د ده د کورنۍ په قيمتي کتابونو او د کور په سامان بار وو.

زمور د هېواد تکړه مورخ قاضي منهاج الدين چې په منهاج السراج جوزجاني مشهور و، په دې وخت کې اوسېده. نوموړي هند ته د ناصرالدين دربار ته پناه يوړه او خپل کتاب (طبقات ناصري) يې هلته وليکه. د جهانګشا کتاب ليکونکی عطا الملک جويني، امير حسين غوري، سيفي هېروي، ربيعي فوشنجي، بابا هوتک، د ده زوی ملکيار هوتک او اکبر زميندواري په همدې دوره کې اوسېدل.

د تېموريانو په دورې کې اقتصاد او فرهنګ

د تېمور اقدامات لکه د نورو سيمو لاندې کولو، د ښارونو او ودانيو ورانول، د اوسېدونکو وژل او لوټ کول او همدارنګه ماوراءالنهر ته د پوهانو، کسبګرو، صنعتګرو او هنرمندانو لېږل د چنګېزخان کړنلارې ته ورته وو. له دې امله ويلی شو چې د نوموړي دوره د مرکزي آسيا د پوونده (صحراګشتان) تسلط د تورې دورې دوام وګڼو. خو د تيمور په خلاف د ده اولادونو فرهنګي، هنري او معماري چاروته ډېره پاملرنه کوله. د تېمور د زوی شاهرخ ميرزا او د نوموړي د ښځې ګوهرشاد بيګم آغا په ملاتړ ډېر روښانه او ارزښتناک آثار رامنځته شول. او د شاهرخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

زوی الغ بېګ په ملاتړ په سمرقند کې د الغ بېګي رصدخانې په نامه یوه لویه نجومي رصدخانه جوړه شوه چې ډېر پوهان پکې بسیا وو.

د شاهرخ بل زوی بایسنقر هم د کتاب له ملګرو څخه ګڼل کېده. نوموړي د لوېې کتابخانې بنسټ کېښود. بایسنقر هم نژدې څلوېښت تنه انځورګران او خطاطان د هرات په شاهي کتابتون کې راغونډ کړل. دوی زیات آثار انځور کړل لکه د فردوسي شاهنامه، لیلی او مجنون، د سعدي بوستان او ګلستان، ده د ټولو هنري آثارو یونوی سبک رامنځته کړ چې د (هرات مکتب) نوم یې ځانته غوره کړ. د هرات په ښوونځي کې د انسانانو کوچني انځورونه انځور شوي او همدارنګه په ساده کرښو او بې ابزارو((لومړنۍ ابزار)) میناتوري یې رامنځته کړې.

په هرات کې په ځانګړې توګه د سلطان حسین بایقرا (۹۱۱- ۸۲۶ق/ ۱۵۰۶- ۱۴۷۰ م) کلونو په زمانه کې د تمدن او فرهنګ د غوړیدنې او پراختیا د اوج دوره وه. په دې دورې کې پاچا او د ده عالم وزیر (علي شېرنوایي) له پوهانو، هنرمندانو، شاعرانو او ادیبانو څخه ملاتړ کاوه چې په پایله کې مهم علمي او فرهنګي یون رامنځته شو. په ځانګړې توګه د نقاشۍ ستر استاد کمال الدین بهزاد چې ډېر نفیس آثار یې وړاندې کړل. د هرات د هنري مکتب نوم یې ډېر لوړ کړ. دغه هنرمند د هرات ښوونځي ځانګړې لاره د کمال کچې ته ورسوله.

په دې دورې کې د هرات د ارګ له بیارغونې پرته نور هم ډېر مهم آثار رامنځته شول لکه په بلخ ولایت کې حضرت علي رضی الله عنه د منسوب زیارت جوړونه، په مشهد کې د ګوهر شاد بیګم آغا د جامع جومات رغونه، په هرات کې د ګوهرشاد او سلطان حسین بایقرا د قبرونو رغونه سره له شپږو ښکلاییزو مناروتو، په ګازرګاه کې د خواجه عبدالله انصاري د قبر ښکلي کول، په هرات کې نور ډېر جوماتونه او زیارتونه همدارنګه د ایران پولې ته نژدې د خارګرد جومات یادولای شو.

د دې دورې مهم علمي او فرهنګي شخصیتونه عبارت وو له: امیر علي شېر نوایي، ملا حسین واعظ کاشفي، سلطان حسین بایقرا، شېخ عبدالرحمن جامي، میر سید علي خطاط، مولانا حسین علي هروي، ملا محمد ابراهیم غبار او د فاضلو او شاعرو ښځو له ډلې څخه د لاندې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښځو نومونه اخيستي شو:

سلطان رضيه د التمش لور چې شعر به يې هم وايه، مهر النسا چې تخلص يې مهري و او په هرات کې اوسېده. د امير علي جلاير لور، آفاق جلاير چې د حسين بايقرا په زمانه کې اوسېد له او (ماه) چې هم شاعره او هم ستوري پېژندونکې وه.

په ټولګي کې فعاليت

زده‌کوونکي دې په دوو ډلو ووېشل شي، يوه ډله دې د مغولو د دورې په فرهنګي وضعې او دويمه ډله دې د تېموريانو د دورې په فرهنګي حالت په لنډه توګه خبرې وکړي.

پوښتنې

۱- د پوهانو، هنرمندانو او صنعتګرانو په وړاندې د مغولو او تيموريانو په چلند خبرې وکړئ؟

۲- مولانا جلال الدين محمد بلخي چېرته اوسېده او ولې يې کډه وکړه؟

۳- د ګوهرشاد بيګم آغا په امر د دوو مشهورو جوړو شوو ودانيو نومونه واخلئ.

٤- امير علي شېر نوايي څوک، او په څه حال کې يې ژوند کاوه؟

٥- په بلخ کې حضرت علي رضي الله عنه ته منسوب زيارت د کوم تيموري پاچا په واسطه جوړ شو؟

له ټولګي څخه د باندې فعاليت

زده‌کوونکي دې د (هرات هنري ښونځي) په هکله يوه مقاله وليکي او په راتلونکې درسي ساعت کې دې ټولګي ته وړاندې کړي، همدارنګه تر ټولو غوره مقاله دې د ښوونځي د اعلانونو په لوحه باندې ځوړنده شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دريم څپرکی

افغانستان د کندهار له پاڅون څخه مخکې

په دې څپرکي کې به د کندهار د پاڅون په و ړاندې حالات په تېره بیا له دروګاونډیو دولتونو(شیبانیانو، صفویانو او بابریانو) سره زموږ د هېواد د اړیکو څرنګوالی، تر مطالعې لاندې ونیول شي.

دغه راز زده‌کوونکي به د هوتکیانو په مشرۍ په کندهار کې د لومړني افغان دولت له جوړېدو سره آشنا شي.

په کندهار کې د حاجي میرویس نیکه آرامګاه

(c) ketabton.com: The Digital Library

د څپرکي موخې

۱. د کندهار د خپلواکۍ له پاڅون څخه مخکې د افغانستان له عمومي وضعې سره د زده‌کوونکو بلدول.

۲. له ګاونډیو واکمنو لړیو لکه شیبانیانو، بابریانو او صفویانو سره د افغانستان او د دوی د اړیکو په څرنګوالي د زده‌کوونکو بلدول.

۳. په افغانستان او ایران کې د هوتکي دولت له مهمو سیاستونو او اقداماتو سره د زده‌کوونکو بلدول.

٤. په یاده شوې دورې کې د افغانستان له عمومي اقتصادي او فرهنګي وضعې سره د زده‌کوونکو بلدول.

٥.زده‌کوونکي دې د تاریخي اطلسونو او نقشو څخه کار واخیستلای شئ.

٦. د انحطاط او تجزیې دورې په ترڅ کې د مهمو تاریخي او فرهنګي شخصیتونو او پوهانو سره د زده‌کوونکو بلدول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کندهار له پاڅونه مخکې د افغانستان وضعه

د هرات د تيموري لړۍ له منځه تللو سره سم، زمونږ په هېواد کې يوه مرحله (تقريباً دوه نيمي پېړۍ) رامنځته شوې چې د افغانستان سياسي مرکزيت او يو قلمرو له منځه لاړ چې زمونږ ګاونډيو هېوادونو او قومونو زمونږ د هېواد ځينې برخې لاندې کړې.
د دې دلې مهم ځواکونه عبارت وو له: ازبکي شېبانيانو، د ايران صفويان او د هند مغولانو څخه چې له بخارا، سمرقند، اصفهان او دهلي څخه يې زمونږ د هېواد سيمې او ولايتونه اداره کول. د وضعې څېړنه او دهوتکيانو په واسطه د افغانستان د بيارغونې څرنګوالی د دې او د ځونورو راتلونکو لوستونو موضوع ده چې په ګډه به يې لولو.

په افغانستان کې شيبانيان

ازبکان د مغولو او تاتاريانو له اولادې څخه شمېرل کېږي. ازبکان خپل نوم له (ازبک خان) (۶۸۱-۷۴۳ق/۱۲۸۲-۱۳۴۲م)کلونو څخه اخلي. نوموړي د مغولو زرين پوځ چې د (والګا) رود ترڅنګ مېشت و، مسلمان کړ. نوموړی پوځ د ترکي قومونو څخه جوړ شوی و، خو رهبران يې مغولي نژاده وو.
په مرکزي آسيا کې د ازبکانو ځواک د چنګېزخان د زوی جوجي د يوه لمسي ابوالخير له خوا رامنځته شو او نوموړي د قبچاق د دښتو يوه زياته برخه ونيوله خو د ازبکو ترټولو مشهور پاچا محمد خان شيباني (شيبک خان) نومېده، نوموړی د (ابو الخيرخان) زوی و.
شيبک خان د شپاړسمې مېلادې پېړۍ په لومړيو کې د تيموري لړۍ وروستی واکمن په سمرقند کې له پښو وغورځاوه او په دې توګه يې په ماوراءالنهر کې د ازبکانو د واکمنۍ بنسټ کېښود. که څه هم د شيبانيانو واکمني موقتاً د بابر له غندنې سره مخ شوه خو په (۹۱۱ق/۱۵۰۵ م) کال شيبانيان وتوانېدل چې بابر او ملاتړي يې له مرکزي آسيا څخه وشړي.
شيبانيانو په ځانګړې توګه د سلطان حسين ميرزا له مړينې وروسته او د نوموړي د اولادونو ترمنځ د اختلاف په سبب د افغانستان لوړته پاملرنه وکړه او د تيموريانو د واکمنۍ مرکز، هرات د شيبک خان ازبک لاسته ورغی. پرته له هرات څخه، کندهار هم د شيبانيانو تر يرغل لاندې راغی او دا ښار چې تر اوسه د بابر پاچا له ورور يادګار ناصر ميرزا سره و، تر استراباده پورې مخکې لاړل.
د شيبانيانو ځواک تر (۹۱۶ق/۱۵۱۰ م) کال پورې، چې د شاه اسماعيل صفوي يرغلونه په ازبکانو جاري وو، چلېده، خو په همدې کال، په هغې خونړۍ جګړې چې مروې ته نژدې را پېښه شوه. محمد خان شيباني د خپل لسوزرو جنګيالیو سره د ايران صفوي قزلباشو له خوا ووژل شو چې په دې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ترتیب دا ځل زموږ د هېواد لویدیځې، شمالي او مرکزي برخې د صفویانو لخوا لاندې شوې.
که څه هم په موقته توګه شیبانیانو د آمو سیند غاړې ته په شاتګ وکړ خو یرغلونه او بریدونه یې په ځانګړې توګه د افغانستان په شمال باندې ونه درېدل او دوی د افغانستان په شمال کې بدخشان تر میمنې او بادغیس پورې او همدارنګه دهېواد په لویدیځ کې یې هرات څو څو ځلې تر یرغل لاندې ونیو. په ځانګړې توګه عبیدالله خان چې د محمد سلطان خان زوی او د ابو الخیر لمسی و، د ازبکانو ځواکمن پاچا د (۳۳) کلونو واکمنۍ په ترڅ کې اووه ځله زموږ په هېواد او په ایران یرغلونه کړي چې ډېر زیات زیانونه یې را اړولي دي.
شیبانیانو تر (۱۰۰۷ق/ ۱۵۹۹م) کلونو پورې واکمني چلولې ده. د دوی پلازمېنه زیاتره وخت سمرقند او ځینې وخت بخارا هم وه، او څه د پاسه یوه پېړۍ یې زموږ د هېواد شمالي او لویدیځ ولایتونه او سیمې یې تر بریدونو او یرغلونو لاندې نیولې وې.
د ازبکو استراخانیان هم په مرکزي آسیا کې د شیبانیانو پر ځای پر تخت کېناست. د افغانستان په وړاندې یې هماغه د شیبانیانو سیاست پر مخ بېوه او ځینې وخت به یې زموږ د هېواد شمالي ولایتونو لکه تخار او بلخ او ځینې وخت به یې هرات ته لاس غزولو. د استراخانیانو حکومت تر (۱۱٦۷-۱۷٥٤م) کال پورې دوام وکړ.

په ټولګي کې فعالیت

زده‌کوونکي له نقشې څخه په ګټې اخیستنې سره د والګا رود په شاوخوا کې د مغولي زرین پوځ د میشت کېدو موقعیت او د افغانستان شمال ته د شیبانیانو د لاس رسي لارې په ګوته کړي.

پوښتنې

۱- شیبانیان د نژادي پلوه په کومې ډلې پورې تړل کېږي؟
۲- د شیبانیانو د ځواک اصلي مرکز چېرې واقع و او ولې یې افغانستان ته پاملرنه وکړه؟
۳- شیبک خان (محمد خان شیباني) د چا پواسطه او چېرته ووژل شو؟
٤- د هغو ولایتونو نومونه واخلئ چې زیاتره وخت به د شیبانیانو او استراخانیانو د برید او یرغلونو لاندې راتلل.

له ټولګي څخه دباندې فعالیت

زده‌کوونکي دې له علمي سرچینو څخه په ګټې اخیستنې سره د شیبک خان د کړنلارې په هکله یوه لنډه مقاله وليکي او په راتلونکي درسي ساعت کې دې خپلو ټولګیوالو ته وړاندې کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بابریان او افغانستان

یوه بله سلسله چې د تجزیې او ګډ وډې په وخت کې یې زمور د هېواد په ځینو برخو واکمني چلوله، بابریان وو. دوی هم د افغانستان د ډېرو ګاونډیو ځواکونو سره په سیالۍ کې زمور د هېواد د پریشانۍ، په شاتګ او د ټولنیزو، سیاسي او اقتصادي خنډونو لامل وګرځېدل.

په دې لوست کې به د افغانستان د تاریخ په دې برخه کې د بابریانو مهم اقدامات او خوځښتونه ولولئ.

ظهیر الدین محمد بابر (د ببر په معنا) د تیمور له لمسیانو څخه ګڼل کېده. پلار یې په ازبکستان کې د اندیجان حاکم و. نومورې د ازبک شیباني ځواک د خپرېدو په لار کې په (۹۰۶ق/۱۵۰۱ م) کال له مرکزي آسیا څخه افغانستان ته وتښتېد. او د بېرته راستنېدو په لومړیو ورځو کې د تخارستان سیمه ییز حکمران خسرو شاه ورته ښه راغلاست ووایه.

خسرو شاه په دې وخت کې زمور د هېواد په شمال کې تر بدخشان پورې سیمې په واک کې درلودې. بابر وروسته له دې درې زره هغه لښکرې ورسره ملګرې کړې چې د خسرو شاه له ځواک څخه بېلې شوې وې؛ نو د کابل په لور وخوځېد. کابل په دې وخت کې د هرات د تیموریانو له خوا د یوه حاکم په واسطه اداره کېده. بابر په (۹۱۰ق/۱۵۰۴ م)کال کې کابل پرته له جګړې او مقاومته ونیوه. دغه وخت چې د تیموریانو د واکمنۍ لړۍ د کمزورۍ او سقوط سره مخامخ وه. بابر بېلابېلو برخو ته پوځونه ولېږل او په ټولیزه توګه، پرته د افغانستان د لویدیځو او شمال لویدیځو ولایتونو څخه پرته چې د ایران د صفویانو تر واک لاندې وو، نور وتوانېد چې د افغانستان زیاتره سیمې لاندې کړي.

بابر وروسته له دې چې زمور د هېواد په مهمو برخو یې واک ټینګ کړ. د هند په لور یې پوځونه وخوځول چې په پایله کې یې د کابل، بدخشان او کندهار د ځواکونو په واسطه یې ډهلی ونیو چې په دې ترتیب په هند کې د یوې نوې لړۍ بنسټ کېښودل شو چې ترڅو پیړیو یې دوام وکړ.

بابر په (۹۳۵ق/ ۱۵۲۹م)کال کې مړ شو او د خپل وصیت له مخې په کابل کې خاوروته وسپارل شو. وروسته له ده څخه د نومورې تر ټولو مشر زوی ناصر الدین محمد همایون چې په کابل کې زېږېدلی و، رامنځته شو. نومورې د خپلو وروڼو او په هند کې د افغانانو له مخالفت سره مخامخ شو.

همایون د افغان شېر شاه سوري د پوځونو له خوا د قنوج په سیمه کې ماتې وخوړه او څرنګه چې وروڼو یې هم له ده سره مرسته ونه کړه، نو په ایران کې یې د صفوي طهماسب دربار ته پناه یوړه. په دې وخت کې د افغانستان زیاته برخه له بدخشان نه تر کندهار پورې د بابر د بل زوی کامران میرزا په لاس کې وه. خو همایون داځل په (۹۵۱ق/۱۵۴۴ م) کال کې افغانستان ته راوګرځېد او د (۱۳) زرو صفوي قوتونو په مرسته یې د افغانستان زیاتې سیمې او ولایتونه لاسته راوړل. داځل یې له لسو کلونو څخه وروسته خپل هغه وروڼه له مخې لیرې کړل چې له نومورې سره مخالف وو.

همایون په دې موده کې خپل وروڼه هر یو ناصر میرزا، میرزا هندال او میرزا عسکري ووژل او کامران

(c) ketabton.com: The Digital Library

میرزا یې ړوند کړه وروسته هند ته یې پام شو او د سلطان ابراهیم لودی له ماتې وروسته؛ دویم ځل د دهلي پر ګډۍ کښناست. د همایون له مړینې وروسته د هغه زوی جلال الدین اکبر د دهلي پر تخت کښناست. او نوموړي د کابل او غزني اداره خپل ورور محمد حکیم ته وسپارله خو دی په خپله د افغانانو سره په دوامداره شخړو کې بښکېل و، په ځانګړې توګه د خیبر، سند او ژوب په سیمو کې د دوی پاڅونونه یې شنډ کړل.

د جلال الدین اکبر له مړینې وروسته، د ده زوی سلیم شاه د جهانګیر په نامه د هندوستان واکمن شو. د همدې واکمن په وخت کې چې صفوي شاه عباس په کندهار یرغل وکړ او نوموړی بښار یې ونیوه. د صفویانو او ګورکانیانو د واکمنۍ په موده کې دکندهار برخلیک د یادو شوو دوو لړیو ترمنځ د اختلاف او شخړو مهم ټکی و او ډېر ځله ګورکاني هند او صفوي ایران د دې په سر سره نښتي دي.

د جهانګیرځاینا‌ستو، شاه جهان او اورنګزیب هم دخپلو واکمنیو د پراختیا په سبب د افغانستان په هکله ډېرې هلې ځلې کړې دي او په ځانګړې توګه د کابل، بلخ او بدخشان برخلیک د دوی او د سیمه ییزو ځواکونو ترمنځ د اختلاف بل لامل بلل کېږي. لکه د بلخ او د هېواد د شمالي سیمو د لاندې کولو پر سر د بابر او ازبکو استراخانیانو ترمنځ جګړې او همدارنګه د ختکو او یوسفزیو سره ټکرونه او نښتې چې په ځانګړې توګه د اورنګزیب په (۵۰) کلنه دوره کې رامنځته شول او د پراخه زیانونو سبب وګرځېدل.

دغو پېښو څرګندوله چې د افغانستان د تجزیې موده را رسېدلې، د پردیو لاسوهنو او د ځینو سیمه ییزو مخورو له خوا د بهرنیو ځواکونو ملاتړ د دې لامل وګرځېد چې ګډوډي او انحطاط رامنځته شي چې د ډېرې مودې لپاره دا وضعه ناسمه پاتې شوه.

په ټولګي کې فعالیت

زده‌کوونکي دې هغه دلایل ووایي چې له افغانستان څخه یې د بابر پاملرنه هندوستان ته واړوله.

پوښتنې

۱- بابر شاه د کومو پوځونو په مرسته کابل او ورپسې هندوستان ونیوه؟

۲- همایون ولې صفوي دربار ته پناه یوړه؟

۳- د هغو اختلافي سیمونومونه واخلئ چې د بابریانو او صفویانو او همدارنګه د بابریانو او استراخانیانو تر منځ شخړې په کې رامنځته کېدې؟

٤- ولې بابر پاچا د افغانستان لویدیځ ولایاتو ته لښکر کښي ونه کړه؟

له ټولګي څخه دباندې فعالیت

زده‌کوونکي دې د بابر پاچا د (بابر نامې) په نامه د خاطراتو ټولګې په هکله یو لنډ مطلب وليکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

افغانستان او صفویان

د اېران صفویانو زمورِ د سیمې نیولو ته هم هغه وخت سترګې پټې کړې وې چې زمورِ د تاریخ هغه دوره د انحطاط او تجزیې په نوم یادیده. زمورِ په هېواد باندې د یرغل د هڅو په درشل کې او یا د دوو هم مهاله کورنیو (ازبکانو او ګورګانیانو) سره د سیالۍ په پایله کې زمورِ هېواد ته درانه زیانونه واوښتل. که څه هم له صفویانو سره د دوی ترلاس لاندې نورو سیمو کې هم مخالفتونه موجود وو، خو په ځانګړې توګه افغانان له هغو لومړیو ډلو څخه شمېرل کېږي چې له صفویانو څخه یې خپله خپلواکي ترلاسه کړه، دغه موضوعګانې به په دې لوست کې ولولو.

صفویان په اصل کې د شیخ صفي الدین اردبیلي له نسله دي. شیخ صفي الدین اردبیلي په اتمه هجري ېېړۍ کې اوسېده. چې په ایران او کوچنۍ آسیا یا عثماني خلافت کې یې ډېر مریدان او پیروان وو، خو په اېران کې د صفوي لړۍ د حکومت بنسټ ایښودونکي شاه اسماعیل ګڼل کېږي. نومورِي د شیخ صفي الدین اردبیلي له لمسیانو او په عین وخت کې د خپل عصر د صفویه طریقت پیرو او مرشد و. شاه اسماعیل په خپلو مخالفانو باندې له برلاسۍ وروسته په (۹۰۷ق/۱۵۰۱ م) کال کې د اېران د تبرېز په ښار کې د تاج ایښودلو مراسم تر سره کړل. نومورِي د خپلو تکړه مریدانو او ترک ټبره ملا ترکوونکو (قزلباشو) په واسطه د اېران په دولت کې د حکوت د بنسټ ټینګولو نه وروسته د افغانستان لوري ته پاملرنه وکړه.

په اصفهان کې د شیخ لطف الله جومات

افغانستان په دې وخت کې د ازبکي شیباني ځواکونو او بابریانو له خوا اداره کېده، سره له دې چې د شاه اسماعیل او بابر پاچا اړیکې ډېرې ښې وې او هر وخت به یې د لیکونو په واسطه اړیکې ټینګولې خو د شاه اسماعیل او شیبک خان اړیکې ډېرې خرابې وې. چې په (۹۱۶ق/۱۵۱۰ م) کال کې د صفویانو او ازبکانو ترمنځ په خونړۍ جګړه کې چې مروې ته نژدې پېښه شوه، ازبکانو سخته ماتې وخوړه، د ازبکانو پاچا شیبک خان ووژل شو اود (۳۰) زرو په شاوخوا کې ځواکونه یې یا مړه او یا بندیان شول. له دې وروسته له هرات څخه تر بلخ او هزاره جاتو پورې سیمې د صفویانو په لاس ورغلې او د امو سیند د ازبکانو او صفویانو ترمنځ د پولې په توګه وټاکل شو.

که څه هم دا وضعیت په خپل حال پاتې نشو زمورِ د هېواد لویدیځې او شمالي سیمې ډېر ځله د دواړو لورې د شخړو او یرغلونو په ډګر بدل شول خو د یادو شوو سیمو خلک له دواړو لورو څخه ناراضه وو. شاه اسماعیل صفوي په (۹۳۰ق/۱۵۲٤ م) کال کې مړ شو او له ده وروسته د نومورِي زوی طهماسب د اېران پاچاهۍ ته ورسېد. د دې پاچا په وخت کې همایون ګورکاني چې د خپلو وروڼو او افغانانو د مخالفت سره مخ شوی و، اېران ته پناه یوړه. نومورِی له څه مودې وروسته د صفوي دولت (۱۳) زرو جنګي ځواکونو (قزلباشو) سره افغانستان ته راوګرځېد، کندهار او کابل یې ونیول او د کندهار سلطنتي خزانې یې د اېران دربار ته ولېږلې، اېراني سرتېري له دې وروسته په کندهار کې میشت شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د طهماسب د مړينې له کبله صفويان له داخلي بحران سره مخ شول او له دې وروسته زمور هيواد هم د صفويانو د رقيبانو (ازبکانو او ګورکانيانو) د يرغلونو سره مخ شول. خو د عباس ميرزا د بيا را څرګندېدو سره سم. چې په لومړي سرکې يې هرات خپله پلازمېنه وټاکله او وروسته يې ټول اېران لاندې کړ، کندهار يې هم دخپلې ولکې لاندې راوست. د کندهار برخليک هر وخت د صفويانو او ګورکانيانو دوو لړيو د اختلاف سبب و.

د دې ځواکمن پاچا له مړينې سره سم په (۱۰۳۸ق/ ۱۶۲۹ م) کال کې د دې کورنۍ له منځه تلل هم پيل شو، ځکه د نومورې نه وروسته بې له ځنډه، شاه صفي ډګرته راغی او کابو د صفوي کورنۍ ټول غړي يې ووژل. د ده په وخت کې په (۱۰۴۷ق/۱۶۳۰م) کا ل عثمانيانو په لوېديځ کې بغداد او ګورکانيانو په ختيځ کې کندهار ونيوه په دې توګه دويم شاه عباس يو ځل بيا له ګورکانيانو څخه د کندهار د نيولو هڅه وکړه تر څو يې خپلې ولکې لاندې راولي. که هر څو د هندوستان د پاچا شاه جهان له خوا د کندهار د بيانيولو هڅه وشوه او خپل زوی اورنګزيب يې د کندهار د نيولو لپاره ولېږه خو هڅو يې نتيجه ورنه کړه او ګورکانيان د دې ښار د او يا ورځو محاصرې وروسته، په شاتګ ته اړ شول. له دې وروسته، سره له دې چې په ښکاره توګه، کندهار د صفويانو له واک لاندې و خو د صفوي مامورينو د بد چلند له امله ورځ په ورځ تر خلک ناراضه کېدل او ځينې وخت به د خلکو د پاڅونونو لامل ګرځېدل. په پايله کې د دې پاڅونونو له ډلې څخه د يوه پاڅون په ترڅ کې چې حاجي ميرويس خان هوتک له خوا تر سره شو. افغانان وتوانېدل. چې د صفوي حکومت له ظلمه ځان خلاص او خپله خپلواکي ترلاسه کړي.

په ټولګي کې فعاليت

زده‌کوونکي دې په ټولګي کې له نقشې څخه په ګټې اخيستنې سره، هغه سيمې په نښه کړي چې د ازبکانو يا صفويانو د برید او يرغلونو ډګرو.

پوښتنې

۱- د صفوي لړۍ بنسټ ايښودونکی څوک و او نومورې ولې د افغانستان په لور لښکر وخوځاوه؟

۲- د صفويانو سره په شخړو کې هغه ښکېلې ډلې څه نومېدې، چې د افغانستان په ګاونډ کې يې خواکونه ميشت وو؟

۳- همايون ګورکاني د کوم اېراني پاچا په مرسته د افغانستان په لور لښکر کښي وکړه او کوم ولايتونه يې لاسته راوړل؟

٤- د کندهار برخليک ولې د صفويانو او ګورکانيانو د اختلاف سبب وګرځېد؟

له ټولګي څخه دباندې فعاليت

زده‌کوونکي دې له علمي سرچينو څخه په ګټې اخيستنې، د ګورکانيانو او صفويانو په بهرنۍ سياست کې د کندهار د اهميت په هکله يوه مقاله وليکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د حاجي میرویس نیکه ترمشرۍ لاندې د کندهار پاڅون

په هېواد کې د یوې اوږدې دورې ګډوډیو نه وروسته د هوتکیانو تر مشرۍ لاندې په ګرګین د ظلم څخه د خلاصون په موخه د کندهار د خلکو پاڅون یو مهم ګام ګڼلی شو. د غه ګام د پردیو د غلامۍ کړۍ ماتې کړې او د سیمه ییزه خپلواکه حکومت بنسټ یې کېښود.
د نوموړي پاڅون د بریالیتوب څرنګوالی او په کندهار کې د هوتکي دولت جوړښت د دې لوست موضوع ده چې تاسې به یې ولولئ.

څرنګه چې په دوو تېرو لوستونو کې موولوستل، د هرات د تیموریانو دولت له ړنګېدو وروسته د دوه نیمو پېړیو په ترڅ کې د افغانستان سیاسي او ټولنیز یووالی له منځه لاړ. او پرته له هغو خانانو او د سیمو مخورو څخه چې د خپلې واکمنۍ لمنه یې غوړولې وه، په ځانګړې توګه بابریانو او صفویانو د خپلو تېریو او ظلمونو په واسطه زمور خلک تر پزې رسولي وو. هغه ظلمونه او ستمونه چې د ګرګین خان په نامه د یوه ګرجي الاصله ایراني له خوا په کندهار او ددې په شاو خوا سیمو کې کېدل زیاتره خلک یې د پردیو پر ضد پاڅون ته هڅولي وو. په پایله کې دغه پاڅون د(۱۱۲۱ ق/ ۱۷۰۹م)کال په پسرلي کې رامنځته شو او میرویس خان چې په ((حاجي میرویس نیکه)) مشهور و د دې پاڅون مشري کوله.

د کندهار پاڅون د رامنځته کېدو لاملونه

د ایران د صفوي لړۍ وروستی پاچا شاه سلطان حسین نومیده. نوموړي په اصفهان کې دواکمنۍ په لومړیو کلونو کې د همدې هېواد په ختیځ کې د مېشتو قومونو لکه براهوي، بلوڅانو، ناروېي، ریګي، رخشاني او افغانانو د پاڅونونو د ټکولو په لټه کې شو. د دې ډول حرکتونو لمنه د کرمان، یزد او د نائین تر څنډو رسېدلې وه. نژدې په همدې ورځو کې ازبکانو په خراسان کې او کردانو د ایران په لوېدیځ کې د صفوي حکومت په ضد فعالیتونه پیل کړي وو. که څه هم د شاه سلطان حسین د پاچاهۍ په پیل کې ګرګین خان په ګرجستان کې بغاوت کړی و او په همدې ورځو کې په اصفهان کې اوسېده خو سره له دې ټولو ګرګین خان د ایران د دربار له خوا د یادو شوو پاڅونونو د ټکولو لپاره مامور شو. په دې کار کې د ګرګین خان بریالیتوب د دې لامل شو چې د صفویانو له خوا د کندهار عمومي حکمران وټاکل شي. ځکه د (۱۱۱۵ ق/ ۱۷۰۳م) کال په وروستیو کې بلوڅان د میرسمندر په مشرۍ کندهار ښارته ننوتي وو او صفوي مامورینو ته یې ستونزې زېرولې وي. ګرګین د کندهار ښار ته له ننوتو وروسته د هغه ځای اداره په لاس کې ونیوله. او څرنګه چې نوموړی غوسه ناک، سخت ګیر او خونړی سړی و، نو ځکه یې د کندهار په اوسېدونکو هر ډول زور زیاتي پیل کړ. نوموړي د قومونو او قبیلو مشران

(c) ketabton.com: The Digital Library

تر فشار لاندې راوستل او ځینې خوښې لامړه کړل. له دې قومي مشرانو څخه یو حاجي میرویس خان نومېده چې د ګرګین خان سترګې پرې ولګېدې.

د کندهار د پاڅون مشر حاجي میرویس نیکه

حاجی میرویس نیکه

میرویس خان چې په حاجي میرنیکه مشهور و د یوو لسمې پېړۍ په وروستیو کې د نازو په نامه له یوې مور څخه وزېرېده. پلار یې شاه عالم خان د هوتکو قوم له مشرانو او مور یې د سلطان ملخي توخي لورو وه، چې دواړه د قومي مشرانو څخه ګڼل کېږي. په را وروسته وختونو کې څه وخت چې میرویس خان د جعفرخان سدوزي له لور سره واده وکړ، نو د نوموړي ټولنیز حیثیت یې نور هم لوړ کړ او څرنګه چې نوموړی یو نیک خویه، فصیح، مدبر او زړور سړی و او په څنګ کې یې د سوداګرۍ دنده هم پر مخ بېوله ، نو ځکه په ډېره اسانۍ سره یې وکولای شول چې د هغه وخت کندهار په خلکو کې ښه ځای ولري. د همدې خصوصیاتو او صفاتو په لړلو سره د کندهار ښار د مشر په توګه هم و ټاکل شو. او په دې مقام کې د خلکو او د هغه وخت کندهار د حکومت تر منځ د واسطې په توګه یې د نده تر سره کوله خو په همدې حا ل کې یې هم د خلکو له ملاتړ څخه لاس وانه خیست او په هغه لیک کې چې د ده لاسلیک پرې و د ګرګین له زور زیاتي څخه په کې شکایت شوی و، او د اصفهان دربار ته ولیږل شو، دا کار د دې لامل وګرځید چې میرویس خان دا ځل د ګرګین له خوا ونیول شو او لاس نیولی اصفهان ته ولیږل شو.

زیات وپوهیږی:

د (۱۱۱۹) هجري قمري کال د ذالقعدې میاشتې په نولسم نېټه ، کله چې زمونږ ملي قاید میرویس نیکه د ملت په مرسته، ګرګین د یرغلګرو قوماندان یې په کندهار کې په قتل ورساوه او په هغه ځای کې یې د یو ملی حکومت بنسټ کېښود، په دغه موقع کې د افغانان مشرانو او کشرانو په وړاندی یو ملي افغاني جرګه کې داسې وویل((که تاسو له ما سره یو موټی شئ او زما ملا وترئ، نو په دې صورت کې ډېر ژر دا امکان شته چې بریا به تر لاسه شي؛ تر څو د اسارت او ذلت منحوس څنځیر له خپلې غاړې څخه لرې کړو. او په مقابل کې د خپلواکۍ افتخار او د عزت بیرق د هېواد په ګوټ ګوټ او د نړۍ د آزاده ملتونو په منځ کې پورته کړو او هر کله چې د پردیو د سلطې هغه یوغ له خپل ځان څخه لرې کړو او په لوی خدای تبارک او تعالی باندې توکل وکړو او مطمئن اوسو، څرنګه چې زمونږ نیت پاک دې نو د لوی خدای ﷻ په استعانت وروستني بریالیتوبونه زمونږ دي))

(c) ketabton.com: The Digital Library

میرویس خان مخکې له دې هم اصفهان ته سفرونه کړي وو، او د صفوي حکومت او دربار له وضعې سره بلد و له همدې کبله نوموړی وتوانید چې نه یوازې ځان ته برائت ورکړي، بلکې د صفوي پاچا، سلطان حسین حضور ته هم ورسېد او مکې ته یې د تللو اجازه هم ترې واخیسته.

نوموړي په مکې معظمې کې له مذهبي عالمانو څخه د ګرجي ګرګین په وړاندې د پاڅون فتوا تر لاسه کړه.

له اصفهان څخه کندهار ته د حاجي میرویس خان له راګرځېدو سره سم د اصفهان د دربار وضعه د ګرګین په وړاندې بدله شوې وه ځکه داسې ګنګوسې اوربدل کېده چې د روسیې امپراطور پترکبیر غواړي ارمنستان او ګرجستان له خپل هېواد سره ونښلوي او داهم ویل کېدل چې ګرګین له خپلو عسکرو غواړي د پترکبیر سره یوځای شي. دغه ګنګوسه د دې لامل وګرځېده چې میرویس خان له ډیر واک سره کندهار ته بیرته وګرځي.

نوموړي داځل په کندهار کې په ډیرې حوصلې سره د پردیو په وړاندې د پاڅون لارې برابرې کړې. په ځانګړې توګه د(۱۱۲۱ ق / ۱۷۰۹ م) کال په پسرلي کې هغه وخت چې ګرجي لښکرې د ګرګین د وراره الکساندر تر مشرۍ لاندې د کندهار ښار د ارغستان اوکاکړو د ځپلو په نیت وتلې وې نو ډیره ښه زمینه مساعده شوه، او په دې حال کې میرویس خان او نور قومي مشران د مانجې په نامه په یوه سیمه ییزه جرګه کې سره راټول شول او له میرویس خان سره یې ژبه وکړه، او همدارنګه د کندهار د اوسېدونکو په مرسته یې ګرګین او د صفوي دولت ډیرې ګرجي لښکرې د کندهار ښار نه د څلویښتو میلو په واټن د (ده شیخ) کلي کې غافلګیره او بیا ووژلې.

الکساندر او پوځونه یې هم چې د کاکړو له جګړې څخه راګرځېدلي وو، په ډېرې سختۍ وتوانیدل چې له جګړې وتښتي او ګرشک ته ځان ورسوي.

په کندهار کې د حاجي میرویس خان مزار

په دې ترتیب د بایزید انصاري تر مشرۍ لاندې د روښاني پاڅون، د خوشحال خان خټک تر مشرۍ لاندې د خټکو تر پاڅون وروسته د کندهار پاڅون د خپلواکۍ ګټلو په لاره کې دریم ګام ګڼلی شو. چې د کندهار د خلکو په ګډون تر سره شو، چې زموږ په هېواد کې یې د خپلواکه دولت بنسټ کېښود.

د صفویانو له خوا د کندهار د بیانیولو پرله پسې هڅو، څه ګټه ونه کړه او میرویس خان، ملي قاید ترنامه لاندې اته کاله د

(c) ketabton.com: The Digital Library

کندهار واګې په لاس کې درلود. حاجي ميرويس نيکه په(۱۱۲۷ ق/ ۱۷۱۵م) کال کې مړشو.

ميرعبدالعزيز

له ميرويس نيکه وروسته د ده ورور مير عبدالعزيز خان د کندهار د حکومت مشري تر لاسه کړه خو نوموړي له دوو کالو حکومت څخه وروسته، د حاجي ميرويس خان د کړنلارې خلاف له صفوي حکومت سره د پخلاينې لاره خپله کړه. د قومونو او قبيلو مشرانو د نوموړي دا کار خوښ نشو او د حاجي ميرويس خان زوی ميرمحمود يې د خپل کاکا وژلو ته تشويق کړ او نوموړی وروسته له دې کاره په(۱۱۲۹ ق/ ۱۷۱۶م) کال کې د کندهار د حکومت پر تخت کيناست.

په ټولګي کې فعاليت

زده‌کوونکي دې په دوو بېلابېلو ډلوکې د تاريخ په هماغه شېبو کې د کندهار ولايت د کورنۍ او بهرنۍ ارزښت په هکله خبرې اترې وکړي.

پوښتنې

۱) ګرګين څوک و او ولې د اصفهان د دربار له خوا د کندهار حکمران وټاکل شو؟

۲) ولې حاجي ميرويس د رهبراو مشر په توګه د کندهار د خلکو د منلو وړ وګرځيد؟

۳) د صفوي دربار په وړاندې د حاجي ميرويس نيکه او ميرعبدالعزيز د سياستونو تر منځ توپير څه و؟

٤) ولې د ايران دربار حاجي ميرويس نيکه ته اجازه ورکړه چې له اصفهان نه کندهار ته بېرته وګرځي؟

له ټولګي څخه دباندې فعاليت

زده‌کوونکي دې د کندهار د پاڅون په وخت کې د هېواد د سياسي او ټولنيزې وضعې په هکله يو مطلب وليکي او د لوست په راتلو نکې درسی ساعت کې دې وړاندې کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ايران کې د هوتکي دولت رامنځته کېدل

په ايران کې د هوتکي دولت رامنځته کېدل د افغانستان او ايران د تاريخ له مهمو برخو څخه شمېرل کيږي. که هر څو د دې دولت عمر ډېر لنډ و خو په همدې کم وخت کې بياهم ډېرې مهمې پېښې رامنځته شوې. لکه له ايران څخه د ځينو سيمو د بېلولو په هکله عثماني او د روسيې نقشه، په ختيځ کې د سيمه ييزو حکومتونو جوړښت او ځينې نورې داسې پديدې چې په دې لوست کې به ورسره بلد شو.

شاه محمود هوتکي

شاه محمود هوتکي

په کندهار کې د حاجي ميرويس خان مشر زوی شاه محمود په تخت کښېناست چې په هرات کې د ابدالیانو د واک ته رسيدو سره همزمان وو؛ ځکه چې په هرات کې افغانانو د کندهار له پاڅون څخه په الهام اخيستلو، هرات په (۱۱۲۹ هـ ق/ ۱۷۱۶ م) کال د روژې په مياشت کې ونيو. د افغانانو مشري په دې وخت کې عبدالله خان سدوزي کوله. څرنګه چې شاه محمود هڅه وکړه چې د سيستان د نيولو طرحه عملي کړي، په لومړي سرکې له ابدالیانو سره مخ شو چې هرات يې په ولکه کې و. په دې جګړې کې هوتکيانو بريالیتوب تر لاسه کړ او په جګړې کې د هرات د ابدالیانو د مشرعبدالله خان زوی اسدالله خان ووژل شو.

شاه محمود هوتک چې د ايران داخلي وضعه يې خارله، يو کال وروسته يې بيا خپل لښکر هغې خواته وخوځاوه، او دا ځل يې لښکرې له ريګستان څخه په تېرېدو سره ترکرمان پورې ورسېدې، خو د هغوی حکمران سره له پخلاينې وروسته کندهار ته راوګرځيد. نومورې په کندهار کې د خپلو لښکرو د پياوړيتوب لپاره ځينې ګامونه اوچت کړل او په (۱۱۳۵ ق/ ۱۷۲۲ م) کال کې له (۲۵) زره لښکرو سره د هزاره او بلوڅو په ګډون د ډېرو قومونو سرتېرو سره يو ځل بيا د ايران په لور يون پيل کړ، نومورې دا ځل له کرمانيانو سره سوله وکړه، په يزد کې د صفويانو پلازمينې اصفهان ته يې ځان ورساوه او د دوارو لورو ترمنځ د ګلناباد په سيمه کې سخته نښته وشوه، که څه هم په لومړيو کې صفويانو څه بريالیتوب تر لاسه کړ خو افغانان وتوانېدل چې ايراني سرتېرو ته سخته ماتې ورکړي، او د پنځوسو زرو لښکرو له ډلې يې (۲۵) زره تنه ورووژل. د فرح آباد ټينګه شاهي کلا، د جلفا ارمني مېشته سيمه چې د اصفهان ښار جنوب لورته په يو نيم ميلي واټن کې پرته ده ونيوله، او زيات غنيمتونه د افغانانو لاسته ورغلل. په دې حالت کې شاه محمود د سولې غوښتنه وکړه خو صفوي پاچا، شاه حسين د ده له غوښتنو سره موافق نشو. په پايله کې دا ښار په پوره ډول د افغانانو په محاصره کې داخل شو.

د اصفهان محاصره نهه مياشتې اوږده شوه او د دې په ترڅ کې د اصفهان خلک له سختې لوږې سره مخ شول د ايران پاچا(سلطان حسين صفوي) په پاى کې تسليم شو او په خپله يې د شاه محمود هوتک پر سرتاج کېښود او د ايران د خزانو کلي يې ورته وسپارلې چې په دې توګه شاه محمود هوتک د ايران واکمن (شاهنشاه) شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

شاه محمود هوتک د اصفهان د واک پر ګدۍ

اصفهان ته د شاه محمود له ننوتو وروسته په دې ښارکې د غذايي موادو د قحطۍ څخه راپېښو شوو ستونزو د مخنيوي او نظم لپاره لازم تدابير ونيول شول. شاه محمود د خلکو د اعتماد د لاسته راوړلو په خاطر له اوسيدونکو سره بد چلند منع کړ، اداري پوستونه او مقامونه يې پخوانيو مسؤولينو ته وسپارل، د قضاوت له پست څخه پرته چې هغه يې يوه افغان قضاوت پوه ملا پير محمد مياجي ته وسپاره، نومورې په ايران کې له مېشتو بهرنيانو سره هم ښه چلند کاوه خو دې حالت تر ډېره دوامِ ونه کړ؛ ځکه ځينې داسې پېښې رامنځته شوې چې شاه محمود او ځينې افغانان يې اړ ايستل چې نسبتاً تنده لاره غوره کړي. يوه پېښه داوه چې په قزوين کې (۱۰۰۰) تنه افغانان په بې پروايۍ سره ووژل شول. بل دا چې هغه مالي کاروان هم د سيستان په سيمه کې چورشو چې له اصفهان څخه د کندهار په لور روان و، او له بلې خوا داسې ګنګوسې هم ترغوږو کيده چې د روسيې امپراطور پتر کبير د ايران د نيولو په نيت راوتلی دی او د نومورې هېواد ځواکونه د (۱۷۲۲ م) کال په جولای کې د والګا له رود څخه تيربږي او په ايران د يرغل لپاره د هشتدر خان ښار خپل نظامي مرکز ټاکي. عثماني ترکانو هم له وخت څخه په ګټې اخيستنې سره د ايران څو سرحدي ښارونه ونيول. دغه پېښې د دې لامل وګرځيدې چې په حکومتي رويه او د شاه محمود په شخصي کړنلاره کې بدلون را شي.

که د ګلپايګان، خوانسار، کاشان او شېراز په ښارونو کې د اصفهان افغاني دولت ته د نصر الله خان په مشرۍ وفادارو کردانو او د زبردست خان په مشرۍ افغاني ځواکونو په ګډه سره ډېر بريالیتوبو نه ترلاسه کړل خو په خپله شاه محمود د ډېرو بوختياوو په سبب اوهم د افغانانو د خپلمنځيو سيالیو او اختلافونو په وجه په دماغي ناروغۍ اخته شو.

په دې حال کې قومي مشرانو د مير عبدالعزيز زوی شاه اشرف هوتک د اصفهان د هوتکي دولت مشرۍ ته غوره کړ او شاه محمود هوتک يې له واکه ګوښه کړ. په اصفهان کې د شاه محمود پاچاهي درې کاله دوام وکړ.

شاه اشرف هوتک

شاه محمود هوتک په (۱۱۳۷ ق/۱۷۲٤ م) کال د شعبان په مياشت کې مړشو او داسې هم ويل کيږي چې د شاه اشرف په امر د خپل پلار د غچ په بدل کې ووژل شو.

شاه اشرف هوتکی

شاه اشرف د اصفهان په تخت باندې له کښيناستلو وروسته د يوه ليک په ترڅ کې د مخلوع سلطان حسين له زوي طهماسب ميرزا څخه چې په همدغه ورځو کې د افغاني ضد لښکر په جوړولو بوخت و، وغوښتل چې له ده سره ملګری شي ترڅو د روسانو او عثمانيانو لاسونه د ايران څخه غوڅ کړي. شاه اشرف زياتره له لاسه تللي ولايتونه لکه يزد، کرمان، قزوين، تهران، قم او ساوه بېرته ونيول. د نومورې سپه سالار، سيدال خان ناصري نومېده چې د اصفهان د افغاني دولت د ساتنې په لاره کې د بري هلې ځلې وکړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له بهرنیانو سره نښتې

شاه اشرف په اصفهان کې هغه وخت واکمنۍ ته ورسېد چې ایران د عثماني ترکیې او روس له ناوړه اقداماتو سره مخ و او نومورو دوو ګاونډیو ځواکونو د ایران د ځینو برخو لاندې کولو هڅې وکړې. د روسیې دولت ځینې سرحدي سیمې لکه دربند، رشت او باکو تر مازندرانه پورې ونیولې او عثمانیانو هم د ایران لویدیځ ولایتونه د سلطانیې، ابهر او د کرمان شاهان په ګډون لاندې کړل. په داسې حالاتو کې، شاه اشرف باید لومړی خپل داخلي مخالفین په ځای کښېنولې وای او له بله پلوه یې باید د ایران د ځمکنۍ بشپړتیا او خپلواکۍ ساتلو لپاره له عثمانیې او روسیې سره ډغرې وهلې وای.

له ترکانو سره جګړه

سره له دې چې شاه اشرف د یوه اسلامي امت د یوه جز په توګه له ترکانو څخه د دوستۍ غوښتنه وکړه خو ترکانو(٦٠) زره سرتېرو او (٧٠) عرادو توپونو سره د اصفهان په لور مخ په وړاندې لاړل. په همدې وخت کې د ترکانو هغه ډلې ځواکونو چې د کرد او فراهان ښار د نیولو لپاره مامور شوي وو، شاه اشرف ته پیغام راولېږه چې ایران پریږدي او سلطان حسین مخلوع موږته وسپاري خو شاه اشرف هوتک هغه وړاندیز ردکړ او د جګړې لپاره یې چمتو والی ونیوه. ترکان او افغانان د کرد په ښار یا په بله وینا د اصفهان او یزد ترمنځ سیمه کې سره مخامخ شول او د دې په ترڅ کې ترکانو سخته ماتې وخوړه. د (١٢) زرو په شاوخواکې ترکي سرتیري ووژل شول او ډېر غنیمتونه تر پاتې شول.

له روسانو سره نښته

شاه اشرف د هغو روسانو سره د مقابلې لپاره چې د ایران په خاورې کې مخ په وړاندې تللي وو، خپل سپه سالار، سیدال خان ناصري یې سره له افغاني ځواکونو ورولېږه. په پایله کې په هغې جګړې کې چې په رودسر کې پېښه شوه، روسانو سخته ماته وخوړه او د روسي ځواکونو مشروارلوف د سولې غوښتونکی شو. په دې وخت کې افغانانو هم چې ځانونو ته یې د ایران په خټیځ کې سختې ستونزې لیدلې، د سولې وړاندیز ومانه: په هغه معاهده کې چې د دواړو لورو ترمنځ د(١١٤٢ق/ ١٧٢٩ م) کال په فبروري کې د رشت په ښار کې وشوه، روسانو د ایران په خاورې کې د نور پر مختګ څخه لاس واخیست او ژمنه یې وکړه تر څو سرحدي ایالتونه لکه استرآباد او مازندارن هم بېرته دې هېواد ته پریږدي. شاه اشرف په دې توګه د ایران افغاني دولت دوه لوی دښمنان وځپل.

د هوتکي دولت له منځه تلل

شاه اشرف هوتک سره له دومره هڅو ونه توانېد چې د ایران د واک مدعیان او ددې هېواد سیمه ییز ځواکونه له منځه یوسي. په ځانګړې توګه د ایران په خټیځ کې د ملک محمود سیستاني حکومت چې له سیستانه تر خراسانه پورې سیمې یې په و لکه کې وې، او همدارنګه د هرات خپلواکه ابدالي دولت هم هوتکیان له ستونزو سره مخ کول. کندهار هم په دې ورځو کې چې د حاجي میرویس د بل زوی (شاه حسین) له خوا اداره کېده، له اصفهان سره یې ښې اړیکې نه درلودې او حتی د شاه اشرف هوتک د دولت د له منځه تللو په هیله ناست و. په دې وخت کې د ایران په خټیځ کې د افشار له ټبر

(c) ketabton.com: The Digital Library

څخه د نادر په نامه یو نظامي کس سر راپورته کړ نوموړي د یادو شوو سیمه ییزو ځواکونو د له منځه وړلو وروسته، د افغانانو سره مقابلې ته چمتو شو او په پایله کې یې شاه اشرف او افغاني لښکرو ته ماته ورکړه. شاه اشرف هم کندهار ته د راګرځیدو په لاره کې په شورابک کې ووژل شو.

شاه حسین هوتکی

نادر شاه افشار په (۱۱٤۹ق/ ۱۷۳٦م) کال کې له هلمند څخه په تیریدو کندهار تر محاصرې لاندې ونیوه. شاه حسین هوتک د خپل لښکر سره چې مشري یې د سیدال خان ناصري له خوا کیده څه د پاسه یو کا ل د مهاجمانو په وړاندې مقاومت وکړ او هغه یې پریښود. چې کندهار ونیسي نو په (۱۱۵۱ق- ۱۷۳۹ م) کال کې د هوتکیانو مقاومت پای ته ورسیده. دا ځکه چې د دې نیټې څخه مخکې سیدال خان ناصري او محمد د شاه حسین هوتک زوی په قلات کې د نادر شاه افشار د سر تېرو له خوا نیول شوی وو، او په مرموزه توګه سیدال خان ناصري له دواړو سترګو څخه نا بینا شو. نو په دې توګه هوتکي دولت منحل شو.

شاه حسین هوتک د نادر شاه په امر مازندران ته تبعید او هلته مسموم او مړ شو.

په ټولګي کې فعالیت

د ټولګي زده‌کوونکي دې په دوو ډلو ووېشل شي. (الف) ډله دې د افغان حکومت په وخت کې ایران ته د روسیې د پاملرنې په لاملونو او (ب) ډله دې د ایران په خاورې کې د عثماني ترکانو د پرمختګ په پایلو خبرې وکړي. دواړه ډلې دې پایلې سېوونکي او زده‌کوونکو ته واوروي.

پوښتنې

۱) له صفوي حکومت سره د شاه محمود هوتک تر مشرۍ لاندې د افغانانو مهمه جګړه چیرته پیښه، او څه پایلې یې درلودې؟

۲) د کومو لاملونو له مخې شاه محمود د ایرانیانو پروړاندې خپل لومړنی سیاست بدل کړ؟

۳) د شاه اشرف تر مشرۍ لاندې ځواکونو سره د عثمانیانو جګړه چیرته پیښه شوه، او څه پایلې یې رامنځته کړې؟

٤) ولې روسانو په اصفهان کې د افغانانو د حکومت پر مهال د ایران په لور مخه کړه، او څه ډول یې د هغوی د پرمختګ مخه ونیوله؟

۵) سیدال خان ناصري د اصفهان د کومو افغاني شاهانو خدمت ته ملاتړلې وه؟

له ټولګي څخه دباندې فعالیت

زده‌کوونکي دې د هوتکي دولت د نسکورېدو په هکله لنډه مقاله وليکي او په راتلونکي درسي ساعت کې دې خپلو ټولګیوالو ته وړاندې کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هوتکیانو په دوره کې اقتصاد او فرهنګ

د هوتکیانو د واکمنۍ په ۳۱ کلنه دوره کې د سیاسي او نظامي اړخونو سر ببره، ځینې فرهنګي مسایل هم شته چې که چېرې پرې وپوهېږو نو له فرهنګي چارو سره به د هوتکي شاهانو په نیک نیت پوه شو. په ځانګړې توګه د دوی د واکمنۍ په مهال په کندهار کې د علم او فرهنګ د پراختیا زمینه برابره شوه او هوتکي دربار د عالمانو د ملاتړ په لاره کې هڅې وکړې او د کم وخت لپاره فرهنګي رڼا رامنځ ته شوه. په دې لوست کې به دپورتینو مسایلو سره د یادې شوې دورې له اقتصادي ودې سره هم بلد شئ.

اقتصادي وضع

لکه څنګه چې زمونږ د هېواد وېش، ګډوډي او په ځینو برخو د ګاونډیو واکمنۍ د هرات د تیموریانو له نسکورېدو وروسته د افغانستان د وضعې له مهمو ځانګړتیاوو څخه ګڼل کیږي. که هر څو په دې دورې کې داسې معلومات په لاس کې نه لرو چې د خلکو د اقتصادي ودې ښکارندویي وکړي؛ ځکه په دې دورې کې، زمونږ د هېواد بېلابېلې برخې د پردیو تر فشار او ظلم لاندې وې او معمولاً خلکو دوو درباروونو اصفهان او ډهلي ته درانه مالیات ورکول. په دې حال کې زمونږ د هېواد یو شمېر خلکو په ځانګړې توګه هغو وګړو چې په ښارونو کې اوسېدل، د هند او ایران سره یې د سوداګرۍ چارې پر مخ بېولې، او په ټولو کې کندهار د یادو شوو دوو هېوادونو تر منځ د مهم سوداګریز مرکز په توګه رول لوباوه. او په همدې دلیل، تل د دوو هېوادونو (هندوستان او ایران) ترمنځ د شخړو لامل ګرځېده.

په کندهار کې سر پټې بازار

فرهنګي وضع

په ټولنیز ډول د هرات د تیموریانو دورې له نسکورېدو او د هوتکیانو تر راتلو پورې زمونږ په تاریخ کې یوه توره دوره ګڼل کیږي خو په دې دورې کې په ځانګړې توګه وروسته له هغې چې اصفهان د افغانانو لاسته ورغی. په پورتنۍ وضعه کې بدلون راغی ځکه افغان هوتکي پاچاهانو برسېره پردې چې سیاسي او نظامي چارې یې پرمخ بېولې، په خپله واکمنۍ کې د دواړو ژبو (پښتو او فارسي) شاعرانو او ادیبانو ملاتړ هم کاوه.

په دې دورې کې نه یوازې دا چې د وخت د دودیزو علومو چې د معقولو او منقولو په نومونو یادیدل

(c) ketabton.com: The Digital Library

مخه ونه نیول شوه، بلکې د هوتکیانو په افغاني او ایراني واکمنۍ کې نومورو علومو ژوند ته ادامه ورکوله. معقول علوم عبارت وو له فلسفې ، منطق ، نجوم ریاضیات او همدا رنګه د تفسیر، حدیث ، فقهې څانګوته یې منقول علوم ویل.

سره له دې چې د هوتکي دولت عمر کم و او د علومو د پراختیا په برخه کې یې بنسټیزو کارونو تر سره کولو ته وخت پیدا نه کړ خو بیاهم داسې ښلګې په لاس کې لرو چې د هوتکیانو په دورې کې د علم او فرهنګ د نورمالې ودې څرګندونه کوي. په ځانګړې توګه په دې برخه کې د شاه حسین هوتک په دورې کې په کندهار کې د لومړني ادبي بنډار جوړښت ډیر مهم ګڼل کیږي ځکه د یاد شوي پاچا له خوا د کندهار د نارنج په قصر کې یو کتابتون جوړشو او په هغه کې د ادب او علم پېژندل شوې څېرې په اونۍ کې یو ځل راغونډیدلې. پخپله شاه حسین هوتک هم په دواړو پښتو او دري ژبو شعرونه ویل او له پوهانواو ادیباتو څخه یې ښه ملاتړ کاوه. د ښلګې په توګه نومورې د پښتو ژبې شاعر ریدي خان ته د محمود هوتک د جګړو داستان په نظم ویلو زر سکې ورکړې.

د دې دورې له پیاوړو شاعرانو او پوهانو څخه کولای شو چې د څو تنو څخه یادونه وکړو: ملازعفران، مددخان غلجی، شاه حسین هوتک، داود هوتک، ملایار محمد هوتک، بابوجان بابې، سیدال خان ناصری او د ښځینه شاعرانو له ډلې څخه د شاه حسین هوتک د خور زینب هوتک نوم واخلو. چې ډېره فاضله او پوهه ښځه وه. او برسېره پر دې چې شعرونه به یې ویل له خپل ورور(شاه حسین هوتک) سره به یې د حکومت کولو په چارو کې هم مرسته کوله.

په ټولګي کې فعالیت

زده‌کوونکي دې د (الف) او (ب) په دوو ډلو ووېشل شي. (الف) ډله دې د هوتکیانو د اقتصادي او (ب) ډله دې د فرهنګي وضعې په هکله خپل معلومات وړاندې کړي.

پوښتنې

۱- د کندهار اقتصادي او سوداګریز اهمیت په لنډه توګه روښانه کړئ.

۲- د هوتکي دورې د پنځو تنو پوهانو او عالمانو نومونه واخلي.

۳- له فرهنګي څېرو څخه د شاه حسین هوتک د ملاتړ دوې ښلګې یادې کړئ.

٤- د کندهار د نارنج قصر کتابتون د چا په واسطه جوړ شو؟

له ټولګي څخه دباندې فعالیت

زده‌کوونکي دې د هوتکیانو په دورې کې د ادبي بنډار په هکله یوه لنډه مقاله وليکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

څلورم څپرکی

په هند کې افغاني پاچاهان

په دې څپرکي کې به په هند کې د افغاني کورنۍ د واک ته د رسېدو او د تاریخ له لوړو او ژورو سره په (۱۲۲۳ تر ۱۷٤۷م). کلونو کې په لنډه توګه پېژندګلوي تر لاسه کړئ.



په ډهلي کې د قطب منار

(c) ketabton.com: The Digital Library

د څپرکي موخې

هیله ده چې د دې څپرکي په پایله کې زده‌کوونکي لاندې موخې تر لاسه کړي:

- په هند کې به له لومړني اسلامي دولت سره پیژندګلوي پیدا کړي.
- په هند کې به د افغاني شاهانو او په ځانګړې توګه د سلطان رضیه او سوري شیر شاه له دولتداری سره آشنا شي.
- په هند کې به د افغاني شاهانو بڼې او بدې کړنې سره تو پیر کړای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په هندکې افغاني پاچاهان

په دې لوست کې به هند ته د اسلام ورتګ او خپرېدل او همدارنګه هلته د لومړني اسلامي دولت د رامنځته کېدو سره اشنا شئ. او ورسره به د هندوستان په دولتي چارو کې د افغاني ښځو په ورټيا او ونډې هم پوه شئ.

عربي مسلمانانو په (۹۰ ق/ ۷۱۲ م) کال کې هندوستان ته پام شو. هند ته د ورتګ په وخت کې د سند د پاچا (داهر) په امر د دوی کښتۍ ونيول شوه او ټول سپاره يې ووژل شول.

د عراق والي او د فتحه شوي افغانستان ستر مشر حجاج بن يوسف د محمد بن قاسم تر مشرۍ لاندې يو لوی لښکر د سند د پاچا د ځپلو، او د اسلام د خپرېدو لپاره سيمې ته ولېږه. نوموړي سند او ملتان ونيول، او غوښتل يې چې مخ پر وړاندې لاړ شي، خو د خليفه له خوا بيرته وغوښتل شو. له هغه وخت وروسته عربي مسلمانان هند ته متوجه نه شول. تر هغه پورې چې په (دريمه هجري/ لسمه مېلادي پېړۍ) کې وار غزنويانو او غوريانو ته ورسېد او دوی د هند په لور لښکرکشي د خپلو پروګرامونو يوه برخه وګڼله.

په هند کې قطبيه پاچاهان (۶۰۲- ۶۸۹ ق/ ۱۲۲۳ - ۱۳۱۰م)

د سلطان شهاب الدين غوري له مړينې (۶۰۲ق / ۱۲۲۳ م) وروسته د غوريانو لويه امپراتوري تجزيه شوه.ترک توکمه قطب الدين ايبک محمد سام غوري يې د هند خپلواکه پاچا اعلان کړ. پلازمېنه يې له لاهور څخه دهلي ته نقل کړه. نوموړي په دهلي کې د مشهور جامع جومات او دجام منار په څېرېې هلته د قطب منار بنسټ کېښود.

قطب الدين ايبک

قطب الدين ايبک سخي، زړور او سياستپوه سړی و. نوموړی له پنځو کلونو واکمنۍ وروسته په (۶۰۷ هـ .ق/ ۱۲۲۸ م) کال کې د چوګان په لوبه کې له اس څخه ولوېد او مړ شو. له ده وروسته آرام شاه چې په زوي ولي يې نيولی و د دهلي په تخت کېناست. په دې وخت کې د سند او بنګال مشرانو د خپلواکۍ بيرغونه پورته کړل. د نوموړي د پاچاهۍ يو کال نه و پوره چې د قطب الدين ايبک زوم او د هندوستان د يوې سيمې مشر شمس الدين التمش (ايلتمش) راپور ته شو او دی يې له واک څخه ګوښه کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سلطان شمس الدين التمش

سلطان شمس الدين التمش

د قطبيه پاچاهانو ترټولو ځواکمن پاچا التمش يا ايلتمش دی چې (۲۵) کاله يې پرهند واکمني وکړه. نوموړي د سند او بنګال مشران اطاعت ته اړ ايستل او د جلال الدين خوارزم شاه غوښتنه يې چې د هند د واکمنۍ سوچونه يې وهل ردکړه. د التمش د واکمنۍ په دوريکې د لومړي ځل لپاره مغولان هند ته متوجه شول او چنګيز خان د جلال الدين خوارزم شاه په لټه کې د سند د سيند تر څنډو ورسيد او د خپلو يرغلونو له کبله د هغه ځای له اوسپدونکو وډار شو. وروسته له دې چې وپوهيد مرسته نه شي تر لاسه کولای، د بامیانو په لور راوګرځيد او جلال الدين هم له هند څخه ووت او د ايران په لور وخوځيد. په دې توګه التمش نه يوازې د چنګيزخان له ځواکونو څخه دفاع وکړه، بلکې په عين حال کې يې جلال الدين خوارزم شاه هم پرې نښود چې شمالي هند د خپلو يرغلونو ډګر وګرځوي، د بغداد خليفه کله چې د ده شهرت او ورتيا د هند د اسلامي دولت د ساتنې په هکله واورېده نو يو پلاوی يې ده ته ورولېږه او ډالۍ يې ورته وړاندې کړې.

سلطانه رضيه

په ۶۳۳هـ / ۱۲۵٤ م)کال کې د التمش له مړينې وروسته د ده زوی رکن الدين فيروز شاه واکمن شو. خو له شپږو مياشتو وروسته د ده درباريانو دی له واکمنۍ څخه ګوښه اوبيا يې وواژه، او د ده خور رضيه يې د واک په ګدۍ کښوله.

سلطانه رضيه

التمش له ماشومتوب څخه د خپلې لور د ښوونې او روزنې په برخه کې زياته پاملرنه درلوده. رضيې د ښکلي قرائت په لرلو سره د وخت علوم له لويو پوهانو څخه زده کړل. نوموړې نارينه جامې اغوستې او جګړه ييز تکتيکونه يې هم زده کړل. دې د خپل پلار سره په

(c) ketabton.com: The Digital Library

اداري او سياسي چاروکي مرسته کوله.

سلطانه رضيې د خپل ورور رکن الدين چې فيروز شاه نومېده له هغه وروسته په (٦٣٤ هـ/ ١٢٥٥م) کال کې واکمني تر لاسه کړه.د واکمنۍ په لومړيو ورځو کې د خپل پلار د صدر اعظم نظام الملک جنيدي له مخالفت او بغاوت سره مخ شوه. خو په ډير ښه تدبير سره له دې ارډو دوړ څخه ووته، نظم او امنيت يې ټينګ کړ. سلطانه رضيې هم د خپل هېواد ټولنيز نظام په ښه توګه پر مخ يووړ. نومورې خواجه مهدي غزنوي چې يو سياسي او علمي شخصيت و د خپل صدراعظم او ملک سيف الدين ايبک يې د ځواکونو د مشر په توګه وټاکه.

سلطانه رضيې مهم کارونه پوهو کسانو ته وسپارل او په خپله يې د هغوی د کارونو څار نه کوله. د ساتل شوي هېواد په ټولو برخو کې يې قوانين نافذ کړل، نومورې په خپلواکه توګه خلک خپل حضور ته را بلل او د هېواد چارې يې پرمخ بيوولې. خو د سيف الدين ايبک له مړينې وروسته چې سلطانه رضيې د ده په ځای تور پوستی جلال الدين ياقوت حبشي وټاکه، نو ځينو سردارانو ته کينه ورغله، مخالفت يې پيل کړ، او د نومورې په وړاندې يې بغاوت وکړ تر څو چې په (٦٣٨ ق / ١٢٥٩ م)کال کې يې پاچاهي ونړېده.

له سلطانه رضيې وروسته معزالدين بهرام شاه او علاوالدين مسعودشاه يو پربل پسې واکمنۍ ته ورسېدل، تر څو وار د سلطان رضيې کشر ورور ناصرالدين محمدشاه ته ورسيد نومورې په هند کې (٢١) کاله واکمني وکړه. دی سوله غوښتونکی، تقوی لرونکی او پرهېزګاره سړی و. په حرمسرای کې يې عادي ژوندکاوه. ويل کېږي چې يوه ورځ شهزادګی د وينځې غوښتنه تري وکړه، تر څو په پخلي کې ورسره مرسته وکړي، ده ځواب ورکړ چې بيت المـال د الله(جل جلاله) د ټولو بنده ګان حق دی او عذر مې ومنه.

په (٦٦٥ق / ١٢٨٦ م) کال کې د سلطان ناصرالدين له مړينې وروسته، د ده وزير غياث الدين بلبن په تخت کېناست. د ده دربار د پوهې او فن مرکز و. څرنګه چې امير خسرو ډهلوي هلته ځانګړې درجه درلوده. سلطان غياث الدين بلبن له (٢١) کلونو پاچاهي وروسته په ډهلي کې مړشو، د ده له مرګه وروسته د قطبيه دولت لړۍ په هند کې مخ په ځوړ شوه. او نورې افغاني لړيو د غلځي شاهانو، تغلق شاهانو، خضرخانيانو، لوديانو او سوريانو په نومونو يوپربل پسې په واکمنۍ ته ورسېدلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ټولګي کې فعالیت

زده‌کوونکي دې د الف او ب په دوو ډلو ووېشل شي. هره ډله دې د لاندنیو شاهانو څخه دوه پاچاهان تر بحث لاندې ونیسي او د خبرو لنډیز دې د ډلې یو غړی نورو ته وړاندې کړي.

- د سلطانه رضیې دوره
- د سلطانه قطب الدین ایبک دوره
- د سلطانه شمس الدین التمش دوره

خضرخانیانو، لودیانو او سوریانو په نومونو یوپربل پسې په هند کې واکمنۍ ته ورسېدلې.

پوښتنې

۱- د اسلام دین څه ډول په هندکې خپور او وده یې وکړه؟ په دې هکله څرګندونې وکړئ.

۲- د هغو افغاني شاهي کورنیو نومونه واخلئ چې په هندکې واکمنۍ ته ورسېدې؟

له ټولګي څخه دباندې فعالیت

ستاسو په آند، د سلطانه رضیې د پاچاهۍ ځانګړتیاوې څه وې؟ په دې هکله یو مطلب ولیکئ او د ښوونکي له موافقې وروسته یې د ښوونځي د دېوالي په جریده کې راځوړند کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لودیان او سوریان

په دې لوست کې به په هند کې د افغاني لودیانو او سوریانو واک ته د رسېدو په څرنګوالي وپوهېږو او په لنډه توګه به په هغو علتونو هم پوه شو، چې د هندوستان په سیاسي صحنه کې د کمزورۍ سبب وګرځېدل.

لودیان

د پنجاب د نائب الحکومه ملک کالا خان زوی ملک بهلول له (۸۵۸- ۸۶۸ هـ.ق/ ۱۴۷۹-۱۴۸۹م) کلونو وروسته د خضرخانیه دولت د کمزورۍ له امله د ملک چارې لاسته راوړې او په هند کې د مخ په ځوړ افغاني پاچاهۍ بنسټ يې بیا پیاوړی کړ.

د ملک بهلول لودي له مړینې وروسته د هغه زوی نظام خان چې د سلطان سکندر پاچا په نوم یادېده واکمن شو. نوموړي د هېواد په رغاونه او د علم او پوهې په پرمختګ کې هڅې وکړې. پوهانو او فاضلانو ته يې په درنه سترګه کتل. دري ژبه او خط او همدارنګه د اسلام دین د ده په دورې کې په هندوستان کې ډېره پراختیا وموندله.

په(۸۹۴ ق/ ۱۵۱۷م)کال کې سلطان سکندر مړ او د ده زوی ابراهیم واکمنۍ ته ورسېد. د ابراهیم د ناسمې اداړې له کبله د پاچاهۍ بنسټ کمزوری شو او په هند باندې د بابر لښکر کشۍ ته زمینه برابره شوه. د پاني پت په ډګر کې د بابر او ابراهیم ترمنځ خونړۍ جګړه ونښته، بابر بری وموند او په بریا لیتوب سره د ډهلي په تخت کښېناست او په (۹۳۰ هـ.ق./ ۱۵۲۶م.) کال کې يې د کوه نور مشهور الماس سره له نورو دولتي خزانو لاسته راوړل خو په ټول هند يې واکمني ترلاسه نه کړه.

په هر حال په هند کې د بابر په وړاندې د افغانانو د مخالفتونو لړۍ روانه وه، په ځانګړې توګه هغه وخت چې بابر مړ شو، او د هغه زوی همایون واکمنۍ ته ورسېد، د افغانانو مخالفت لا زیات شو. ترهغه پورې چې په هندکې د سوریانو د راتګ لپاره زمینه چمتو شوه.

سوریان

د هندوستان له افغاني ځواکمنو پاچاهانو څخه یو هم فرید د حسن زوی دی. چې په لومړیو کې نوموړي د لاهور د حاکم دولت خان په واسطه د سلطان ابراهیم لودي دربار ته لاره وموندله او شهرت يې ترلاسه کړ، وروسته د بهار نائب الحکومه وټاکل شو. نوموړي د هغې زړورتیا له کبله د شېرخان لقب ترلاسه کړ، چې د زمري د ښکار په وخت کې يې ښودلې وه.

په سند کې د مغولي پاچا سره د شېرخان مخالفت د دې لامل شو چې همایون پر ده برید وکړي. خو په لومړني یرغل کې همایون ته د شېرخان فکري او نظامي لوړتیا معلومه شوه. وروسته له دې شېرخان په (۹۱۶ ق/ ۱۵۳۷ م) کال کې بنګال ونیوه او د دویم ځل لپاره بیا هم له همایون سره مخ شو. په دې مقابله کې جلا ل خان د شېرخان زوی د بهار او بنګال په منځ کې همایون ته ماتې ورکړه او همدارنګه په (۹۱۸ق / ۱۵۴۰م) کال کې د دوی ترمنځ بله جګړه ونښته، او په پایله کې همایون ماتې وخوړه او نژدې د ګنګا په سیند کې ډوب شوی و خو د یوه سقاو له خوا راوایستل شو. نور اړشو چې هند پرېږدی. له دې ځایه خپل ورور عسکري خان ته چې د کندهار حاکم و ورغی خو له هغه څخه يې هم ښه ونه لیدل او ایران ته لاړ.

په دې توګه شېرشاه سوري د شمالي او مرکزي هند د ټولو برخو له نیولو وروسته په کورنیو اصلاحاتو پیل وکړ. د اوبو بندونه، کاروان سرایونه او جوماتونه يې جوړ کړل. د بنګال لاره يې د اټک ترسیند پورې ورغوله او وروسته له هرو پنځو کروو (په ټولیزه توګه ۱۰۰۰ ګزه) يې کاروان سرایونه، د اوبو څاه ګانې او جوماتونه جوړ کړل.

څه وخت چې نوموړي غوښتل د کالنجر کلکه کلا ونیسي، وروسته له څوارلسو کلونو حکمراني او شېر

(c) ketabton.com: The Digital Library

کلونو واکمنۍ په (۹۲۳ ق / ۱۵٤٤ م) کال کې د باروتو په یوه چاودنه کې مړ شو.
شېرشاه سوري پوهانو او عالمانو ته پاملرنه کوله، پخپله یې ځینې وخت شعر وایه او د قافیې په پوهه کې ښه پوهېده.
له شېرشاه سوري وروسته د ده مشر زوی عادل خان پاچا شو خو نوموړی د سردارانو د مخالفت په وجه لرې او په (۹۲۳ ق/ ۱۵٤٤ م) کال کې د ده کشر ورور جلال خان چې د سلیم شاه سوري په نامه یادېده واکمنۍ ته ورسېد.
له یوه پلوه د ده د ورور عادل خان مخالفت او له بل پلوه د همایون لښکر کښۍ د دې لامل وګرځېده چې د نوموړي دولت کمزوری شو تر څو په (۹٦۰ ق /۱۵۸۱ م) کال کې له منځه لاړ، د ده په وخت کې د نیلاب او بنګال ترمنځ دوه زره میله (هر میل دوه زره ګامه) لاره جوړه شوه او د هرو دوو میلو ترمنځ کاروان سرایونه جوړ شول.
له سلیم شاه سوري وروسته د هغه دولس کلن زوی فېروز پاچا شو خو له دریو ورځو وروسته د شېرشاه سوري د وراره مبارزخان له خوا ووژل شو او مبارزخان د محمد شاه عدلي په نامه پاچا شو.
د شېر شاه سوري او سلیم شاه آمرین له دې وضعې څخه ناخوښ شول، او هر یوه د سلطان سکندر او سلطان ابراهیم لودي په نومونو په ځینو سیمو کې د پاچاهۍ اعلان وکړ. د سختو اختلافاتو د رامنځته کېدو په وجه، همایون وخت غنیمت وګاڼه او په (۹۳۳ ق/ ۱۵۵٤ م) کال کې هند ته لاړ.
که څه هم له دې وروسته افغانان په پوره توګه له صحنې څخه ونه وتل او کله ناکله به د مغولو د سرخوړۍ لامل کېدل. خو د احمد شاه بابا تر وخته چې د هندوستان زیاتې برخې یې ونیولې، په ښه توګه راخرګند نه شول.

په ټولګي کې فعالیت

زده‌کوونکي دې په څلورو ډلو ووېشل شي او هره ډله دې د لاندې یادو شوو پاچاهانو د کارونو په هکله د ذکر شوې بېلګې په خېر کار وکړي او وروسته دې د ډلې د یوه غړي له خوا نورو ته وړاندې شي.

سلطان سکندر لودي	د پوهانو او عالمانو هڅوونکی، په هندوستان کې اسلام او دري ژبې ته پراختیا ورکوونکی.
سلطان بهلول لودي	؟
اعلیحضرت شېرشاه سوري	؟
سلیم شاه سوري	؟
محمدشاه عدلي	؟

پوښتنې

۱- کوم دلایل د دې لامل وګرځېدل چې همایون د دویم ځل لپاره په هندوستان یرغل وکړي؟
۲- سوري شېرشاه څه ډول په هند کې واکمنۍ ته ورسېد او ولې ده ته شېرشاه وایي؟
۳- په هند کې د سوریانو د له منځه تللو دلایل ولیکئ.

له ټولګي څخه دباندې فعالیت

ستاسو په آند کوم دلایل په هند کې د لودیانو د حکومت د نسکورېدو لامل شول، د دغې موضوع په اړه هر یو له ځان سره څه ولیکئ او په راتلونکي درسي لوست کې یې خپلو ټولګیوالو ته وړاندې کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پنځم څپرکی

په منځنیو او نویو پیړیو کې ګاونډي هېوادونه

په دې څپرکي کې به په منځنیو او نویو پیړیو کې د ګاونډیو هېوادونو له تاریخ سره په لنډه توګه بلدتیا پیدا کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د څپرکي موخې

د دې څپرکي په پای کې له زده‌کوونکو څخه کېږئ تر څو په لاندې پایلو وپوهیږي:

- په ایران کې به د سیمه ییزو دولتونو د رامنځته کېدو سره بلد شي.
- د صفویانو، افشاریانو او زندیه وو د راڅرګندېدو دلاملونو په اړه به معلومات تر لاسه کړي.
- په هند کې به د بابري دولت له رامنځته کېدو سره بلد شي.
- د چین د یووالي په څرنګوالي به پوه شي .
- په چین کې به د مغولو په واکمنۍ پوه شي.
- په منځنیو او نویو پیړیو کې به د چین د فرهنګي او اقتصادي وضعې سره بلد شي.
- د ایران د سیمه ییزو دولتونو د منځته راتلو او ړنګېدو لاملونه به تحلیل کړای شي.
- په هند کې به د تیموري دولت د رامنځته کېدو لاملونه وپیژني.
- د چین د یووالي انګیزې لړ لیک به ډلبندي کړای شي.
- په چین باندې به د مغولو د یرغلونو پایلې تحلیل کړای شي.
- د زده‌کوونکو په ذهن کې به د مرستې او ښه ګاونډیتوب روحیه پیاوړې شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ایران په منځنیو پېړیو کې

د افغانستان او ایران د تاریخ زیاتې برخې سره ورته والی لري. هغو پاچاهانو او لړیو چې په افغانستان واکمنۍ چلوله، د ایران په خاورې یې هم حکم چلاوه. ایران ته د اسلام د دین په راتګ سره، د هغه هېواد تاریخ هم بدل شو. امویانو او عباسیانو به د ایران لپاره پاچاهان او واکمنان ټاکل. خو د ایران په بېلابېلو سیمو کې چې کوم پاڅونونه رامنځته شول، په هغه هېواد کې امپران او د سیمه ییزو لړیو مشران را پیدا شول. له دې ډلې څخه د طبرستان د علویانو، زیاریانو او د آل بویه لړیو د حکومتونو نومونه اخیستی شو.

د طبرستان علویان

دغه کورنۍ په هاشمي سیدانو پورې ترلې ده چې په (۲۵۰ ق/ ۸٦٤ م) کال کې یې د زید د زوی سید حسن په مشرۍ د ایران په اوسني طبرستان کې د خپلواکه حکومت بنسټ کېښود. حسن زړور سړی و، او ځان به یې داعي کبیر باله. نوموړي ټول طبرستان او ری (تهران) و نیول او عباسي آمرین او مامورین یې له دې سیمو څخه وشړل. نوموړي تر (۲۷۰ق/ ۸۸۳ م) کال پورې حکومت وکړ خو له حسن څخه وروسته نورو علوي پاچاهانو هم واکمني وکړه. د علوي لړۍ تر ټولو مشهور پاچا د علي زوی حسن ګڼل کیږي چې په ناصر کبیر باندې مشهور و، نوموړی وتوانېده چې سامانۍ ځواکونه چې یوه موده یې د طبرستان واکمني تر لاسه کړې وه، کلکه ماته ورکړي او د (۲۹۰ ق/ ۹۳۰م) کال په ژمي کې یې د سامانۍ ځواکونو(۷۰۰۰) تنه ووژل. په پایله کې سامانیانو له علویانو سره سوله وکړه، او ټول طبرستان د ناصر کبیر(د علي زوی حسن) په ولکه کې شو. خو مخکې له مړینې یې ټولې حکومتي چارې خپل زوم حسن بن قاسم ته وسپارلې. د نوموړي په زمانه کې د علوي حکومت چارې ګډې وډې شوې او په پایله کې په (۳۱٦ ق/ ۹۲۸م) کال کې د طبرستان علویانو حکومت رنګ شو.

زیاریان

د علوي حکومت له راپرځېدو وروسته، د دې حکومت نظامي واکمنو او سردارانو بغاوت وکړ او د طبرستان سیمه په ډېرو سیمه ییزو خپلواکه حکومتونو ووېشل شوه.

د دې سردارانو له ډلې څخه یې یو مشهور د زیار زوی مرداویج نومېده. نوموړي د خپلواکه حکومت د رامنځته کېدو لپاره، لومړی د طبرستان سیمې د واک غوښتونکو سردارانو په مخه کې ودرېد، او د طبرستان ښار په نیولو یې د زیاریانو د حکومت بنسټ کېښود. وروسته یې د ګرګان او اصفهان ښارونه هم د خپلې واکمنۍ یوه برخه وګرځوله. نوموړي د خدمت لپاره د ترکي غلامانو په نیولو سره ځواکمن لښکر رامنځته کړ، خو له ترکي غلامانو سره د بد چلند په سبب، دوی بغاوت وکړ او پخپله مرداویج یې هم ووژه.

له مرداویج څخه وروسته د ده ورور وشمګیر واکمنۍ ته ورسېد. نوموړي د واکمنۍ ټوله موده د بویه له زامنو سره په جګړو او مبارزو کې تېره کړه او په پایله کې یې له دوی څخه ماتې وخوړه او په (۳۲۰ق/ ۹۳۲ م) کال کې د بویه زامنو حکومت را منځته شو.

آل بویه

نوموړي ابو شجاع په نامه یوه سړي ته منسوب دي چې په لومړیو کې یې له مرداویج سره مرسته کوله او

(c) ketabton.com: The Digital Library



درې زامن يې د مرداويج په لښکر کې لوړو نظامي مقامونو ته رسېدلي وو.

آل بويه د بغداد(عباسي) خلافت دکمزورتيا په دورې کې، وروسته له هغې چې له زياريانو څخه يې د خپلواکۍ اعلان وکړ، پخپله يې په اصفهان کې د خپلواکه حکومت بنسټ را منځته کړ او په لنډ وخت کې يې د ايران بېلابېلې سيمې په خپله واکمنۍ کې شاملې کړې. نومورو په (٣٣٤ ق/ ٩٤٥م) کال کې د عباسي خلافت د راپرځېدو پرځای يوازې د المتکفي په ځای د المطيع خليفه په رانګ بسنه وکړه. په بغداد باندې د آل بويه واکمنۍ، د عباسي خلفا وو دريځ په پوره توګه متزلزل کړ.

د آل بويه ترټولو مهم مشران حسن رکن الدوله او احمد هزالدوله نومېدل. چې د(٣٢٠ ق نه تر ٣٥٧ ق/ ٩٣٢- ٩٦٨م) کلونو په منځ کې يې د ايران په سويل، ري(اوسني تهران) او کرمان واکمني کوله.

آل بويه په پای کې د غزنويانو او سلجوقيانو لخوا چې د عباسي خلافت له ملاتړ کوونکو او غوښتونکو څخه وو، له منځه لاړل. په منځنيو پېړيو کې په ايران باندې له غزنويانو، سلجوقيانو او خوارزم شاهانو درو لړيو پرته تيموريانو هم واکمني کړېده.

په ټولګي کې فعاليت

زده‌کوونکي دې په درو ډلو ووېشل شي. لومړۍ ډله دې د طبرستان د علويانو، دويمه ډله دې د زياريانو د حکومت د رامنځته کېدو او دريمه ډله دې د آل بويه حکومت د رامنځته کېدو په څرنګوالي خبرې وکړي او پايله دې له نقشې څخه په ګټې اخيستنې سره د ډلو استازي نورو ته وړاندې کړي.

پوښتنې

١- د علوي حکومت د رامنځته کېدو او د دې لرۍ د مشهورو پاچاهانو په هکله څومره پوهېږئ؟
٢- ستاسو په اند د علويانو حکومت څه ډول رژيم شو؟
٣- د زياريانو حکومت د چا له خوا او څه ډول رامنځته شو؟
٤- ستاسو په نظر د آل بويه حکومت څه ډول رامنځته شو؟
٥- ال بويان په پايله کې د ..... او ..... له خوا راو پرځېدل؟

له ټولګي څخه دباندې فعاليت

زده‌کوونکي دې د ايران د سيمه ييزو حکومتونو لکه طبرستان د علويانو، زياريانو او آل بويه حکومتونو په هکله مطالب راغونډ او هغه دې په راتلونکي درسي ساعت کې ټولګيوالو ته وړاندې کړي.

ښوونکي دې د علمي سرچينو او اخځليکونو په برخه کې زده‌کوونکو ته لارښوونه وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ایران په نویو پېړیو کې

د ایران په تاریخ کې د صفوي دولت را منځته کېدل مهم ټکی ګڼل کېږي. دوی دې هېواد ته داسې سیاسي مرکزیت او ځانګړی هویت وبښه چې له پخوانۍ حالت سره یې توپیر درلود. له دوو پېړیو ځخه د زیاتې واکمنۍ په ترڅ کې ډېرې مهمې سیاسي او نظامي پېښې رامنځته شوې.

د افغانانو په واسطه د دوی د واکمنۍ راپرځېدل هم د دې لامل وګرځېده چې په دې هېواد کې د نوي حکومتونو لړۍ رامنځته شي. سر ببره پردې، په دې دورې کې د ایران اړیکې له نړۍ، او په ځانګړي توګه له اروپا سره ټینګې شوې. په دې لوست کې به د پورته موضوعاتو په هکله مطالب ولولئ.

صفویان

د شاه اسماعیل صفوي په واسطه د نویو پېړیو یعنې په (۹۰۶ق/۱۵۰۱ م) کال کې د صفوي حکومت را منځته کېدل د ایران د تاریخ ډېره مهمه برخه ګڼل کېږي؛ ځکه د ایران وضعه وروسته له دې پېښې په پوره ډول بدله شوه. صفویان وتوانېدل چې د ایران سیاسي ګډوډۍ او ټولنیزو ناخوالو ته د پای ټکی کېږدي. دوی د ایران خاوره یو موټی کړه. د صفوي لړۍ د مشهورو پاچاهانو له ډلې ځخه چې یو یې لومړی شاه عباس نومېږي. نوموړي د خپلو وفاداره سلاکارانو او سرتېرو په واسطه د صفوي حکومت بنسټ ځواکمن کړ. بیا یې د یو لړ پرله پسې لښکرکشیو په واسطه، سیمه ییز امیران (سرکښ قزلباشان) وټکول، او په هېواد کې یې د ایران دولت د ځارنې لمنه وغوړوله. د نوموړي د واکمنۍ په دورې کې امن او امنیت ټینګ شو. د سوداګرۍ، کرنې او صنعت چا رو پراختیا وموندله. د اصفهان ښار د صفویانو د پلازمېنې په توګه د ایران په یوه ډېر ښکلي او لوي ښار بدل شو.

د صفویانو په دورې کې له نړۍ او په ځانګړي توګه له اروپا سره د ایران نوې اړیکې ټینګې شوې؛ ځکه په کوچنۍ آسیا کې د عثماني ځواکمنې امپراتورۍ په رامنځته کېدو سره، اروپایانو په هوسا توګه نشوای کولای چې د ځمکې له لارې ختیځ ته تګ او راتګ وکړي. له دې کبله چې اروپایانو له عثماني امپراتورۍ سره دښمني لرله، نو د عثمانیانو له ختیځ ګاونډي ایران سره یې ښې اړیکې ټینګې کړې. وروسته یې بیا د کسپین(خزر) سمندرګي له لارې ختیځو سیمو ته هم لاره پیدا کړه. په دې وخت کې د ایران او عثمانیانو اړیکې هم سړې شوې وې، او اروپایانو له دې وضعې ځخه ګټه پورته کړه. ایران په همدې وخت کې د اروپایانو له پوځي پوهې ځخه د وسلو جوړولو او نظامي فنونو په برخه کې ډېره ګټه واخیسته. د دوی په مرسته یې د خپلو عسکرو د زده کړې او پوځي ځواکونو د سمبالولو په برخه کې ګټه ترلاسه کړه. د آنتوني(Antony) او رابرت شرلي (Robertsherly) د دوو انګلیسي وروڼو په مرسته یې جګړه ییز توپونه او لاسي تفنګچې جوړې شوې. صفویانو د ایران دولت وروسته له اسلام ځخه د شهرت ترټولو لوړو پوړ یو ته ورساوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

افشاریان

د صفوي حکومت له پرځېدو وروسته، افغانان پر ایران باندې د صفویانو په ځای واکمن شول. خو په ایران باندې د افغانانو واکمني ډېره اوږده نه شوه؛ ځکه نادر افشار چې په اصل کې د ترکمنانو د افشارو له ټبر څخه و، یو ځل بیا ایرانیان په ځان را ټول کړل. نوموړي داځل د افغانانو او ازبکو په ګډون له بېلابېلو ډلو څخه لښکر جوړ کړ، د ایران د زیاتو ښارونو د فتحې په برخې کې د پوځي وړتیاوو په ښودلو سره یې په ټول ایران واکمني تر لاسه کړه او دیوه نوي حکومت د رامنځته کېدو لپاره یې لاره اواره کړه. په دې وخت کې د نادر په وړاندیز د آذربایجان په شمال ختیځ د مغان په سیمې کې د قبیلو د مشرانو، مخورو او روحانیونو یوه غونډه راوبلل شوه او له یو لړخبرو اترو وروسته نادر افشار د ایران د پاچا په توګه وټاکل شو.

نادر د مرکزي واکمنۍ له جوړېدو وروسته، له ایران څخه د بهرنیانو د شړلو لپاره مټې را ونغښتې. په دې توګه ، روسان او عثمانیان چې په ایران یې یرغل کړی و، خپلو سیموته په شا وتمبول. وروسته یې د هند پرلور لښکر وخوځاوه نوموړي په هند کې د شاه جهان په امر جوړ شوی د طاووس تخت چې د شاه د ځای ناستي لپاره جوړ شوی و سره د بې شمېر و غنیمتونو او د کوه نور مشهور الماس چور کړل او له ځان سره یې ایران ته یوړل.

د نادر شاه په زمانې کې د مشهد ښار د نوموړي د اوسېدو په اصلي مرکز، او د دولتي خزانو د ساتلو په ځای بدل شو.

دنادر افشار د ځانګړو پوځي سیاستونو او اقداماتو په اړه، ایران د لږې مودې لپاره وتوانېده چې افغانستان، هند او د کوچنۍ آسیا ځینې برخې لاندې کړي. خو د نادر افشار د حکومت وروستي کلونه د ایران د خلکو لپاره ډېر ستونزمن وو او په (۱۱٦۰ ق/ ۱۷٤۷م) کال کې د نوموړي له وژلو وروسته ایران په کورنیو ګډوډیو او اختلافاتو کې راښکېل شو.

زندیه

د نادر افشار په وژلو سره د ده د حکومت بنسټ ونړېد او په ټول ایران کې کورنۍ جګړې له سره پیل شوې. د نادر افشار مامورینو، خراسان د خپلې واکمنۍ لپاره غوره کړ. د ایران نورې برخې هم د پوځي مشرانو او د قبیلو مخورو لاس ته ورغلې چې تل به یو له بل سره په جګړو کې ښکېل وو. خو په دوی کې کریم خان زند ډېرواک پیدا کړ. نوموړی د زند له قبیلې څخه و. کریم خان د خپلې قبیلې له خلکو او

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کریم خان زند مانۍ

سرتېرو سره د اصفهان ښار له نیولو وروسته ، د یو لړجګړو په ترڅ کې خپل ټول دښمنان له منځه یوړل او ځان یې وکیل الرعا یا(د خلکو استازي) ونوماوه او د پاچاهۍ څوکۍ یې د صفوي کورنۍ دریم شاه اسماعیل ته پرېښوده. نوموړی(دریم شاه اسماعیل) په ښکاره توګه د کریم خان زند د رقیب علي مردان خان په مرسته واکمنۍ ته رسېدلی و. د کریم خان زند د استازیتوب دوره له یې شمېره کورنیو جګړو سره همغاړې وه، ځکه په خراسان کې شاهرخ افشار، په مازندارانکې محمد حسن خان قاجار او په آذر بایجان کې آزاد خان افغان د پاچاهۍ غوښتونکي وو. کریم خان زند وروسته د ډېرو جګړو په پای کې د (خشت) په جګړه کې آزاد خان افغان ته ماتې ورکړه او آذربایجان یې هم ونیوه. له دې وروسته په ایران کې دوې سرسختې سیالې ډلې یو د بل په وړاندې پاتې شوې. یعنې قاجاریان د ایران په شمال او زندیان په سوېل کې، په پایله کې په یوه جګړې کې محمد حسن خان قاجار ووژل شو او زوی یې آقا محمد خان د کریم خان زند له خوا بندی شو او عملاً د ګروګان په توګه په زندیه دربار کې پاتې شو.

هغه وخت چې له کورنیو جګړو څخه د کریم خان زند زړه ټول شو دریم شاه اسماعیل هم د ځوانۍ عمر ته ورسېد او باید د هېواد چارې نوموړي ته سپارل شوې وای. خو د مشرانو په هغه غونډه کې چې په اصفهان کې رابلل شوې وو. د نوموړي د لیاقت د نه لرلو له امله یې له واک څخه د ګوښه کولو پرېکړه وکړه. او پاچاهي یې کریم خان زند ته وسپارله. کریم خان زند د شېراز ښار د خپل مرکز په توګه وټاکه. نوموړي د کورني امنیت له ټینګښت وروسته د سوداګرۍ او صنعت د پراختیا په برخې کې هڅې وکړې. په همدې وخت کې انګریزانو، ایران ته د ورتګ په لاره کې ډېرې هڅې وکړې. انګریزانو د خپلو ښکېلاکې، فعالیتونو د پراخولو لپاره له زندیه دولت سره ټرون لاس لیک کړ، چې د هغه په اساس یې د فارس خلیج په بندرکې سوداګري کولای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په (۱۱۹۳ ق/ ۱۷۷۹م) کال کې د کريم خان زند له مړينې سره، په ايران کې کورنۍ جګړې پيل شوې. په پايله کې د قاجار په نامه د واک يو لوري په ايران کې د حکومت مشري لاسته راوړه. په دې توګه ايران په خپل معاصر تاريخ کې ورګډ شو.

په ټولګي کې فعاليت

زده‌کوونکي دې په درو مناسبو ډلو ووېشل شي. لومړۍ ډله دې د ايران صفوي لړۍ په هکله خبرې وکړي، دويمه ډله دې د افشاريانو د حکومت په هکله په خبرو پيل وکړي او دريمه ډله دې ، د کريم خان زند د حکومت په هکله سره بحث وکړي او پايله دې د ټولو ډلو استازي په پرتليزه توګه نورو ته وړاندې کړي.

پوښتنې

۱- د صفويانو حکومت د چا له خوا جوړ او هم د دې کورنۍ تر ټولو مشهور پاچا په هکله معلومات ورکړئ.

۲- ستاسو په اند د ايران او اروپايانو ترمنځ اړيکې څنګه ټينګې شوې او ولې؟

۳- نادر افشار څوک و؟

٤- د هند په لور د نادر افشار د لښکر کشيو په هکله څومره پوهېږی؟

٥- ستاسو په اند کريم خان زند څرنګه واکمنۍ ته ورسيده؟ توضيح يې کړئ.

٦- د انګرېزانو سوداګري له ايران سره په کومو لاندې بندرونو کې تر سره کېده؟

الف: د عباس بندر ب د خليج فارس بندر ج: د خزر سمندر کې

له ټولګي څخه دباندې فعاليت

زده‌کوونکي دې په نوبو پېړيو کې د ايران د وضعې په هکله لږ تر لږه دوه مخه مطلب راتلونکي درسي ساعت ته چمتو کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هند په منځنيو پېړيو کې

د هند، پاکستان او اوسني بنګله دېش هېوادونه، پخوا د هند د شبې قاره په نامه يادېدل. ډېر وختونه يې ګډ برخليک او تاريخ درلود خو په شلمه پېړۍ کې دا هېوادونه سره بېل شول. په منځنيو پېړيو کې د دې سيمې تاريخ، د ګوپتايانو د لړۍ او سيمه ييزو حکومتونو له راپرځېدو وروسته لوی بدلون وموند، د اسلام راتګ چې د افغانانو په هڅو سره په هند کې خپور شو، او همدارنګه د غزنويانو او غوريانو په واسطې د سيمه ييزو حکومتونو را منځته کېدلو سره به چې د دې لوست موضوع ده، بلدتيا وموميئ.

په منځنيو پېړيو کې د هند لوی هېواد د ګوپتايانو له خوا اداره کېده. دې لړۍ تر (۵۵۰ م) کال پورې د هند په شمال کې خپلې واکمنۍ ته دوام ورکړ چې د هند د فرهنګ تر ټولو روښانه دوره ګڼل کېږي. په دې دورې کې په ځانګړې توګه رياضي علومو ته پاملرنه وشوه. د ګوپتايانو له راپرځېدو وروسته د هند په شمال کې ډېر حکومتونه را منځته شول او شاوخوا (۷۰) کوچنيو سيمه ييزو حکومتونو په دې سيمې واکمني چلوله. دغه سياسي وېش څو پېړۍ دوام وکړ. د دې حکومتونو تر ټولو ځواکمن يفتاليان وو. په همدې وخت د هند په سويل کې د ګوپتا پاتې شونو هم خپل ژوند ته ادامه ورکړه. دوی له اعرابو او د آسيا د سويل او منځني ختيځ خلکو سره راکړه ورکړه او سوداګريزې اړيکې ټينګې کړې. دې اړيکو د اسلام دين تر څرګندېدو پورې دوام وکړ.

مسلمانان د لومړي ځل لپاره په(۹۳ق، ۷۱۱ م) کال کې هندوستان ته راغلل. نوموړو د سند سيند تر څنډو پورې سيمې لاندې کړې. دغه سيمې د اوسني پاکستان برخه ده. له دې وخته (اتمې زېردېزې پېړۍ) څخه وروسته تر يوو لسمې زېردېزې پېړۍ پورې، لوېديځ هند له اسلامي نړۍ سره نژدې اړيکې ټينګې کړې په دې پېړۍ کې د اسلام بلنه ورکوونکو د هندوانو په منځ کې دآسماني دين تبليغ خپراوه.

له بله پلوه په (۳۸۸-۴۲۲ق، ۹۹۸-۱۰۳۰ م) کال کې د سلطان محمود غزنوي له خوا په هندوستان باندې واکمن کېدل د اسلام ريښې په هند کې ټينګې کړې او ځواکمن شو. له غزنويانو وروسته غوريانو هم پر هند حکومت وکړ او سلطان شهاب الدين محمد غوري د هند په شمال کې نژدې د ګنګ تر روده سيمې ونيولې. نوموړي وروسته له ډېرو هڅو دهلی هم فتح کړ او دا ښار يې د قطب الدين ايبک په نامه يوه ترکي مريي(غلام) ته وسپاره. غوريان وروسته د دهلي له نيولو وتوانېدل چې ترېنګال پورې

(c) ketabton.com: The Digital Library

د قطب الدين ايبک زيارت

سيمې په خپل واک کې راولي.

په (٦٠٣ق، ١٢٠٦ م) کال کې د سلطان شهاب الدين محمد غوري ابن سام له مړينې وروسته د قطب الدين ايبک واکمنۍ ته لاره اواره شوه. ايبک ځان د هندوستان خپلواکه پاچا ونوماوه. نوموړي د ډهلي ښار خپله پلازمېنه وټاکله نو ځکه هغه خلک چې له ده څخه وروسته واکمنۍ ته ورسېدل. د ډهلي پاچاهانو په نوم ياد شول. هغه حکومت چې قطب الدين ايبک په ډهلي کې رامنځته کړ، تر ډېرې مودې يې په هند کې دوام وکړ ان د تيمور ګورګاني يرغلونو هم ونشوی کړای چې هغه حکومت له پښو وغورځوي او نوموړو د (لسمې هجري پېړۍ تر وروستيو/ شپاړسمې زېږديزې پېړۍ) پورې په هند کې واکمني وکړه له دې وروسته په هندوستان کې د لودیانو او سوريانو افغاني حکومتونه چې په تېرو لوستونو کې مو ولوستل را منځته شول.

په ټولګي کې فعاليت

زده‌کوونکي دې په د وو ډلو ووېشل شي. لومړۍ ډله دې په هند کې د ګوډتايانو د لړۍ او سيمه ييزو واکمنيو په هکله او دويمه ډله دې هند ته د اسلام په راتګ او د غزنويانو او غوريانو حکومتونو په هکله خبرې وکړي. پايله دې د ډلو استازي نورو ته وړاندې کړي.

پوښتنې

١- په هند کې د ګوډتايانو حکومت تر کوم کال پورې دوام وکړ او له فرهنګي پلوه څه ډول دوره وه؟ روښانه يې کړئ.

٢- مسلمانانو د لومړي ځل لپاره د هندوستان کومې سيمې لاندې کړې؟

٣- په هند کې د غزنويانو او غوريانو د حکومتونو په هکله لنډ معلومات وړاندې کړئ.

٤- قطب الدين ايبک څرنګه واکمنۍ ته ورسېد؟

له ټولګي څخه دباندې فعاليت

زده‌کوونکي دې په هند کې د غزنويانو او غوريانو د واکمنيو په هکله مطالب چمتو او په راتلونکي درسي ساعت کې دي له ځانه سره راوړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هند په نویو پېړیو کې

په دې لوست کې به د بابر په هکله چې څه ډول یې په هند کې حکومت را منځته کړ، او همدارنګه د نوموړي د ځایناستو په اړه چې له ده وروسته یې په هند کې حکومت وکړ، او هم به د ختیځ هند په نوم انګلیسي کمپنۍ له خوا د بابر ي پاچاهانو سره د اړیکو د ټینګښت او نفوذ په څرنګوالي مطالب ولولئ.

بابریان (گورکانیان)

ظهیرالدین بابر د خپل درباریانو سره

لومړنی کس چې په هندوستان کې یې د بابري لړۍ بنسټ کېښود، ظهیرالدین محمد بابر نومېده، نسب یې تېمور ته رسېده په خپله تېمور هم په مغولو پورې اړه لرله او په همدې دلیل په تاریخي سرچینو کې له بابریانو څخه د هند دګورکانیانو او مغولو په نوم هم یادونه شوې ده.

بابر واک غوښتونکی سړی و. د افغانستان د ډېرو سیمو تر نیولو، وروسته یې د هندوستان د نیولو هوډ وکړ او له (۹۲۵ ق ۱۵۱۹م) کال څخه یې په هغه هېواد یرغلونه پیل او تر (۹۳۲ق/ ۱۵۲۶م)کا ل پورې یې پنځه ځله په دې سیمه یرغلونه وکړل. په پایله کې په ډهلي کې د ابراهیم لودي د حکومت په ړنګولو یې ، هغه هېواد په خپله ولکه کې راوست.

د لودیانو په ماتې سره د هند په تاریخ کې یوه نوې دوره پیل شوه چې(۱۸۱)کاله یې دوام وکړ. په دې موده کې شېرو لویو ګورګاني (بابري یا مغولي) پاچاهانو پر هند حکومت وکړ.

بابر باتدبیره پوه او زړور سړی و. نوموړي سربېره پردې چې په هندوستان کې اوسېده، کابل هم پرې ګران و. بابر مخکې له مړینې وصیت وکړ چې د کابل له باغونو څخه په یوه کې خښ شي. په پای کې وروسته له ځلورو کلونو واکمنۍ د (۴۹) کلونو په عمر مړشو. او مړی یې له هند څخه کابل ته را انتقال کړ، او په هغه بڼ کې یې خښ کړ چې تل یې خوښاوه چې اوس د بابر بڼ په نامه یادیږي.

د بابر ځایناستي

هغه وخت چې بابر مړشو، زوی یې همایون واک ته ورسېد. همایون لس کاله په هند حکومت وکړ. نوموړی پوه او فرهنګي سړی و. خو د پلار په څېر یې پوځي پوهه نه درلوده. په همدې وخت (۱۵۴۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



په کابل کې د بابر ښ

م) کال کې د شېر شاه سوري په نامه يوه تکړه افغان د همايون حکومت له ګډې وډې وضعې څخه ګټه واخيسته او د همايون ځواکونو ته يې ماتې ورکړه، په دې توګه افغانان يو ځل بيا په هند کې واکمنۍ ته ورسېدل.

همايون له دې پېښې وروسته اړشو چې د ايران صفوي دربار ته پناه يوسي. خو نوموړي په هند کې د شېرشاه د مړينې په سبب له بدې او نا آرامې وضعې څخه ګټه واخيسته او د ايران د صفوي ځواکونو په مرسته له واکمنۍ څخه د (۱۶) کلونو وروسته يو ځل بيا د هند په تخت کښېناست. په دې توګه، په هند کې د افغانانو د واکمنۍ دوره هم ختمه شوه.

جلال الدين محمد اکبر

د هند پاچاهۍ ته د همايون راګرځېدو، زيات دوام ونه کړ، ځکه نوموړي دا ځل يوازې شېر مياشتې د هند پر تخت پاتې شو او په (۹۶۳ ق/ ۱۵۵۶ م) کال کې مړشو. له ده څخه وروسته د نوموړي ۱۳ کلن زوی جلال الدين محمد اکبر د هند د پاچاهۍ پر ګدۍ کېناست.

جلال الدين محمد اکبر زړور سړی او همدارنګه يو تکړه او هوښيار سردار و. نوموړي د خپل پوه او هوښيار وزير ابوالفضل علامي په مرسته د هند د هېواد چارې منظمې پرمخ بوتلې، د خپلو خلکو د هوساينې لپاره يې ډېرې هڅې وکړې. اکبر د هندي کورنيو د خواخوږۍ، جلبولو لپاره د جزيې قانون لغوه اعلان کړ. راجپوت اشراف يې د امپراتورۍ لوړو څوکيوته ورسول او په خپله يې له يوې راجپوتې هند وې سره واده وکړ.

اکبر پاچا د يوه پوځي سردار په توګه د تلپاتې پوځ په جوړولو سره د خپل حکومت بنسټ لا ځواکمن کړ. نوموړي بيا وروسته د راجپوتو قبيلو په مرسته کوچنۍ سيمه ييز حکومتونه له منځه يوړل. او له سويل نه تر شماله د هند په پراخه سيمو واکمن شو. په اصل کې د اکبر پاچا د حکومت په زمانه کې په هند کې د مغولو امپراتوري د ځواکمنتيا وروستي پړاو ته ورسېده. نوموړی وتوانېده چې د بنګال ، کشمير او سند حکومتونه هم لاندې کړي. اکبر پاچا په پای کې په (۱۰۱۴ ق/ ۱۶۰۵م) کال کې له پنځو سوکلونو پاچاهۍ وروسته مړشو.

نور هم زيات وپوهېږئ
دروښنيانو نهضت

د اکبر پاچا د حکومت په دورې کې، ځينې وختونه د ګورکاني حکومت ضد پاڅونونه او حرکتونه پېښېدل. له دې پاڅونونو څخه يوهم د بايزيد انصاري (پيرروښان) په مشرۍ د افغانانو پاڅون و دغه پاڅون ته ځکه د روښنيانو پاڅون ويل کېږي چې مشر يې پير روښان نومېده. سره له دې چې بايزيد انصاري په يوې جګړې کې مړشو خو د افغانانو نهضت د ۶۵ کلونو لپاره د مغولو په قلمرو په ځانګړې توګه په پښتونخوا کې د هند د ګورکانيانو پر وړاندې ادامه لرله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

جهانګیر

له اکبر پاچا وروسته د ده زوی سلیم د جهانګیر په نامه چې له راجپوتې مور څخه زیږېدلی و، د هندوستان پاچا شو. نومورې تر یوه حده هغو اصلاحاتو ته دوام ورکړ چې پلار یې منځته راوړي وو. خو د ده په زمانې کې د انګرېزانو د نفوذ هڅې په هند کې زیاتې شوې. په (۱۰۱۷ق/ ۱۶۰۸م) کال کې د انګلیس استازی د جهانګیر دربار ته ومنل شو. او وروسته له دې د سرتوماس روند (Sirtomos Roand) په نامه انګریزي سفیر د انګریزانو لپاره د سوداګرۍ حق واخیست. او په دې توګه د انګریزانو استعمارګرۍ نفوذ په هند کې پیل شو. همدارنګه د ده په زمانې کې د ایران پاچا، شاه عباس صفوي هم په کندهار یرغل وکړ. هغه وخت چې د هغه ښار حکمران د هند له پوځي مرستې څخه نا هیلی شو، کندهار یې بیا صفوي ایران ته پرېښود.

شاه جهان

له جهانګیر څخه وروسته د ده زوی شاه جهان پاچاهۍ ته ورسېد. نومورې(۳۰) کاله په هند حکومت وکړ. شاه جهان د هند د جوړولو(معماری) ډېر مینه وال و او امر یې وکړ چې د طاووس تخت په نامه له قیمتي غمیو څخه یو تخت ورته جوړ کړي خو د خلکو د بېوزلۍ او ستونزمن ژوند پروا یې نه لرله، او تر هغه پورې چې د دکن او ګجرات په سیمو کې سخته لوږه راغلې وه، نومورې بیاهم د خلکو د مرستې لپاره ګامونه اوچت نه کړل. همدا رنګه د ده په امر د سکانو مشر ووژل شو او دغه کار په هند کې د ګورکانیانو د حکومت پر وړاندې د سکانو د پاڅون پیل و.

اورنګزېب

اورنګزېب د عالمګیر په لقب سره د مغولي لړۍ د وروستي پاچا په توګه په (۱۰۶۹ ق/ ۱۶۵۹م) کال کې وروسته له هغه پاچا شو چې خپل پلار شاه جهان یې زنداني کړ. نومورې نه یوازې د نیکه (اکبر) په څېر د هنر او ادبیاتو او نه د پلار(شاه جهان) په څېر د معماری مینه وال و بلکې یو متعصب مذهبي او سخت دریځه پاچا و. اورنګزیب راجپوت هندوان له لوړو حکومتي څوکیو څخه لرې کړل او له هندوانو یې جزیې اخیستلې، او د هندوانو زیاتره معبدونه یې ړنګ او د دوی ځمکې یې مسلمانانو ته ورکړې.
د هند د بابري حکومت کمزورتیا د اورنګزیب له زمانې را پیل شوه، او په (۱۱۱۹ ق/ ۱۷۰۷م) کال کې د نومورې له مړینې سره سم یې د لومړي شاه عالم په نامه زوی او بیا یې بل زوی لومړی بهادر شاه واکمنۍ ته ورسېد.
له دې وروسته په هند کې سیمه ییز ځواکونه واک ته ورسېدل. په همدې وخت کې د بریتانیا د ختیځ هند کمپنۍ ته په هند کې د لا ډېرو لاسوهنو زمینه برابره شوه، او په پایلې کې د غه پراخ هېواد په (۱۲۵۵ ق/ ۱۸۳۹م) کال کې رسماً د بریتانیې تر سوري لاندې راغی.
سره له دې چې یرغلونو دوی کمزوري کړل خو د بریتانیا د ختیځ هند کمپنۍ چې د جهانګیر له وخته په هند کې نفوذ پیل کړی و، د نولسمې پیړۍ په لومړیو کې د خپل ملاتړ لاندې راوستل، او په ۱۹۴۷م کال کې خپلواکی لاسته راوړه..

(c) ketabton.com: The Digital Library

د زیاتې پوهېدنې لپاره

د خټکو نهضت

د اورنګزیب د واکمنۍ په دوره کې، د پښتو نخوا په سیمو کې د خوشحال خان خټک پر مشرۍ د افغانانو نهضت پیل شو. خوشحال خان خټک په ډېره میړانه، او زړور توب درې کاله په هند کې د ګورکانیانو په وړاندې مبارزه وکړه. خو د یوې جګړې په ترڅ کې چې له اورنګ زیب سره پښه شوه، ډېر افغانان په هغه کې له منځه لاړل او په خپله خوشحال خان خټک د اورنګ زیب په لاس بندي او څلورنیم کاله یې د اورنګ زیب په زندان کې تېر کړل. خوشحال خان خټک د پښتو ژبې له مشهورو شاعرانو او لیکوالو او همدا رنګه زمونږ د هېواد د زړورو پښتنو سردارانو له ډلې څخه دی.

په ټولګي کې فعالیت

زده‌کوونکي دې په دریو ډلو ووېشل شي. لومړۍ ډله دې د هند د بابریانو د لړۍ د رامنځته کېدو او د همایون د حکومت په هکله. دویمه ډله دې د جلا ل الدین اکبر د پاچاهۍ او جهانګیر حکومت په اړوند او دریمه ډله دې د شاه جهان او اورنګزیب د واکمنیو په هکله یو له بل سره خبرې وکړي او د مطلب لنډیز دې د ډلو د استازو لخوا نورو ته وړاندې شي.

پوښتنې

۱- بابر څوک و او څه ډول یې په هندوستان کې بابري لړۍ رامنځته کړه؟
۲- د بابر حکومت په هند کې څو کاله دوام وکړ، او ولې د نومورې مړۍ کابل ته راوړل شو؟
۳- د همایون په هکله څومره پوهېږئ او ولې یې ایران ته پناه یوړه؟
٤- همایون وروسته له څو کلونو، او څه ډول په هند کې د دویم ځل لپاره د هند واکمن شو؟
٥- جلال الدین اکبر، راجپوتو هندوانو ته څه خدمتونه ترسره کړي، په لنډه توګه یې روښانه کړئ.
٦- د طاووس تخت د کوم پاچا په زمانه کې جوړ شو؟ د پوښتنې سم ځواب په نښه کړئ
الف: جلال الدین اکبر ب: جهانګیر ج: شاه جهان

له ټولګي څخه دباندې فعالیت

زده‌کوونکي دې په هند کې د بابري لړۍ مهم ټکي په خپلو کتابچو کې ولیکي. ښوونکی دې په راتلونکي درسي ساعت کې د دوی کتابچې وګوري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هند په بابري دوره کې علم، فرهنګ او هنر

په هند کې د بابریانو واکمني د علم، فرهنګ او هنر له پلوه د هغه هېواد یوه بډایه دوره ګڼل کېږي. بابر او اکبر د دې دورې له مشهورو او با فرهنګ دوستو پاچاهانو څخه وو. په دې لوست کې به د بابریانو د علم، فرهنګ او هنر د وضعیت په اړه معلومات تر لاسه کړئ.

د بابریانو په زمانه کې علم، فرهنګ او هنر ته ډېره پاملرنه وشوه. په هغه وخت کې د هند مهمې سیمې د مسلمانانو په واک کې وې. دري د هغه هېواد رسمي ژبه شوه. بابر او اکبر دواړه د فرهنګ کلک مینه وال وو او پخپله بابر هم فارسي شعرونه ویلي دي. ګلونه او باغونه یې خوښېدل. نومورو د هند دربارته د دري ژبي شاعرانو په ورټولولو سره، دري ادبیات پیاوړي کړل که څه هم اکبر پخپله سواد نه درلود. سره له دې یې هم له نوو علومو سره مینه لرله او هم به یې یوه ډله کتاب لوستونکي لرل چې نومورې ته به یې کتابونه لوستل.

د اکبر پاچا په امر ډېر کتابونه له سانسکرېټ څخه دري ژبې ته وژباړل شول. د نومورې دا کار د دري ژبې د خپرېدو لامل وګرځېد، او د هند د غیر مسلمان او سېدونکو مینه هم له دري ژبې سره زیاته شوه.

د اسلام سپېڅلي دین ډېره موده مخکې هند ته لاره پیدا کړې وه، او بابریان په هندوانو کې د اسلام دین په نسبي خپرېدو بریالي شول، او په هېواد کې یې د قومونو او مذهبونو ترمنځ یووالی رامنځته کړ. د اکبر پاچا دګټورو اقداماتو له ډلې څخه د غیر انساني دود (ساتي) یعنې د مېړه له مړینې وروسته د مېرمنو له خوا د ځان سوځېدنه منعه کړه.

د معماریِ هنر ته هم د بابر یانو په وخت کې ځانګړې پاملرنه وشوه او ګڼ شمېر قوس لرونکي اوګنبدي ودانۍ، د ښــه را غلاســت د تالارونو په لرلو سره دود شوې، چې د ځانګړې اسلامي معماریِ ښکارندوی وي. ډېر شمېر ښکلي باغونه، ودانۍ او مانۍ جوړې شوې، لکه د اګرې په ښارکې تاج محل، په فتح پور کې د اکبر مانۍ، په ډهلي کې د شاه جهان سره کلا،او د هندوستان

(c) ketabton.com: The Digital Library



پـه نورو ښـارونو کـې ډېرې ودانۍ جوړې شـوې، خو د هند ګورکانیانو افغانسـتان ته ډېره پاملرنه نه کوله، نو ځکه زمونږ په هېواد کې ارزښتناک او باعظمته آثار پاتې نه شول. سـره لـه دې هـم، ځینـې آثـار رامنځته شـول، لکه د کندهار د سـر پـوزې په غره کـې د چهل زینـې اثر چې د بابر په امر جوړشـو. ځینې باغونـه یې په افغانسـتان کې جوړ کـړل چې کولای شـو د کندهـار، اسـتالف، کابل او د کابـل شـمالي او ختیځ لور د علم ګنج بڼ، شـهرآرا بڼ، دلکشـا بڼ، د بابر چهار باغ، بګرامي بڼ، صفا بڼ او کوکب بڼ نومونه واخلو.

د انځورګـرۍ پـه هنر کې له طبیعـت څخـه تقلیـد او له لرغونـو هنـدي لاروچـارو

چې زیات و پوهیږئ

تاج محل

تاج محل د نړۍ له ډېرو ښکلو ودانیو او همدارنګه د اسلامي معماری ترټولو غوره، او نه هېرېدونکې نمونه ده چې د اګرې په ښار کې هغه وخت جوړ شوي دی چې په (۱۶۳۱م) کال کې د شاه جهان مېرمن(ممتاز محل) مړه شوه. شاه جهان امروکړ چې د ګرانې مېرمنې د قبر پر سر یې داسې ودانی جوړه شي. د دې ودانۍ د جوړولو لپاره یې د ډېرو غورو معمارانو غونډه را وبلل شوه، او د غونډې په پای کې د استاد عیسی شېرازي طرحه ومنل شوه.

د تاج محل ودانۍ د جوړولو کار (۲۲) کاله وخت ونیو، او په دې مودې کې (۲۰۰۰۰) کارکوونکي په کې ګمارل شوي وو. تاج محل په مرمرینو او قیمتی ډبرو ښکلی شوی دی او په سر یې پیاز شکله ګنبده موقعیت لري. د دې ګنبدې لوړوالی(۲٤,۵) متره او قطر یې له (۱۵) مترو څخه زیات دی . د دې ودانۍ لاندې د میرمن ممتاز محل قبر دی، او د دې قبر څنګ ته شاه جهان هم خښ شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

څخه ګټه اخيستل.

د سلطان حسين بايقرا د دربار ترټولو غوره انځورګر استاد کمال الدين بهزاد هم په همدې وخت کې په هرات کې اوسېده. د هند مغولو د بڼونو او بوستانونو د منظرو په ترتيب او په دېوالونو د انځورونو او د هغو رنګولو په سبب د استاد بهزاد د ميناتورۍ مينه وال شول. هغه يې په هند کې دود کړل او ان خپله اکبر پاچا په خپل دربار کې د انځورګرۍ کارخانه لرله چې له سلو زياتو انځورګرانو پکې کار کاوه.

موسيقي هم له ديار لسمې پېړۍ څخه وروسته په هندوستان کې وځلېده. له اورنګ زيب څخه پرته د هند ټول مغولي واکمنان د موسيقۍ مينه وا ل وو. د فقير الله په نامه د هند يو مسلمان په (١٦٦٦م) کال کې د راګ درپن (Rag Darpan) په نامه يو کتاب تأليف او خپور کړ. له دې وروسته د موسيقۍ په برخه کې د مسلمانانو او هندوانو فرهنګي سبکونه سره ګډ شول. په دې دوره کې تر ټولو مشهور سندرغاړی تانسن (Toncean) نومېده. نوموړی د اکبر پاچا د دربار تر ټولو غوره سندرغاړی، او د هند د ټولو سندرغاړو د مخکښ په توګه پېژندل شوی و. د بابريانو په دوره کې زياتره هغو خلکو چې په ښارونو کې يې ژوند کاوه د خوښيو شپو او ورځو (نوی کا ل او برات) او هغو جشنونو کې چې په لويو مذهبي قبرونو او زيارتونو کې جوړېدل ګډون يې کاه او د هغو مداريانو او جادوګرانو په زړه پورې نندارتونونو او د څارويو له لېدلو څخه يې خوند اخيست. خو د نادر افشار له خوا د اتلسمې پېړۍ له نيمايي وروسته، يرغلونه د ډېرو وېجاړيو لامل وګرځېدل. د هند پلازمېنې زياتره برخو هغه پخوانۍ ځلېدنه او دبدبه له لاسه ورکړه.

په ټولګي کې فعاليت

زده‌کوونکي دې په دوو ډلو ووېشل شي، لومړۍ ډله دې د بابريانو د علم او فرهنګ په هکله خبرې وکړي او دويمه ډله دې د هند د مغولو په دوره کې د هنر په هکله وغږېږي او پايلې دې د هرې ډلې د استازي له خوا په پرتليزه توګه وړاندې شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوښتنې

۱- بابر او اکبر د علومو او دري ژبې لپاره کوم ګامونه اوچت کړل؟ څرګند يې کړئ.

۲- د اکبر پاچا د ګټورو اقداماتو له ډلې څخه يو هم د غير..... دود له منځه وړل وو.

۳- استاد کمال الدين بهزاد څوک و؟

٤- د موسيقۍ په برخه کې د راګ درپن په نامه کتاب د کوم يوه لانديني سړي له خوا ليکل شوی و؟

الف: فقير الله ب: استاد بهزاد ج: شاه جهان

له ټولګي څخه دباندې فعاليت

زده‌کوونکي دې په هند کې د بابريانو د دورې د ارزښتناکو آثارو په هکله لږ تر لږه دوه مخه مطلب وليکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

چین په منځنیو پېړیو کې

په دې لوست کې به په منځنیو پېړیو کې د چین د یووالي او لویوالي په څرنګوالي او انګېزو، د بزګرانو د پاڅون په لاملونو او د هغو په پایلو، او همدا رنګه په چین کې د مغولو د واکمنۍ چې ډېرو وېجاړیو او بې شمېره خلکو د وژلو لامل شول، خبرې کوو.

په منځنیو پېړیو کې د چین یووالی

له منځنیو پېړیو مخکې چین په یو لړ ښلا ښلو سیمو وېشل شوی و. د چین شمال د هغو یرغلګرو کډوالو د یرغلونو په واسطه لاندې شوی و، چې د لویدیځ او شمال له لوري یې پرې یرغلونه کړي وو.د چین سویل هم په دې وخت کې په څو سیمو وېشل شوی و. په دې توګه، په چین کې څوګونو پاچاهانو او پوځي سردارانو په خپلواکه توګه واک چلاوه چې تل به یو له بل سره په جګړو کې ښکیل وو.

زیات وپوهیږئ

چینایانو هیڅ وخت خپل هېواد چین نه باله، دوی معمولاً تر آسمان لاندې امپراتوري بلله او ځانونه به یې آسماني زامن بلل.

په (٦١٨م) کال کې د چین خاورې له سره یووالی ومونډ. دغه یووالی د یوه زړه ور او جګړه مار سردار چې کائوتسو (Kaiotso) نومېده را منځ ته شو، او د تانګ (Tong) په نامه یې امپراتوري جوړه کړه.

د تانګ کورنۍ امپراتورانو د خلکو په مرسته وکولای شول چې ټول سیمه ییز مشران، او پوځي سرداران تابع کړي، او پراخې سیمې تر واک لاندې راولي. د یو لړ بریالیو جګړو وروسته یې ګاونډي هېوادونه هم لاندې کړل، او چینایان هلته مېشت شول. په دې توګه د چین لوی هېواد رامنځته شو. د تانګ د امپراتورۍ په زمانه کې د چین خاوره له اوسني چین څخه هم پراخه وه. په هغه وخت کې د هند د شمال په شاهزاده ګانو، باندې د چین فرمان چلېده او دوی ته به یې خراج ورکاوه.

د تانګ امپراتورۍ شاوخوا(٢٨٨) کاله د چین په پراخه خاوره حکومت وکړ. په هغه وخت کې چین خپل ځواک، اقتصاد او فرهنګ لوړو پوړیو ته ورساوه. چینایانو د تانګ په لړۍ کې باروت اختراع کړل. د دې امپراتورۍ پلازمېنه د چانکان(Chankan) ښار و چې اوس سیان (Ceaion) نومېږي. دتانګ د امپراتورۍ په مهال چین د نړۍ یو له ډېرو ځواکمنو حکومتونو څخه ګڼل کېده، خو په نهمه زیږدیزه پېړۍ کې چین د بزګرو له یوه لوی پاڅون سره مخ شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په نهمه زیږدیزه پیړۍ کې د بزګرانو پاڅون

په بزګرانو باندې د فیوډالانو او د پراخو سیمو د خاوندانو له خوا درانه باجونه او بدې رویې د دې لامل وګرځېدلې، چې د تانګ امپراتورۍ په ښلا ښلو سیمو کې پاڅونونه رامنځته شي. یو له دې پاڅونونو څخه په (۸۷٤م) کال کې د هوانګ چائو(Hovangcho) په مشرۍ بزګري پاڅون و. چائو چې له جګړه ییزو چارو سره پوره بلد و. له بزګرو څخه یې څو زره کسیز لښکر جوړ کړ. د دې لښکر شمېر هره ورځ زیاتېده، او د امپراتورۍ لښکر د هغه سره د مقابلې توان له لاسه ورکاوه.

چائو چې د بزګرو د لښکرو په سرکې و، غوښتل یې چې له ټولو فیوډالانو او د چین له ایالتونو سره حساب پاک کړي، تر څو د بزګرو ژوند ښه او نابرابري له منځه لاړه شي.

هوانګ چائو او ملګري یې له یو لړ بریالیو جګړو وروسته په (۸۸۱م) کال کې د تانګ امپراتورۍ ته ننوتل. امپراتور وتښتېده او له نوموړي سره یې ټول ترلې فیوډالان، دولتي کارکوونکي او پوځي مخور ووژل شول، او د دوی په ځای بزګران په لوړو څوکیو وګمارل شول. د پلازمینې شتمني ټوله د بې وزلو ترمنځ ووېشل شوه.

چائو دوه نیم کاله پلازمېنه په واک کې لرله خو امپراتور، او فیوډالان له کډوالو ټبرونو سره ملګري شول او ځانونه یې(تور کارغان) وبلل. هغوی په (۸۸۳م) کال کې د هوانګ چائو لښکرو ته ماته ورکړه. زیاتره بزګران د امپراتور اجیران شول او د بزګرو پاڅون په سخته ماتې خوړلو سره له منځه لاړه، خو د تانګ امپراتورۍ نوره هغه پخوانۍ ځواکمنتیا او ځلا نه لرله. نوموړې امپراتورۍ په (۹٦۰م) کال کې خپل ځای د سونګ(sung) په نامه یوې بلې کورنۍ ته پرېښود.

په چین کې د مغولو واکمنې

په مغولستان کې د مغولو په پوځي ځواکمنتیا سره، چنګیز خان د دوی د مشر په توګه راښکاره شو. په لومړي سرکې یې د ګاونډیو هېوادونو لاندې کولوته پاملرنه وکړه چې په دې ډله کې چین هم و. په هغه وخت کې د سونګ د امپراتورۍ لرې په چین کې واکمنه وه. سره له دې چې د چنګیز خان په ژوند کې ټول چین فتح نه شو. خو د نوموړي زامن په (۱۲۳٤م) کال کې وتوانېدل چې چین لاندې کړي.

مغولو په چین کې ډېرې وېجاړۍ رامنځته کړې. د بزګرانو کښتونه د مغولي څارویو په خړځایونو بدل شول، ګڼ شمېر خلک له منځه لاړل. نوموړو په (۱۲۷۱م) کال کې د پېکېنګ(بي جینګ)

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښار د خپلې امپراتورۍ د پلازمېنې په توګه وټاکه، او تر خوارلسمې زیږدیزې پېړۍ پورې يې د چين په پراخه خاوره واکمني وکړه.

مغولو د چين زيار ايستونکي د ځان لپاره غلامان کړل.

چينايان له دولتي څوکيو او ادارو څخه وايستل شول. دا کار د عامه وګړو د کرکې لامل وګرځيده، په ځانګړې توګه د چين زيار ايستونکي د مغولو پر ضد راپورته شو او په (۱۳٤۸م) کال کې يې د چوپو آنګ چان (Chew ang Chon) په نامه ديوه بزګر په مشرۍ د چين په سويل کې د مغولو په وړاندې پاڅون پيل کړ. په دې پسې د بزګرو او عامه وګړو له خوا په ټول چين کې پاڅون پيل شو. د مغولو د اداري او پوځي مامورينو ډله ييزې وژنې ورسره ملګرې وې او ښارونه يو پر بل پسې د پاڅون کوونکو لاسته ورغلل. چان په (۱۳٦۸ م) کال کې د نانکېنګ ښار له نيولو وروسته د مېنګ (Ming) په نامه نوې امپراتوري په هغه ښار کې رامنځته کړه. نوموړي د چين د خلکو په مرسته د مغولو پلازمينه (پيکنګ) ونيوه او مغول يې تر مغولستان پورې په شاه وتمبول. په دې توګه په چين کې له سلو کلونو څخه زياتې واکمنۍ وروسته مغولي امپراتوري ړنګه شوه او په بدل کې يې د مېنګ لويه امپراتورۍ واکمنه شوه، او د دې لړۍ واکمني څه د پاسه (۳۰۰) کاله اوږده شوه. په دې دورې کې د چين خلکو نسبت نورو دورو ته په هوساينې او آرامۍ کې ژوند کاوه.

چې زيات پوهېږئ

مارکوپولو

مارکوپولو د نيکوپولو زوی په منځنيو پېړيو کې د اروپا تر ټولو مشهور ګرځندوی ګڼل کېږي. نوموړي د خپل پلار او تره سره د کوچنۍ آسيا، ايران او افغانستان (د وړښمو له پخوانۍ لارې) نه چين ته سفر وکړ، مارکوپولو وتوانېده چې په چين کې د واکمنو مغولو دربار ته لاره پيدا کړي. ده شل کاله په چين کې تېر کړل. په دې موده کې د چنګېز خان د زوی (قبلالي خان) له خوا د چين حکومت په لوړو څوکيو وګمارل شو، لکه د ګمرک اداره، سفارت او داسې نور. په پايله کې نوموړي د چين په ګډون د آسيايي هېوادونو له وضعې سره پوره بلدتيا تر لاسه کړه. کله چې چې په (۱۲۹۵م) کال کې خپل پلرني ټاټوبي (ونيز) ته وګرځېد. د خپلو خاطراتو په کتاب کې يې د ډېرو آسيايي هېوادونو او سيمو د فرهنګ، تمدن او اقتصادي وضعې په هکله معلومات او خبرتياوې اروپاييانو ته ورسولې چې په نويو پېړيو کې هند او چين ته د ډېرو اروپاييانو د کډوالۍ لامل وګرځيده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ټولګي کې فعالیت

زده‌کوونکي دې په دروو ډلو ووېشل شي. لومړۍ ډله دې د چین د یووالي او تانګ امپراتورۍ د رامنځته کېدو په هکله، دویمه ډله دې د بزګرانو پاڅون او د هغوی د پایلو په هکله او دریمه ډله دې په چین کې د مغولو د واکمنۍ په هکله خبرې اترې وکړي. پایلې دې د هرې ډلې د استازو له خوا وړاندې شي.

پوښتنې

۱- د چین وضعه مخکې د منځنیو پېړیو له پیل څخه څه ډول وه؟ معلومات ورکړئ.

۲- د چین یووالی څه وخت رامنځته شو او د تانګ د امپراتورۍ په اړه څومره پوهېږئ؟

٤- مغول څه ډول په چین واکمن شول؟ په دې اړه معلومات ورکړئ.

٥- په چین کې د مغولو حکومت څوکاله اوږد شو؟

الف: ٥٠ کاله ب: له سلو څخه زیات کلونه ج: درې پېړۍ.

له ټولګي څخه د باندې فعالیت

زده‌کوونکي دې په راتلونکي درسي ساعت کې د مغولو او په چین کې د هغوی د بري په هکله یو مطلب وليکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

چین په نویو پېړیو کې

په دې لوست کې به په نویو پېړیو کې د چین د سیاسي او ټولنیزې وضعې له څرنګوالي سره آشنا شئ.

د نویو پېړیو پیل په اصل کې له لیرې ختیځ (هندو چین) سره د اروپایانو د سوداګریزو اړیکو له پیل سره سمون خوري. پرتګالیان چې ماښوګان وو. وروسته له ډیرو هڅو وتوانېدل چې د لومړي ځل لپاره د افریقا وچې له غاړو څخه را تاو شي او په لومړي سرکې د هند په سویل لویدیځو غاړو کې پلي شول. نومورې بیا وروسته په (۱۵۱۳م) کال کې د سوداګرۍ د پراختیا لپاره د چین سویلي سیمو ته راغلل، په هغه وخت کې چې د مینګ لړۍ په چین کې واکمنه وه، د کانتون (conton) بندر یې د پرتګالیانو د سوداګرۍ لپاره خلاص کړ. چین ته د پرتګالیانو راتګ د دې لامل وګرځید؛ تر څو لومړی هالنډیان او وروسته انګریزان او فرانسویان هم له چین سره د سوداګرۍ په لټه کې شي. د اروپایانو زیاتره فعالیتونه په سویلي بندرونو کې په ځانګړې توګه د کانتون په بندر کې تر سره کېدل. او له هغه ځای څخه یې چای، وربښم او چینۍ لوښي راوړل، له دې وروسته چین ته د اروپایانو تګ او راتګ له شمېر عیسوي مبلغینو سره زیات شو. په دې سفرونو کې، عیسوي مبلغین به له قیمتي ډالیو سره له اروپایانو سره تلل. د چین دولت هم دغو مسیحي مبلغینو ته د مسحیت د تبلیغ اجازه ورکړه.

په چین کې د مینګ د کورنۍ حکومت(۳۰۰) کاله دوام وکړ خو په (۱٦٤٤م) کال کې د همدې هېواد له شمال ختیځ لوري څخه د منچوریا د صحرایي ټېرونو له یرغلونو سره مخ شو. له یو لړ جګړو وروسته د مینګ امپراتوري رېنګه او دهغې پر ځای د منچو (Manchu) په نامه نوې امپراتوري رامنځته شوه چې پلازمېنه یې د پکېنګ (Peking) ښار و. په اصل کې دوی ځیرک او جګړه مار خلک وو. د منچو اشرافو په کلو کې د سختو جګړو په واسطه د بزګرانو زیاتې ځمکې لاسته راوړلې، او هغه یې په خپل خصوصي شتمنیو بدلولې، له بزګرو سره به یې د بې رحمۍ او زورزیاتي چلند کاوه. زیاترو چیني فیوډالانو به له دولت څخه ملاتړ کاوه، او دمنچویانو د فرمان سره سم یې په دولتي ادارو کې فعالیت کاوه. نومورې د جګړو اسیران په خپلو شخصي غلامانو بدل کړل.

د منچو کورنۍ و توانېدله چې ټول چین تر خپلې واکمنۍ لاندې راولي، او شاو خوا دوې نیمې پېړۍ یې پر چین واکمني وکړه. نومورو د مینګانو په څېر له اروپایانو سره خپلو سوداګریزو اړیکو ته دوام ورکړ. له چین سره سوداګري د اورپایانو په ګټه ختمه شوه، او تر درېو پېړیو یې دوام وکړ. اروپایي سوداګرو ارزښتناک غنیمتونه لاسته راوړل او د خلکو په وړاندې یې له هېڅ ډول فساد څخه ډډه ونه کړه. نومورو به چینې سوداګر تېرایستل، د چین خلکو ته یې سپکاوی کاوه، او چیني مامورنیو ته به

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې رشوت ورکاوه. تر څو اروپایان د دوی د جنایت په وړاندې پلټنه ونکړي.
په دې توګه د اروپایانو سوداګري، د چین د خلکو د مالونو د چور او لوټولو لامل وګرځېده.
دغه وضعه د پردیو په تېره د انګریزانو په وړاندې د چین د خلکو د کرکې او نفرت لامل وګرځېده؛ځکه انګرېزانو د نورو اروپایي هېوادونو په پرتله له چین څخه ډېره ګټه ترلاسه کړې وه. په پای کې د چین دولت له اروپایي هېوادونو سره خپله سوداګري لنډه کړه او په (۱۷۵۷م) کال کې د کانتون بندر په ګډون د چین ټولو نورو تر اروپایانو تګ راتګ منع شو او د نوموړو سوداګري او مذهبي فعالیتونه چینایانو تر څارنې لاندې ونیول. په دې توګه د چین دولت خپلې دروازې د بهرنیانو پرمخ وترلې او خوکاله یې د اروپایانو د تګ او راتګ مخه ونیوله. سره له دې هم اروپایان وتوانېدل چې د درو پېړیو لپاره خپلې سوداګریزې اړیکې له چین سره ټینګې کړي. په دې مودې کې انګرېزان له چین څخه د ګټې اخیستنې په برخه کې تر ټولو زیات بریالي وو، او په پایله کې یې چین د تریاکو لګښت ته اړ کړ چې د انګرېزانو له خوا به د قاچاق په توګه لېږدول کېدل.

په ټولګي کې فعالیت

زده‌کوونکي دې په دوو ډلو ووېشل شي. لومړۍ ډله دې په دې هکله خبرې وکړي چې اروپایان له کومې لارې څخه چین ته راغلل، او څه ډول یې د چین له حکومت سره خپلې سوداګریزې اړیکې ټینګې کړې؟ او دویمه ډله دې په چین کې د منچو کورنۍ په بریالیتوب او له اروپایانو سره د دوی د اړیکو په هکله خبرې وکړي. پایلې دې د ډلو استازي ټولګي ته وړاندې کړي.

پوښتنې

۱- د مینګ د کورنۍ حکومت د چا په واسطه رنګ شو؟

الف: د منچو صحرایي ټبرونو ب: اروپایانو ج: هیڅ یو

۲- په کلو کې له بزګرانو سره د منچو اشرافو چلند څه ډول وه؟

۳- د چین حکومت ولې کانتون بندرته د اروپایانو تګ او راتګ بند کړ؟

د لاندې جملې تش ځایونه په مناسبو کلمو سره ډک کړي

٤-له چین سره سوداګري د ..... په ګټه ختمه او شاوخوا..... دوام وکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د چين اقتصادي، فرهنګي او هنري وضع

الف: اقتصادي وضع

په منځنيو پيړيو کې د چين هېواد له اقتصادي پلوه ستر بريالیتوبونه تر لاسه کړل. نوي نهرونه، بې شميره بندونه او د کښت فن پر مخ تللو و سايلو په واسطه تر سره شو. د کانونو لکه د اوسپنو، مسو، سرو او سپينو زرو رايستل پراختيا وموندە. نوي ښارونه د ښکلو ماڼيو او معبدونو په لرلو سره جوړ شول او سوداګري ډېره زياته وغوړېده. د چانګان(changan) ښار چې د تانګ امپراتورۍ پلازمېنه وه له يو ميليون څخه يې زيات اوسېدونکي لرل. دغه ښار په هغه وخت کې د لويو سوداګريزو مرکزونو څخه ګڼل کېده.

چينايانو له ګاونډيو او د منځنۍ آسيا له هېوادونو سره پراخه سوداګرۍ پيل کړه. او چينايان ډېر ژر پدې وتوانيدل چې د چاي توليد ډېر او هغه ډېرو هېوادونو لکه هندوستان ته ولېږ دوي. همدارنګه عربو هم چې د سوداګرۍ کسب درلود د کانتون په بندر کې يې د سوداګرۍ ځانګې پرانيستلې، او له چينايانو سره يې په پراخه سوداګرۍ لاس پورې کړ. له نورو هېوادونو سره د چينايانو اړيکې، د چينايانو په فرهنګ باندې ډېره زياته اغېزه وکړه.

ب : فرهنګي وضع

په منځنيو پيړيو کې چينايان ډېر فرهنګي خلک ګڼل کېدل. د چين ادبيات د سلګونو کلونو په اندازه له اروپا څخه مخکې وو. په چين کې کاغذ د نړۍ له نورو هېوادونو څخه د مخه کشف شو. او د چاپ صنعت ډېره موده مخکې منځته راغلې و. په اتمه هجري پيړۍ کې د تانګ امپراتورۍ په فرمان د (پلازمېنې پيغام) په نامه تر ټولو لرغونې ورځپاڼه خپرېدله. چې په هغه کې به د امپراتور فرمان او د هېواد مهم سياسي خبرونه خپرېدل. د غې ورځپاڼې له زرو کلونو څخه زيات دوام وکړ.

چينايانو له پخوا څخه باروت او قطب نما اختراع کړي وو. نومورو له ستورو پېژندنې او کليزې سره پوره بلدتيا لرله، د لمر کسوف په هکله به يې وړاندوينې کولای شوې. د تانګ او سونګ د امپراتوريو په زمانو کې علومو او فنونو لکه رياضياتو، جغرافيې او د کښت چارو ته ځانګړې پاملرنه وشوه. تاريخ ليکونکو او فيلسوفانو ته په چين کې په ډېره درنه سترګه کتل کېدل. د دې دورې تر ټولو مشهور شاعران لی پو او توفو (Lepo-Tofou) وو. په ښارونو کې لوی کتابتونونه او ښکلي پوهنتونونه جوړ شول چې په هغې کې په ځانګړې توګه تاريخ، فلسفه او ادبيات تدريس کېدل.

ج: هنري وضع

د تانګ د امپراتورۍ پر مهال په چين کې تياتر او موسيقي په نوي ډول سره دود شول. حتی امپراتور

(c) ketabton.com: The Digital Library

هم په خپل دربار کې د هنر زده کولو ښوونځی جوړ کړ. تیاتر له پخوا څخه د چین د خلکو د علاقې وړ ساعت تېرې ګڼل کېده، چې تر اوسه هم په چین کې دود دی.

د سونګ د امپراتورۍ په دورې کې انځورګري هم د پام وړ وګرځېده. چینایانو به خپل انځورونه زیاتره په ورېښمینو توټو او د معبدونو او ماڼیو په دېوالونو انځورول. حجاري او مجسمه جوړول هم له پخوا څخه په چین کې پراختیا موندلې وه. د خدایانو، امپراتورانو او د ژوو هیکلونه او زیاتره لوبې ودانۍ او مجسمې به یې جوړولې. معماري د امپراتورانو او فیوډالانو د ځانګړې پاملرنې له کبله وغوړېده.

چیني معمارانو به د استوګنې کورونه ، پلونه او ښکلي ماڼۍ ګانې له مرمرینو ډبرو څخه جوړولې، او وروسته به یې د لوښو په چیني موادو، سروزرو کیندلو سره په هنري توګه ښکلا ورکوله. هغه اروپایان چې په چین کې اوسېدل د نومورو ودانیو لویوالي او ښکلا هک پک کړي وو.

هنر د شتمنو خلکو ورځني ژوند ته ژوره لاره پیدا کړې وه، او نژدې د دوی ټولې ګټې هنري شیان او هنري پیداوار ګڼل کېدل، او همدا رنګه چیني لوښي جوړول هم د چین د خلکو له ویاړو نو څخه ګڼل کېږي.

په ټولګي کې فعالیت

زده‌کوونکي دې په درو ډلو ووېشل شي. لومړۍ ډله دې د چین د اقتصادي وضعې په هکله، دویمه ډله دې د چین فرهنګي وضعې ا و دریمه ډله دې د چین د هنري وضعې په هکله بحث وکړي، پایله دې د ډلو د استازو له خوا په پرتلیزه توګه نورو ته وړاندې شي.

پوښتنې

۱- ستاسو په اند، د چین سوداګریزې اړیکې له ګاونډیو او منځنۍ آسیا هېوادونو سره څه ډول وې؟

۲- د (پلازمېنې پیغام) ورځپاڼې او د چین مشهورو شاعرانو په هکله معلومات ورکړئ.

۳- د موسیقۍ او تیاتر په هکله چې څومره پوهېږئ خپل معلومات نورو ته وړاندې کړئ.

د لاندې جملې تش ځایونه په مناسبو کلمو سره ډکې کړئ.

٤ -معماري د..... او فیوډالانو د ځانګړې پاملرنې پواسطه ..... پراختیا وموندله.

له ټولګي څخه دباندې فعالیت

زده‌کوونکي دې د لوست مهم ټکي په خپلوکتابچو کې ولیکي او په راتلونکي درسي ساعت کې دې ښوونکي ته د کتنې لپاره وړاندې کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

شپږم څپرکی

اروپا او امریکا په منځنیو او نویو پیړیو کې

په دې څپرکي کې هڅه کېږي چې په ډېره لنډه توګه په منځنیو اونویو پیړیو کې د اروپا او امریکا وضعیت تر څېړنې لاندې ونیول شي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

د څپرکي موخې

هیله ده چې زده‌کوونکي ددې څپرکي په پای کې لاندې پایلې ترلاسه کړي:

- په منځنیو اونیو پیړیو کې د اروپا او امریکا له سیاسي او اقتصادي وضعې سره آشناشي.
- په صلیبي جګړو وپوهیږي او د هغو په پایلو او لاملونو یې وپوهیږي.
- د رنسانس په مفهوم وپوهیږي.
- په منځنیو پیړیو کې د امریکا له بومي فرهنګ سره بلد شي.
- د امریکا د کشف په هکله معلومات ترلاسه کړي.
- د امریکا د ودې او پرمختګ په لاملونو وپوهیږي.
- د صلیبي جګړو لاملونه او پایلې وکولای شي وپیژني.
- په دې پیر کې د اروپا د علم، هنر او فرهنګ د پرمختګ لاملونه په ګوته کړای شي.
- د متحده ایالاتو د ودې او پرمختګ لاملونه وپیژني او لړلیک یې کړي.
- د نقشو او اطلسونو څخه کار واخیستلای شي.
- د ودې او پرمختګ مینه وال شي او ځان د نړۍ یوه برخه وګڼي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اروپا په منځنیو پېړیو کې

په دې لوست کې به په منځنیو پیړیو کې د اروپا د سیاسي او ټولنیزې وضعې له څرنګوالي سره په لنډه توګه بلدشئ.



آیا د منځنیو پیړیو له اصطلاح سره کله مخ شوي یاست؟ یا مو اورېدلي چې داکار یا هغه طرز فکر د منځنیو پیړیو د وخت دی؟ دا وینا هغه وخت کارول کېږي چې یو کار په زړه طریقه تر سره شي یا یو اندود د ننني پوهې پر بنسټ ولاړ نه وي.

یو وخت په اروپا کې ښاري ژوند دود نه و. د علم او پوهې زده کړې ته خلکو ښه راغلاست نه وایه. دغه شرایط د اروپا د تاریخ له یوې دورې سره تړاو لري.

مؤرخینو د لوېدیځ روم له پرځېدو (٤٧٦ م) څخه د ختیځ روم تر را پرځېدو (١٤٥٣م) پورې واټن، منځنۍ پېړۍ ونومولې. مذهب او کلیسا واکمني او د فیوډالېزم نظم د اروپا د تاریخ د دې دورې له ځانګړتیاوو څخه ګڼل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له لرغونو پېړیو څخه وروسته د منځنیو پېړیو دوره را منځته شوه چې د اروپا د تاریخ زرکاله (۵۰۰-۱۵۰۰)رانغاړي.له منځنیو پېړیو څخه وروسته نوې پېړۍ رامنځته شوې.

په دې لوست کې به د اروپا د تاریخ د منځینو پېړیو چې په لومړۍ نیمایي (۵۰۰-۱۰۰۰م)په حدود کې پیل شوې خبرې وکړو.

په منځنیو پېړیو کې د اروپا مهمو ټولنیزو حالتونو ته لنډه کتنه

د یرغلګرو قومونو په واسطه په (٤٧٦م) کال کې د لوېدیځ روم له نسکورېدو او د روم ښار له نیولو وروسته د منځنیو پېړیو پېر پیل شوه. د ژرمن، مجار، فرانک او په همدې توګه د ځینو نورو قومونو، د څو پېړیو یرغلونو په ترڅ کې چې تقریباً ټوله اروپا یې ونیوله او وروسته تر دې چې د ډېرو خلکو ژوند یې خراب کړ نو کلو او کلاګانو ته یې مخه کړه. د دې یرغلونو په پایله کې ډېرې تمدني لاسته راوړنې لکه ښاري ژوند، سوداګرۍ او د پوهې او زده کړې مرکزونه له خاورو سره برابر شول. ترهغې چې وروسته له ډېرو پېړیو یعنې د منځنیو پېړیو په پای کې یوځل بیا په اروپا کې ښاري ژوند، سوداګري او د زده کړې مرکزونه وځلېدل چې په راتلونکو لوستونو کې به یې ولولو.

په منځنیو پېړیو کې په اروپا کې فیوډالي نظام واکمن و، هر فیوډال یعنې ارباب د ډېرو املاکو لرونکی و. چې ځینې وخت به یې یو لوی ولایت په واک کې و. په دې لویو املاکو کې به کرنیزې ځمکې، د ښکارځایونه، ځنګلونه، چینې، واړه سیندونه او کلي شامل وو. چې په دې توګه دخپلو اړتیا وو د پوره کولو لپاره په ځان بسیا وو. هغو خلکو به چې د فیوډال د سیمې په حدودو کې ژوند کاوه، رعیت به بلل کېدل. په همدې دلیل به فیوډالي نظام ته ارباب رعیتي نظام هم ویل کېده.

رعیت به په پوره ډول د ارباب تابع و او ارباب به د خپلې واکمنۍ اداري او قضایي چارې هم په غاړه لرلې. په منځنیو پېړیو کې د اروپایانو مهمه دنده کرنه ګڼل کېده ارباب به د حاصلاتو زیاته برخه ترلاسه کوله، او لږه برخه به یې رعیت ته ورکوله، او رعیت به اړ و چې د کال په اوږ دو کې په دې لږو حاصلاتو ګوزاره وکړي.

د منځنیو پېړیو اشراف یا فیوډالان په اصل کې د هغو جګړو ییزو ډلو مشران وو، چې له جګړو وروسته د اروپا په بېلابېلو سیمو کې به له مېشت کېدو سره د ځمکو خاوندان کېدل. خپل جګړه ماران او د هرې سیمې بومي اوسیدونکي یې د خپل رعیت په ډله کې راوستل. د فیوډالانو ترټولو مهمه دنده دا وه چې د خپلو شتمنیو نظم او امنیت ټینګ، او په جګړې کې برخه واخلي. د همدې موخې لپاره هر فیوډال ډېره لویه او کلکه کلا درلوده. چې د جګړې په وخت کې به یې د ځان او

(c) ketabton.com: The Digital Library

رعیت ساتنه پکې کوله. هر فیوډال به جګړه ماران هم لرل، چې د اړتیا په وخت کې به د دښمن سره پرې جنګېده. ارباب به له خپل رعیت څخه دفاع خپله دنده ګڼله، چې په بدل کې به رعیت هم له نوموړي څخه په پوره ډول متابعت کولو.

فیوډال یا ارباب چې په خپله سیمه کې به خپلواک و خو بیا هم د لوی فیوډال متابعت به یې کاوه او پاچا به د فیوډالانو له خوا ټاکل کېده. فیوډالانو به پاچا ته د وفاداریِ ښودلو لپاره لوړه کوله. څه وخت به چې له بهرنیو دښمنو سره جګړه ونښته، فیوډالان به له خپلو سر تېرو سره د پاچا مرستې ته ورتلل.

په منځنیو پېړیو کې د اروپا د فیوډالانو خپلمنځي جګړې له بهرنیانو سره د جګړو په پرتله زیاتې وې. له همدې کبله پاچاهان په زیاتره د زیات واک خاوندان نه وو. او یوازې د منځنیو پېړیو په وروستیو کې ورو ورو د پاچاهانو واک زیات شو او فیوډالان یې د ځان فرمان منونکي وګرځول.

د منځنیو پېړیو په پېر کې د ټولنې ترټولو مشهوره ډله شوالیان (سپاره نجیب زاده ګان) بلل کېدل چې په ټول ژوند کې به په جګړو، د جګړو د فنونو په زده کړو، د وسلې په کارولو، د ځوانمردیِ او وفاداریِ په رعایت بوخت وو اود زده کړې اوشتمنیِ سره یې مینه نه درلوده.

د شوالیانو تر لاس لاندې رعیت اوسېده. چې په کروندو کې به یې کار کاوه، او په غرونو کې به اوسېدل. او حاصل به یې چې لاسته راوړه، ده ته به هم برخه رسېده او د کروندې پرېښودلو حق یې نه درلود. دې ډلې ته به سرف یعنې په ځمکو پورې تړلې خلک ویل کېدل. همدغه شرایط به له پلار نه زوی ته په میراث پاتې کېدل. خو ځینې داسې بې مشره رعیت هم وو چې دکار د موندلو په موخه به له یو ځای نه بل ځای ته لېږدېدل او د کار په بدل کې به دوي ته دحاصلاتو یوه برخه ورکول کېده.



د فیوډالي ټولنې د مرتبو لړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

د منځنيو پېړيو په دوران کې هر څوک به چې د وړوکتوب له دورې را تېر شو نو که په اشرافو يا فيوډالانو پورې به يې تړاو درلود، نو جنګيالی به شو او که د رعيت په مشر پورې به تړلی و په کرونده کې به په کار بوختېده. ښوونځی او زده کړه موجوده وه. يوازې هغو کسانو به چې غوښتل کشيشان شي د ځوانۍ له پيل څخه به کليسا ته تلل، او په هغه ځای کې به يې دينې علوم لوستل.

کليسا

د کليسا د مرتبولړۍ

د فيوډالي واکمنۍ لاندې سيمو کې څو کليساوې موجودې وې. چې د کشيشانو په واسطې به اداره کېدلې. کشيشانو به د خپل ژوند يوه برخه له ټولنې څخه جلا په يوه ځای کې د درس په لوستلو تېروله،. چې دا ځای به يې (دېر) او نومورې کس به يې راهب باله. د دوی په درسونو کې به لاتيني ژبه، فلسفه، منطق، رياضيات او نجوم شامل وو خو ساينسي علومو ته يې پاملرنه نه کوله.

ډيرې کشيشان به د درسونو له ختمولو وروسته کليسا ته تلل او ځينې دندې به يې هلته ترسره کولې، لکه: د تعميد غسل (مسيحيانو به د مراسمو په وخت کې خپلو ماشومانو ته غسل ورکولو) د دعا او عادت مراسم، او د واده مراسم. کشيشانو به له لوړ پوړې کشيش چې اسقف به بلل کېده، اطاعت کاوه، اسقفانو به بيا تر ټولو لوړ پوړي اسقف چې سراسقف به بلل کېده، اطاعت کاوه. سراسقف به د ټول هېواد کليساګانې څارلې. سراسقف به د مسيحيانو د لوړپوړي مقام (پاپ) له خوا په دنده ګمارل کېده.

پاپ چې د ټولو مسيحيانو مخکښ و، د اروپا ټولې کلسياوې يې تر لاس لاندې وې نو په همدې دليل د دوی مقام له اروپايي پاچاهانو څخه لوړ وو. پاپ د روم په ښار يعنې د لرغوني روم د امپراتورۍ په پلازمېنه کې استوګنه درلوده د لوېديځ روم له منځه تلو څخه وروسته په اېټاليا کې حکومت نه و موجود. نوله همدې کبله د روم ښار او څنډې يې د پاپ تر ولکې لاندې سيمې ګڼل کېدې.

د منځنيو پېړيو په لومړۍ نيمايي کې د اروپا مهم سياسي حالات

د روم د امپراتورۍ د له منځه تلو څخه وروسته او د منځنيو پېړيو په پيل کې اروپا له ډېرو ستونزو سره لاس او ګرېوان وه، د اروپا په سويل ختيځ يعنې د بالکان په شبه جزيرې کې د ختيځ روم (بيزانس) خلکو پياوړي حکومت جوړ کړی و او د خپلې واکمنۍ د پراختيا او د لرغوني روم د بيا رامنځته

(c) ketabton.com: The Digital Library

کېدو په سوچ کې وو. خو د بیزانس جګړو له ساسانیانو او وروسته بیا له مسلمانانو سره د دوی واکمني کمزورې کړه.

د بیزانس په لاندې کولو برسېره د اروپا په پاتې خاورې هم د هغو یرغلګرو قومونو له خوا حملې کیدلې چې لرغوني روم یې له منځه وړی و دغو یرغلونو تر هغه وخته دوام درلوده چې ترڅو یې اوسېدونکي مسیحي شول. یو له هغو قومونو څخه چې مسیحي شوي وو. فرانک نومیده دوی د اروپا په لوېدیځ کې یې لویه واکمني رامنځته کړه چې د فرانک په پاچاهۍ مشهوره شوه. په نهمه زیږدیزې پېړۍ کې د شارلمان په نامه د فرانک یوه پاچا د یوې پیاوړې واکمنۍ بنسټ کېښود. نوموړی وتوانېده چې له پاپ سره یوځای په اروپا کې د مسحیت لمنه وغوړوي، او همدارنګه له هغو مسلمانانو سره یې هم جګړه وکړه چې د اسپانیې له لارې اروپا ته ننوتي وو. شارلمان یو پیاوړی پاچا و چې هم فرانسویانو او هم المانیانو نوموړی د خپل پاچا په توګه منلی و.

له شارلمان څخه وروسته د هغه د واکمنۍ سیمه تجزیه شوه. په پایله کې یو ځل بیا بېلابېلو قومونو د شمال او ختیځ له لورو په اروپا باندې یرغلونه پیل کړل. چې په یوې برخې کې اوسنی فرانسه او په بلې برخې کې د روم مقدسه امپراتوري رامنځ ته شوه چې ځان یې د لرغوني روم امپراتوري وارث ګانه.

د شارلماني له واکمنۍ څخه وروسته دولتونه کمزوري وو، چې په پایله کې یو ځل بیا د بېلا بېلو قومونو یرغل د شمال او ختیځ له لوري په اروپا پیل شول د اروپا په ختیځ کې روسان او مجاریان میشت شول، د انګل او ساکسون قومونو د انګلستان د حکومت او ملت بنسټ کېښود. په همدې توګه فینانو د فنلاند د خاورې او دانیانو د دنمارک هېواد رامنځه کړي دي دغو بدلونونو او پېښو څه د پاسه زر کاله وخت ونیوه . له دې وروسته د څو پیړیو په ترڅ کې د بدلونونو په پایله کې د اروپا اوسني هېوادونه رامنځ ته شول. په هغه وخت کې یرغلونه او د سیمو لاندې کول، او وروسته د فیوډالي حکومتونو او مسیحیت قبولول د دې ملتونو د رامنځ کیدو اصلي بنسټ ګڼل کیده.

وروسته له دې اداب او دودونه، ژبه او لیک او همدرانګه تاریخ هم پدې ور زیات شول. که چیرې په منځنیو پېړیو کې د ډېرو اروپایي هېوادونو د رامنځته کېدو تاریخي ریښې وڅېړو. د صلیب نښه چې د زیاتره اروپایي هېوادونو پر بیرغ لګول شوې، د هماغه وخت نښه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ټولګي کې فعالیت

زده‌کوونکي دې په ځلورو ډلو ووېشل شي او وروسته له مشورې دې، له هرې ډلې څخه یو غړی د مطلب لنډیز نوروته وړاندې کړي.

۱- فیوډالیزم یعنې څه؟

۲- د کلیسا د مراتبو لړۍ؟

۳- د فیوډالیزم د مراتبو لړۍ؟

٤- منځنۍ پېړۍ یعنې څه؟

پوښتنې

۱- په اروپا کې فیوډالانو کوم واکونه لرل؟ لنډیې تشریح کړئ.

۲- شوالیه او سرف یو تر بله څه توپیر لري؟ لنډیې تشریح کړئ.

۳- د اروپا پوهه او زده کړه له مسلمانې ټولنې سره په لنډه توګه پرتله کړئ.

له ټولګي څخه دباندې فعالیت

د هغو قومونو دمنشا په هکله یو لنډ مطلب ولیکئ چې په منځنیو پېړیو کې اروپا ته راغلل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

صلیبي جګړې

صلیب د مسحیت ترټولو لویه نښه ده. د مسیحیانو په اند دغه نښه د صلیب په واسطه د حضرت عیسی علیه السلام د شهادت یادونه ده. مسیحیان له صلیب څخه د بیرغونو او کلیساګانو د ښکلي کولو لپاره ګټه اخلي. د بېلګې په توګه د منځنیو پېړیو مسیحي لښکر چې د بیت المقدس لپاره یې له اروپا څخه په شام او فلسطین یرغل وکړ، په خپلو جاموپې د صلیب انځور ایستلي وو. په همدې دلیل دوی ته صلیبان ویل کیږي او د مسلمانانو او اروپایي مسیحیانو ترمنځ(۲۰۰) کلنې جګړو ته صلیبي جګړې وویل شوې. که څه هم د دې جګړو انګیزه مذهبي وه خو په هیڅ ډول د اروپا د سیاسي، اقتصادي او ټولنیزو شرایطو په شتون سترګې نه شو پټولی. صلیبي جګړې چې د منځنیو پېړیو په دویمه نیمایي(له ۱۰۹۹ نه تر ۱۲۹۱م) کې رامنځته شوې، ډیرې سترې تاریخي پېښې بلل کیږي چې په لنډه توګه به خبرې پرې وکړو.

د صلیبي جګړې یوه صحنه

د صلیبي جګړو پیل

له لومړۍ هجري پیړۍ څخه چې د اوومې میلادي پیړۍ سره سمون خوري، اسلامي نړۍ او مسحیت د یوه بل په وړاندې سنګر ونیوه. په لومړۍ هجری پیړۍ کې مسلمانانو له مسحیانو څخه د شام څنډې، فلسطین، د افریقا شمال او هسپانیه ونیولې، او وروسته هم د دوی او مسیحیانو ترمنځ د

(c) ketabton.com: The Digital Library

منځنۍ آسیا(ترکیې، مدیترانې ایټالیا او هسپانیې په سیندونو، او وچو کې جګړو دوام درلود. د منځنیو پېړیو په لومړیو کې د اسلامي نړۍ او مسیحیانو ترمنځ د شخړو او تاوتریخوالي نور لاملونه هم منځ ته راغلل چې لنډه یادونه ترې کوو.

۱. حضرت عیسی علیه السلام ته انتظار

: یوه ډله مسیحیان په دې باور وو چې وروسته له زر کلو نو به یو ځل بیا حضرت علیه السلام په بیت المقدس کې راښکاره کیږي له همدې امله، مسیحي زائران په ځانګړې توګه راهبان به هغه ښار ته راتلل، او ورځ په ورځ یې شمېر په بیت المقدس کې زیاتېده. البته، هغه څه پېښ نه شول چې مسیحیانو یې انتظارایست. خودې سفرونو یوه ښه پایله لرله چې اروپایان یې د مسلمانانو د ژوند له اقتصادي او ټولنیزو شرایطو څخه خبر کړل.

۲. د وګړو ګنوالی او په اروپا کې د ټولنیزو ستونزو را برسېره کیدل

په اروپا باندې د خوښېږو یرغلونو او د کډوالو قومونو ورتګ، د دې وچې اوسیدونکي ډېر ګڼ کړل. دې کډوالیو د کرنیزو ځمکو د کموالي ستونزه هم په ځنګ کې لرله.

د ځمکو کموالی د بیوزلۍ سبب ګرځیده او ورو ورو ځمکوال رعیتونه کم او بې ځمکې رعیتونه زیاتیدل. دغه ستونزه، یوازې په رعیت پورې اړه نه لرله، بلکې شوالیه هم ورځ په ورځ تر بلې زیاتېدل؛ ځکه د اروپا په فیوډالي نظام کې دود داسې و چې د فیوډال شتمني به مشر زوی ترلاسه کوله. له دې امله د فیوډال نور زامن اړ ووچې له شوالیه سره یو ځای شي. د شوالیه د شمېر زیاتوالي او د دوی شر غوښتنو په اروپا کې د نا امنیو لمنه پراخه کوله.

د همدې لاملونو له مخې فیوډالان او پاچاهان د نویو ځمکو په لټه کې وو. له دې امله چې د اروپا وچه نسبتاً کوچنۍ او له دریو خواوو بحرتري را تاو و، د هېوادونو د لاندې کولو امکان لږ و، نو ځکه یې د مدیترانې ختیځ لوري (شام او فلسطین) ته چې د مسلمانانو په ولکه کې وو پاملرنه وکړه.

۳. په اندلس (هسپانیه) کې د مسلمانانو پرمختک

د لومړۍ پېړۍ په وروستیو کې اندلس د مسلمانانو تر ولکې لاندې شو. دوی له پېړیو را پدې خوا د هغې سیمې له مسیحیانو سره په سوله کې ژوند کاوه. خو د فرانکانو په پیر کې اروپایي مسیحیانو د

(c) ketabton.com: The Digital Library

اندلس په بېرته نيولو ټينګار کاوه. اندلس سره له دې چې له پاتې اسلامي نړۍ سره يې لړۍ اړيکې لرلې خو بيا هم نه يوازې د دوی د فشار په وړاندې ودريدل، بلکې مسلمانانو يې يو روښانه تمدن هم رامنځته کړ. خو د خپلمنځيو جګړو له امله، مسلمانانو ته ډېر تاوانونه ورواوښتل او د هسپانيا شمالي څنډې يې له لاسه ووتې.

په همدې وخت کې سلجوقيانو په (۱۰۷۱م) کال کې پر شرقي روم(بيزانس) د بريښنا په څېر بريالیتوب تر لاسه کړ، او د بيزانس امپراتورۍ د کوچنۍ آسيا برخه له لاسه ورکړه. د مسلمانانو پر ضد يې له پاپ څخه د مرستې غوښتنه وکړه، او دا د پاپ لپاره غوره وخت و چې د بيزانس کليسا چې د روم له کليسا څخه په (۱۰۵۵م) کال کې جلا شوې وه، يو ځل بيا د خپل امرلاندې راولي. په پايله کې د بيزانس کليسا چې په ځان يې ارتودوکس نوم ايښی و او د روم کليسا کاتوليک نوميده. چې په دې توګه صليبي جګړې پيل شوې.

لومړنۍ صليبي جګړې څه ډول پيل شوې؟

پاپ دويم اوربان په (۱۰۹۶م) کال کې د بيت المقدس د نيولو لپاره د مسلمانانو په وړاندې د جګړې امر ورکړ. ګڼ شمېر خلک د اروپا له مرکزي او لويديځو سيمو څخه د بيزانس په لور وخوځېدل تر څو له هغې لارې ځانونه بيت المقدس ته ورسوي. دغه خلک چې زياتره شواليه او کليوالي خلک وو، د يوه بې نظمه او بې سره لښکر په توګه يې د لارې پر سر ډېرې سيمې چور کړې. څه وخت چې قسطنطنيې ته ورسيدل نو د بيزانس امپراتوري د دې سرکښه او وړې لښکر څخه وويريدل، او نوموړو ته يې د مسلمانانو د پولو په لور لارښوونه وکړه. که څه هم زياتره صليبيان يا په دښتوکې ورک، او يا له لوړې څخه مړه شول، خوپاتې بيا د مديترانې له ختيځو څنډو څخه ځانونه شام او فلسطين ته ورسول او په (۱۰۹۹م) کال کې د بيت المقدس په لاندې کولو وتوانيدل چې د صليبي جګړو په پيل کې اسلامي نړۍ په خپلمنځي جګړو کې ښکيل کړي. فلسطين د مصر د فاطميانو په لاس د کمزورۍ او د له منځه تلو په حالت کې، شام د عباسي خلافت د ملاتړو سلجوقيانو په لاس کې و. خو نه سلجوقيان سره متحد وو او نه عباسيانو خپلو پولوته پاملرنه کوله. له بله پلوه فاطميانو او عباسيان هم په خپلو منځو کې سره دښمن وو. له دې امله د شام، فلسطين او بيت المقدس زياتې برخې د صليبيانو لاسته ورغلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې توګه صلیبي لومړۍ جګړه د صلیبیانو په ګټه ختمه شوه. د دې پیښې خپریدل مسلمانانو ته سخت ټکان ورکړ. نو ځکه د زنګیانو په نامه چې د شام په پولو کې یې حکومت کاوه، د صلیبیانو په وړاندې جګړې ته راووتل او د مسلمانانو ځینې سیمې یې بېرته تر ې ونیولې. د صلیبیانو ماته د دې لامل وګرځیده. چې نور تازه دمه یا نوي اروپایان د بیت المقدس په لور وخوځیږي. خو په دې جګړه کې فیوډالان هم له شوالیه وو سره ملګري شوي وو. صلیبیانو ماتې وخوړه، ځکه چې مسلمانان چمتو شوي وو او له بله پلوه د لومړۍ صلیبي جګړې فاتحان د نویو کډوالو په راتګ خواشیني وو.

د صلیبیانو په دویمې جګړې کې پاپ ماته وخوړه او دې ته اړ شو چې اروپایي پاچاهان هم د مسلمانانو پروړاندې جګړې ته وهڅوي. په پایله کې د انګلستان، فرانسې او المان(د روم مقدسې امپراتورۍ) پاچاهان د فلسطین په لور وخوځېدل او دریمه صلیبي جګړه رامنځته شوه.

همدغه جګړه وه چې د صلاح الدین ایوبي په نامه یوه مسلمان مشر سخت مقاومت وکړ. صلاح الدین چې د زنګي او فاطمیانو د حکومت له نسکورېدو سره یې په مصر او شام کې د ایوبیانو په نامه حکومت را منځته کړ، وتوانېد چې بیت المقدس بېرته ونیسي، او د شام او فلسطین زیاتې برخې آزادې کړي. یوازې ساحلي سیمې د صلیبیانو په واک کې وې. د اروپا د مسیحي شاهانو لپاره د دې ماتو زغمل ډېر سخت وو، نو ځکه یې د نویو لښکرو تیاری ونیوه.

نورې صلیبي جګړې

څلورمې صلیبي جګړې کې د ډېرو سرتېرو او زیاتو تجهیزاتو ته په درلودو صلیبیانو په بیت المقدس کې بری او د ډېرو غنیمتونو تر لاسه کول حتمي ګڼل. خو کله چې د مسیحیت تر ټولو لوی ښار قسطنطنیې ته ورسېدل نو له مسلمانانو سره د جګړې او د بیت المقدس لاندې کولو په نسبت یې د نوموړي ښار تصرف ته ترجیح ورکړه.

له څلورمې او پنځمې جګړې وروسته، د صلیبي جګړو لاره بدله شوه. له یوې خوا د بیزانس امپراتورۍ صلیبي جګړه مارانو ته اجازه ور نه کړه چې د دوی د واکمنۍ له سیمو څخه تېر شي او د مسلمانانو پولو ته ورسېږي. په همدې توګه صلیبیان د ایټالیا له شمالي بندرونو څخه وخوځېدل، له مدیترانې څخه تېر شول او د صلیبانو ترواک لاندې د شام څنډو او بندرونو ته ورسیدل. له بله پلوه، پاپ د صلیبي لښکرو د برابرولو لپاره په اروپایي شاهانو ډډه ولګوله. نو ځکه له شپږمې څخه تر نهمې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټولې صلیبي جګړې پاچاهانو د فیوډالانو او شوالیه په ملاتړې رهبري کولې. دوی نه یوازې خپلو ګټو پسې لرې سیموته تلل، بلکې په دې فکر کې وو چې صلیبیان نه شي توانیدلی چې د مدیترانې ختیځې سیمې لاندې کړي. له دې امله سیاسي فعالیتونو ته یې تر جګړو ډیره پاملرنه وکړه.

د صلیبي جګړو په وروستیو کې چې کوم مهم بدلون رامنځته شو، د سوداګرۍ لپاره له مسلمانانو سره د مسیحیانو نژدې کیدل وو. چې د اېټالیا د شمالي بندرونو ګرځندویانو وکولای شول له دې سوداګرۍ څخه ډېره ګټه پورته کړي.

په داسې شرایطو کې چې سوداګري د صلیبیانو لپاره غوره انګیزه ګرځېدلې وه، نو له دې امله په دې سیمو کې د صلیبیانو په وړاندې د مسلمانانو قدرت زیات شو. د ایوبیانو پرځای ځواکمن حکومت رامنځته شو چې د صلیبیانو وروستۍ هڅې باندې د پرله پسې یرغلونو په پایله کې یې د شام ساحلي سیمې ونیولې. چې په دې ترتیب صلیبي جګړې وروسته له (۲۰۰) کلونو په (۱۲۹۱) کې د مسلمانانو په بریالیتوب پای ته ورسېدې.

د صلیبي جګړو پایلې

- صلیبي جګړې د اروپایانو په ماتې سره پای ته ورسیدې، خو نوموړي یې له اسلامي تمدن سره بلد کړل او له هغو څخه یې ګټه واخیسته.

- صلیبي جګړې د هغه وخت تر ټولو پرمختللي تمدن(اسلامي تمدن) سره د اروپایانو د نژدیوالي لامل وګرځېدې چې دا پخپله د اروپایانو د فکرونو د خلاصون د نړۍ د واقعیتونو په هکله د دوی د سترګو غړولو او خپل موقعیت ته د کتنې په برخه کې ډېر ګټور وو.

- صلیبي جګړې د نویو اقتصادي برخو د پراختیا سبب وګرځېدې. د مدیترانې د ختیځ او د افریقا د شمال له لارې اروپا له مسلمانانو سره سوداګري پیل کړه، او د بورې، کاغذ، قهوې، قطب نما، پنبه یې ټوټې، درمل او داسې نور محصولات او شیان د اروپایانو لاسته راغلل. دا ډول محصولات او شیان په اروپا کې نه پیدا کېدل. د دې شیانو لاسته راوړل او وروسته تولیدول د اروپا په وچه کې د ژوند د کچې، کار او فرهنګ د لوړیدو لامل وګرځېدل.

- سربېره په بیلا بیلو درملو چې اروپایان یې ډېرغوښتونکي وو، د طبابت اړوند کتابونه لکه کیمیا، درمل جوړونې، درمل پېژندنې، ژوند پیژندنې، میخانیک او د دې په څېر نور ډېر زیات کتابونه د اروپایانو

(c) ketabton.com: The Digital Library

لپاره ډېر ګټور وو. همدارنګه هغه علوم چې اروپا ورسره مینه وښودله هغه جغرافیه او نجوم وو. دغه دوو علومو د سیمو، لارو، بحري ګرځېدویۍ او سوداګرۍ په برخه کې ډېره مرسته کوله. عقلي علومو لکه فلسفې هم په اروپا کې ډېر مینه وال درلودل او د اسلامي نړۍ د لوبو فیلسوفانو ابن سینا او فارابي آثار په لاتین ژبه وژباړل شول. په دې وخت کې اندلس (هسپانیه)، تونس، د شام سواحل(سوریه) او د مصر اسکندریه له اسلامي نړۍ څخه اروپا ته د اقتصادي، فکري، علمي او فني لاسته راوړنو د لېږدونې ترټولو مهمې دروازې وې.

په ټولګي کې فعالیت

زده‌کوونکي دې په دوو ډلو وویشل شي او هره ډله دې یوه له لاندېنیو پوښتنو څخه، وروسته له مشورې د یوه غړي په واسطه نورو ته وړاندې کړي.

۱. ولې د بیزانس حکومت صلیبي جګړه مارانو ته اجازه ورنه کړه چې د دوی د واکمنۍ له سیمو څخه د مسلمانانو جګړو ته ور شي؟

۲. ولې د لومړۍ صلیبي جګړې فاتحان د نویو کډوالیو په راتګ خواشیني شول؟

پوښتنې

۱- د اروپا ټولنیزې وضعې څه ډول صلیبي جګړوته زمینه برابره کړه؟

۲- دریمه صلیبي جګړه څه ډول را منځته شوه او په څه پای ته ورسیده؟

۳- په څلورمې صلیبي جګړې کې د صلیبیانو کړنود د کوم واقعیت بیانوونکی دی؟

٤- په وروستیو صلیبي جګړو کې د اسلامي نړۍ په وړاندې د اروپایانو په فکر کې څه بدلون را منځته شو؟

له ټولګي څخه دباندې فعالیت

د صلیبي جګړو د پایلو په هکله یو مطلب چمتو کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په اروپا کې رنسانس

د ښاري ژوند پراختیا او د ښاریانو ځواکمنتیا

رنسانس یعنې څه؟ او څه ډول را منځته شو؟
د منځنیو پېړیو په وروستیو کې چې کوم فکري او فرهنګي تحولات او بدلونونه را منځته شول د رنسانس یعنې د نوې زیږیدنې په عصر شهرت لري. او د دې مفهوم د لرغوني روم او یونان د تمدن راژوندي کېدل دي چې د منځنیو پېړیو په پیل کې هېرشوي وو.
هغه څه چې د رنسانس په عصر کې رامنځته شول او په اروپا کې یې د منځنیو پېړیو څېړې ته بدلون ورکړ عبارت وو له:

۱- د ښاري ژوند پراختیا او د ښاریانو ځواکمنتیا.
۲- د پاچاهانو د ځواک زیاتیدل او د فیوډالانو کمزورول.
۳- (Humanizam) بشر دوستی او عقل پالنه (د عقل او استعدادونو ورده)
٤- د سوداګرۍ او مسلک پراختیا.
٥- جغرافیوي اکتشافات.

د دې له پاره چې رنسانس د منځنیو پېړیو په وروستیو کې رامنځته شوی دی، نو په دې ځای کې د اروپا تاریخ له ۱۳۰۰ کال څخه تر ۱٦۰۰ م. کال پورې ترکتنې لاندې نیسو.

د رنسانس په پیل کې د اروپا سیاسي وضع

صلیبي جګړو د اروپا د خلکو ستونزې حل نه کړې. په اروپا کې د ځمکو د کموالي په پایله کې یو زیات شمېر ځمکوال رعیت په بې ځمکو رعیت بدل شول. یو شمېر کروندګرو د فیوډالانو د ظلم له امله شورش وکړ، له کلو څخه تښتېدل او د پا چا له رعیت سره یو ځای کېدل. همدغه ډله په بېلابېلو کسبونو او راکړه ورکړه بوخت شول او په اروپا کې یې د نویو ښارونو بنسټ کېښود. له صلیبي جګړو وروسته چې د سوداګرۍ پراختیا را منځته شوه د ښاریانو د اقتصادي پراختیا په برخه کې یې مرسته وکړه. د ښار اوسېدونکو ته یې بورژوا ویل چې ښاري اوسېدونکي معنا ورکوي. ښار چې د پلورنې او پېرودنې مرکز دی، له پیسو څخه ګټه اخیستنه پکې زیاته شوه؛ ځکه د راکړې ورکړې لپاره اړین شی پیسې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په لومړیو کې د ښار پراختیا زیاتره په ساحلي څنډو کې وه. ځکه چې په هغو ځایونو کې فیوډالان لږ وو. په پایله کې په اروپا کې د ښارونو پراختیا او د فیودالیزم د سوداګرۍ غوړېدنه کمزورې شوه.
پاچاهانو له فیوډالانو څخه غوښتل چې مالیات ورکړي، او دغه مالیات هم باید د پیسو په بڼه تحویل شي؛ ځکه د پیسو د لاسته راوړلو لپاره د ښار بانکدارانو او سوداګرو ته ورتګ اړین و.
د دغه حالت په پای کې د ښاري ژوند اقتصاد په فیوډالي اقتصاد غوره والی تر لاسه کړ، او ښاري اشراف یې له ځانګړي مقام څخه برخمن کړل. په دې دوره کې فیوډالو اشرافو هڅه کوله چې خپل پخوانی ځای بیا تر لاسه کړي. دغه ټولنیز اخ وډب ډېر دوام وکړ او په پای کې د بورژوا په ګټه پای ته ورسیده. د اروپا ښارونه او اوسیدونکي زیات شول او لرغوني روم د ښاري ژوندون څخه په ګټې اخیستنې ښاري ژوندته قوانین او لارې غوره کړې چې د اروپایانو د نوي ژوند بنسټ یې کېښود.

د پاچاهانو ځواکمنېدل

هغه مالیات چې اروپایي پاچاهانو له فیوډالانو څخه اخیستل زیاتره یې د خپل حکومت د ځواکمنتیا په لاره کې لګول، پاچاهانو د ګڼ شمېر سرتېرو په ګمارلو سره، منظم او دایمي لښکر رامنځته کړ، او د وسلو په ځانګړې توګه د توپ په جوړولو یې پیل وکړ. په پایله کې پاچاهان د فیوډالانو د پوځي ځواک له مرستې څخه بې نیازه شول. په ځانګړې توګه چې د اړتیا په وخت کې به د توپ په واسطه د فیوډال کلاګانې هم رنګېدلې نو په دې ټوګه د فیوډالانو ځواک د پاچاهانو په ګټه لږه شوه. د دې لپاره چې پاچاهان په اصل کې له همدې پوړ څخه وو، له دې وروسته یې فیوډالو اشرافو ته د ځینو سیمو حکمراني او د حکومت مقامونه وسپارل. له دې امله ټول واک د پاچاهانو لاسته ورغلو. له دې وضعې څخه، سربېره په پاچاهانو، بورژوا طبقه هم خوشحاله وه، ځکه د مرکزي حکومت په جوړېدو سره اداري یووالی، د واحد نظم او امنیت ټینګښت او د یوه شان قوانین منځته راتلل. دغه کار د سوداګرۍ د پراختیا او آسانۍ په برخه کې مرسته کوله چې د بورژوا هیله هم همداوه.
د پاچاهانو ځواکمنېدل د دې لامل وګرځېدل چې د کلیسا په چاروکې هم لاسوهنه وکړي او وتوانیدل چې د پاپ د قدرت کړۍ کوچنۍ او خپل واک زیات کړي.

سیاسي بدلونونه او د مرکزي حکومتونو منځته راتلل

د رنسانس په پېر کې د مرکزي حکومتونو متحدو قلمرووونو او ملتونو رامنځته کېدل په آرامۍ سره تر سره کېدل. هیڅ یو اوسنی اروپایي هېواد، ننۍ وضعه نه لرله.
د انګلستان په پارلمان کې د فیوډالو اشرافو شتون، د دې هېواد د حکومت بڼه یې په مشروطه سلطنت بدله کړه. د اوسنۍ فرانسې زیاتې برخې د انګلستان د پاچاهانو په واک کې وې. خو د فرانسې پاچاهان چې د فیوډالانو په ټکولو کې ډېر ځواکمن شوي وو، د دې قلمرو د تر لاسه کولو لپاره ډګر ته راووتل. د جګړو پایلې ډېرې ورانې او ویجاړې وې، ځکه دغو جګړو سل کاله دوام وکړ. په پایله کې فرانسو یانو د ژاندارک(Jeandearc) په نامه د یوې جینۍ په پاڅون بریالیتوب تر لاسه کړ.
په هسپانیا کې د هسپانیا شمالي ایالاتونه چې د مسیحي پاچاهانو په لاس کې وو، د مسلمانانو په وړاندې یې په سویل کې نوي بریالیتوبونه وګټل او وتوانېدل چې د مسلمانانو وروستی مقاومت په ټپه ودروي.
د اروپا په مرکزي او ختیځو څنډو کې د یوه ځواکمن دولت د جوړېدو لپاره ، په ډېرورو حرکت سره د

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه له لويديځو څنډو يعنې انګلستان، فرانسې او هسپانيا څخه تيرېدل. ځکه د فيوډالانو اشرافيت په دوی کې تر اوسه ډېر ځواکمن و. په آلمان (د روم په مقدسه امپراتوری) کې همدغو اشرافو د امپراتور مقام په رسمي توګه مانه. په روسيه کې هم فيوډالان د ډېرواک لرونکي وو. تر هغه پورې چې په (١٥٨٤- ١٥٣٣م) کال کې څه وخت چې څلورم ايوان (Ivan IV) واکمنی ته ورسېد، اشراف فيوډالان وټکول شول. دوی که څه هم له منځه ونه ايستل شول خو په روسيه کې يو مرکزي ځواک رامنځته شو او د ارتودوکس مذهب پراختيا هم د روسانو د يووالي په ځواکمنتيا کې مرسته وکړه.

د اروپا د سويلي سيمو وضعې د نورو سيمو په وړاندې د مرکزي حکومت د رامنځته کېدو په لور ګامونه پورته کول. د بالکان په شبه جزيره کې د بيزانس حکومت وروسته د صليبيانو له ګوزارونو څخه ونه توانېده چې په پښو ودرېږي، او واک يې د تل لپاره له لاسه ورکړ. د عثماني ترکانو وړاندې تګ او د صرفانو او مجاريانو د خپلواکۍ غوښتنې روحيې د دوی زوال لاګړندی کړ. د ايټاليا په شبه جزيره کې، د دې سيمې شمالي ښارونه او بندرونه د سوداګرۍ او ښاري ژوند له لارې د ډېرو شتمنيو خاوندان شوي وو، خو دا سيمه د مرکزي حکومت له شتون څخه بې برخې وه.

په اروپا کې علمي او فرهنګي رنسانس

د رنسانس دوره په اروپا کې، له ټولنيزو ، سياسي او اقتصادي بدلونونو سره همغاړې او د فکر، هنر، علم او فن په برخه کې هم بدلونونه رامنځته شول.

د رنسانس يو له مهمو اړخونو څخه انسان پالنه يا انسان دوستي (هوما نيزم) او فرد پالنه ده. وروسته له صليبي جګړو څخه د اروپايانو بلدتيا له فلسفي آثارو سره په ځانګړې توګه د لرغوني يونان د دې لامل وګرځيده چې تر څو په انسان او د ده په عقل زيات باور وکړي.

د رنسانس د زمانې له فلسفي او اخلاقي آثارو څخه پرته چې د انسان پالنې تمايلات يې پکې منعکس کړي وو، د هنر په برخه کې هم دغه عقايد په ښه توګه ليدلای شو. د رنسانس دورې د زياتره انځورونو او مجسمو جوړولو موضوع انسان ده. په دې آثارو کې چې د لويو انځور ګرانو لکه داوينچي له خوا وېنځېدل د انسان احساس فکر، عملونو او طبيعت ته هم ډېره پاملرنه شوېده.

د رنسانس په دوره کې د ادبياتو په برخه کې هم بدلونونه رامنځته شوي دي. د څو پېړيو مخکې بر عکس ټول باسواده کليسايان نه وو. دوی هم د هنرمندانو په څېر انساني موضوعات په خپلو آثارو کې ځايول. دانته او پترارک د دې عصر له مشهورو ادیبانو څخه دي.

طبيعي (تجربي) علوم چې مخکې د پاملرنې وړنه وو، د رنسانس په پېر کې يې مينه وا ل پيدا کړل. په دې برخې کې اروپا ته د اسلامي علومو لېږدېدل ډېر اغېز من وو. په دې دورې کې د راجربېکن هاروي په نامه يوه عالم د وينې د دوران څرنګوالی کشف کړ.

همدارنګه په رياضياتو، نجوم او جغرافيه کې هم نوي فکرونه را منځته شول. کپرنېک د ځمکې کروي والی او وروسته له ده ګاليله د لمر په شاوخوا د ځمکې څرخېدل کشف کړل.

که څه هم د اختراعاتو په برخې کې دومره پرمختګ رامنځته نشو خو بيا هم د ګوتنبرګ په واسطه د چاپ دستګاه او د ګاليله په واسطه د تلسکوف آله اختراع شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د بشر په جغرافيوي پوهه کې بدلون

بشر د خپل څو زره کلن ژوند په ترڅ کې د ځمکې د کُرې له ځینو سیمو څخه معلومات نه درلودل. او د دوی جغرافیوي پوهه په آسیا، اروپا او افریقا پورې محدوده وه. د همدې سیمو په هکله یې هم بشپړ معلومات په لاس کې نه درلودل. د بېلګې په توګه سویلي نیمه کره کابو ناپېژندل شوې پاتې وه. اوله لویدیځې نیمې کرې څخه هم معلومات نه وو. په داسې حا ل کې چې دا سیمې له اوسېدونکو تشې نه وې او تمدنونه یې درلودل. خو دغو تمدنونو په آسیا، اروپا او افریقا کې له نورو تمدنونو سره اړیکې نه لرلې.

د صلیبي جګړو په ترڅ کې خبرتیاوې د مسلمانانو او نورو ختیځو سیمو د تمدنونو فنون او جغرافیوي خبرتیاوې اروپا ته ورسېدلې. چین ته د مارکوپولو سفر د اروپایانو د جغرافیوي پوهې په برخه کې ډېره مرسته وکړه. نومورې د ایټالیا د وینز له ښاره د آسیا لویدیځ ته راغلو او له ایران او افغانستان څخه په تېریدو چین ته لاړ. او وروسته له شلو کلونو څخه د هند اقیانوس له لارې وینز ته بېرته وګرځېد. نومورې لومړنی سړی و چې اروپایان یې له جاپان او آرام اقیانوس څخه خبرکړل.

د سمندري ګرځندویې پراختیا او د اکتشافاتو پیل

له صلیبي جګړو مخکې، د اروپایانو سمندري ګرځندویې د اروپا په شمالي سمندرونو کې تر سره کېده، خو وروسته له صلیبي جګړو څخه لږ لږ اروپایانو په مدیترانه کې هم سوداګري پیل کړه. نوموړو په اروپا او اسلامي سیمو کې د کښتیو جوړولو فن څخه په ګټې اخیستنې سره، نوې ډېرې جوړې کړې چې له پخوانیو کښتیو څخه هم کلکې او هم لوې وې او د ګرځندیتوب او لاړښوونې اخیستنې په برخه کې هم له پخوانیو څخه پرمختللې وې، قطب نما چې مسلمانان د چینایانو له خوا ورسره آشنا شوي وو، د اروپا یانو لاسته ورغله او په دې توګه د بحري سوداګرۍ په پراختیا یې اغېزه وکړه.

د منځنیو پېړیو په وروستیو کې د مدیترانې په سمندرګی کې د سمندري سوداګرۍ له لارې د شتمنیو ګټلو او واک پر سر سیالیو زور ونیوه او له بلې خوا سیاسي او مذهبي اختلافاتو هم دې سیالیوته لمنه وهله. په (۱۴۵۳ ز) کال کې عثماني ترکانو چې د مدیترانې د شمال ختیځو سواحلو زیاتره سیمې یې لاندې کړې وې، د قسطنطنیې په نیولو وتوانېدل چې د بیزانس امپراتوري رنګه کړي او د مدیترانې شمال ختیځې برخې له دې



د جغرافیایي اکتشافاتو مسیر

(c) ketabton.com: The Digital Library

وروسته اروپایانو د بیزانس په ځای له عثمانیانو سره راکړه ورکړه پیل کړه.
خو د پرتګال او هسپانیا حکومتونو له دې سوداګرۍ څخه ځکه ګټه نشوای اخیستی چې له عثمانیانو سره په جګړه بوخت وو. نو په دې توګه دوی غوښتل چې د مدیترانې په ځای د اطلس له سمندر څخه ګټه واخلي.

پرتګالیانو د ختیځو سیمو په لور سمندري لارې کشف کړې

د پنځلسمې زیږدیزې پیړۍ له نیمایي وروسته پرتګالیانو د افریقا د لویدیځو سواحلو له لارې د سویل په لور په سمندر کې په سفر پیل وکړ. په هماغه حا ل کې یې د عاج او غلامانو په سوداګرۍ هم پیل وکړ. د دوی د تصور خلاف د افریقا جنوبي نقطه ډېره لرې واقع وه. په پای کې په (۱۴۸۷م) کال کې بارتولو مودیاز وتوانیده چې د افریقا د وچې له جنوبي وروستۍ څنډې څخه تېر شي. چې دا څنډه (دماغه امید نېک) په نامه یادېده او په ختیځو سیمو کې د هند له اقیانوس څخه تېرشو. دغه کشف ډېر مهم و. وروسته له هغو پرتګالي ګرځندوی واسکودوګاما وتوانېده چې د هند ټول اقیانوس پلی کړي او د هند، اندونیزیا او د فارس خلیج لارې یې وموندې.
له اطلس سمندر څخه د هند سمندر په لور د سمندري لارومیندلو وروسته پرتګالیانو د آسیا نورو سویلي او ختیځو سواحلوته ځانونه ورسول.

د امریکې وچه څنګه کشف شوه؟

هغه وخت چې پرتګالیان له افریقا څخه د تاویدلو په نیت د ختیځ په لور وخوځېدل. هسپانوي ګرځندویانو د کریستف کولمب په مشرۍ له څو بېړیو سره هند ته د رسېدو په نیت د اطلس سمندر لویدیځ لورته سمندري سفر پیل کړ. دوی ته لاره نه وه معلومه او د لرې سیمو له اوبو او هوا څخه نه وو خبر. په پایله کې ځینې بېړۍ ډوبې شوې. د خوراکي موادو کمووالي هم دوی له ناروغیو سره مخامخ کړي وو او ځینې یې له منځه وړي وو.
په پای کې کرستیف کولمب او ملګري یې د څو میاشتو ستونزو له زغملو وروسته په (۱۴۹۲م) کال کې جزیرې ته ورسېدل. کرستف کولمب په دې خیال کې و چې د هندوستان یوې جزیرې ته رسیدلي، د هغه ځای سور پوستي بومیان یې هندیان ونومول. نوموړی هسپانیا ته بېرته راوګرځېد او یو ځل د تېرو تجربو په درلودلو سره، نوموړي په آسانۍ سره وکولای شول چې نویو سیمو ته ورسېږي. او بیایې هم فکر کاوه چې هندوستان ته رسیدلی دی. نوموړی د ژوند تر پای پورې په خپله تېروتنه کې پاتې شو.
له کرستف کولمب وروسته هم چې کومو ګرځندویانو د سمندري اکتشافاتو او ګرځندویې په لاره کې ګامونه اوچت کړي وو. په دې نه پوهېدل چې نوې وچه یې کشف کړېده. تر هغه پورې چې د امریکوو سپوچي په نامه یو ګرځندوی و پوهېده چې هغې سیمې ته چې دی رسېدلی دی هغه هندنه، بلکې نوې وچه ده. دغه وچه یې د ده په نامه امریکا ونومله.
انګلیسي او فرانسوي ګرځندویانو، د امریکا د وچې شمالي سواحل کشف کړل چې اوسنۍ کانادا او د امریکې ایالتونه رانغاړي. یوه انګلیسي ګرځندوی استرالیا کشف کړله. زیاتره جزیرې او سواحل هم په تدریج سره کشف شول او ورو ورو د ځمکې دکرې نقشه مشخصه شوه. وچه، سمندرونه او د هغو حدود او پولې د بشر لپاره معلوم او د نړۍ نقشه لږ تر لږه په اوسني شکل وپېژندل شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پرتګاليانو او هسپانويانو استعمارګري

هغه سيموته چې پرتګاليان، هسپانويان او نور ورسېدل، له اوسېدونکو تش نه وو. خو د دې لپاره چې د اروپايانو لپاره نوي وو نو کشف به يې بلل. د بېلګې په توګه د امريکا په وچه کې د سورپوستکو تمدن موجود و. په هر حال اروپايانو له جنګي بېړيو او توپونو څخه په ګټې اخيستنې سره ګڼ شمېر بوميان چور او ووژل.

د البورکرک په نامه يوه پرتګالي ګرځندوی په هند کې د ((ګوا)) جزيره کشف کړه، او هغه ځای يې په خپل سيمو کې د پرتګالي استعمار مرکز وټاکه. پرتګاليانو په زور سره د افريقا په خپل سواحلو او بنارونو کې خپل واک ټينګ کړ. د هرمز او عدن بندرونه د دوی په واسطه اشغال، او په چين کې يې د هنګ کنګ بندر ونيوه او په دې توګه يې د لويديځو سيمو سوداګري خپله کړه.

څرنګه چې په لويديځو سيمو کې د پرتګاليانو سوداګري د هسپانويانو له خوا تهديدېده نو پرتګال او هسپانيا ترون ليک ته ورسېدل، چې خپل خپل په پرتګال او لويديځ په هسپانيا پورې وترل شو. په دې توګه د وی ځانونه د ټولې نړۍ واکمنان ګڼل.

هسپانويانو د امريکا د شتمنيو لاسته راوړلو له پاره د پوځي لښکرو په واسطه د سور پوستو په وژنه لاس پورې کړ، او د ازتک او اينکا تمدنونه يې له منځه يوړل. استعمار به چې هر ځای ته لاره پيدا کوله، د هغه ځای وګړو ته به يې ډېر زيانونه به وراړول.

په ټولګي کې فعاليت

زده‌کوونکي دې په دريو ډلو ووېشل شي.

لومړۍ ډله دې د لرغوني يونان د فلسفي آثارو په هکله؛

دويمه ډله دې د جغرافيوي اکتشافاتو په برخه کې د مسلمانانو د ونډې په هکله؛

دريمه ډله دې د خپلو سيمو اوسېدونکو د کمزوره کېدو د لاملونو او په نوي پيړۍ کې د اروپايانو د برلاسيو په لاملونو خبرې وکړي، او پايله دې د ډلې د يوه استازي له خوا نورو ته وړاندې شي او ښوونکی دې پوره پاملرنه وکړي.

پوښتنې

۱- په اروپا کې د رنسانس په پيړ د ښاري ژوند د پراختيا لاملونه څه وو؟

۲- د کومو لاملونو له مخې د رنسانس په پيړ کې د اروپايي پاچاهانو واکمنی زياته شوه؟

۳- د رنسانس په پيړ د هنر په بر خه کې کوم بدلونونه رامنځته شول؟

٤- د رنسانس په پيړ د طبيعي علومو په برخه کې څه بدلونونه رامنځته شول؟

٥- د اروپايانو لپاره د جغرافيوي اکتشافاتو په برخه کې څه ډول زمينه برابره شوه؟

٦- د امريکا وچې د کشف ببلابېل پړاوونه په لنډه توګه روښانه کړئ.

۷- جغرافيوي انکشافاتو د اروپايانو لپاره څه پايلې درلودې؟

له ټولګي څخه دباندې فعاليت

زده‌کوونکي دې د رنسانس پيړ د يوه عالم، ادیب يا هنرمند د خدمتونو په هکله يو مطلب چمتو کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په نویو پېړیو کې د اروپا علمي او فکري بدلونونه

پدې لوست کې به په معاصرو پېړیو کې د اروپا د علمي او فکري بدلونونو په څرنګوالي او همدارنګه د دغې لوپې وچې د هغه مهال له پوهانو سره اشنا شئ او د هغه په توپیر به د اروپا د منځنۍ پېړیو د علمي او فکري بدلونونو سره پوه شئ.

په نویو پېړیو کې د اروپا ټولنیز او مذهبي بدلونونو د اروپایانو په علمي او پوهنیز تمایل کې بدلون راووست. لکه څنګه چې فرانسیس بیکن یوله پخوانیو پوهانو څخه داسې ویلي چې: ((د پوهې موخه د انسان د ځواک ډیروالی دی)) د دغسې تفکر په پایله کې، له هغه وروسته یواځې هغو زده کړو ته پاملرنه وشوه چې د انسان لپاره یې مالي ګټه په څنګ کې لرله، نو له همدې امله و چې تر ټولو د مخه طبیعی علومو(تجربي) ته پام واړول شو. له هغه ځایه چې پاچاهانو د خپلو ځواک د ډیروالي مینه وال وو او ښار میشته سوداګر(بورژوا) هم د خپلو شتمنیو د ډیروالي غوښتونکي وو، دې ډول زده کړو ته چې په حقیقت کې د ځواک او شتمنیو راوړونکي او تولیدونکي وو ځانګړې پاملرنه در لوده، او ځانونه یې د زده کړې(پوهې) مینه وا ل او د پوهانو ملاتړي ښودل.

هغوی د پوهانو د څېړنو، کشفیاتو او نوښتونو د زیار پایلې په ډیر کم ارزښت سره تر لاسه کولې. د بېلګې په توګه که چیرې کیمیا پوهانو کولای شوای چې ښه باروت تیارکړي، پاچاهانو به په بهتره اورلږونکو وسلو د خپلو توپخونو د سمبالولو لپاره تر ټ ګټه اخیستله. او کله چې د بخار ماشین کشف شو، پانګه لرونکو له هغه څخه د خپل تولید د ډیرولو لپاره ګټه واخیسته. په ټولیز ډول د دغه مها ل د نویو علومو مهمو ځانګړتیاوو له ډلې څخه یو هم، په صنعت او تکنالوژۍ او د تولید لوړوالی د هغو د بدلون وړتیا کې وه.

متفکران او پوهان

په نویو پېړیو کې څلور پوهان د نویو علومو مخکښان شول، کوپرنیک، کپلر، ګالیله او نیوتن. دغو پوهانو دوه مهمې ځانګړنې در لودې چې یو یې صبر او ډیره حوصله د طبیعي پېښو په پلټنه، لیدکاته او بررسۍ کې او بل یې ډیره زیرکتیا او هوښیارتیا د علمی فرضیو په رامنځته کولو کې درلوده، چې له همدې امله د مخالفینو او د پخوانیو(زړو) علومو د ملاتړ کوونکو له ډېرو سختو بریدونو او نیوکو لاندې راغلل.

په نویو پېړیو کې لا تر اوسه علوم د نن ورځې د علومو په شان تخصصی(ځانګړي) شوي نه وو.

له همدې امله و چې هر پوه په څو علمي برخو کې کار کاوه. د بېلګې په ډول ګالیله د ستورو په پیژندلو کې او پاسکال ریاضی پوه د فزیک په علم کې هم کار کاوه. نیوټن انګلیسی پوه هم ریاضي پوه او هم فزیک پوه و او وېې کولای شول چې د جاذبې قانون کشف کړي.

په نویو پېړیو کې د کیمیا علم هم نویو لاسته راوړنو او نوښتونوته ورسید، د بېلګې په توګه فرانسوي لاوازیه وکولای شول چې د اوبو تجزیه (لړې والی) او یو ځای والی(ترکیب) او همدارنګه د اکسیجن په وسیله د نورو موادو یوځای والی وښیي. همدارنګه د موادو د خواصو او ځانګړتیاوو او دعناصرو د طبقه بندۍ په اړه هر اړخیزې هڅې وشوې.

په نویو پېړیو کې د اروپا فیلسوفان، توماس هابز(انګلیسی)، دیکارت(فرانسوي)، اسپینوز(هالندي) او

(c) ketabton.com: The Digital Library

لايب نيتس(آلماني) ول چې خپل فلسفي افکارې بشري عقل او فکر ته د اعتبار ورکولو پر بنسټ ټينګ کړل. پخوانيو عقيدو او کرنو، د کليسايي احکامو او د دولتونو د امر او نهی له بند څخه و هغوی د انسان د فکر او عقل د خپلواکۍ غوښتونکي.

په دې پيرکې د مورخينو په عقايد و او فکرونو کې هم يو لړ بنسټيز بدلونونه رامنځته شول. چې د تاريخي مطالعاتو په بهير کې د مهمو بدلونونو لامل شول.

لومړی: د اروپا د تېرو پېرو فرهنګي او مدني آثارو لکه د يونان اولرغوني روم آثارو ته پام واړول شو، په داسې حال کې چې په منځنيو پېړيو کې هغه دوران ته د شرک او بت پرستۍ د آثارو په توګه کتل کېدل، او له همدې امله کومه ځانګړې پاملرنه يې ورته نه درلوده.

دويم: مورخينو د پاچاهانو او حکمروايانو د ژوند د پېښو د خرګندولو پر ځای، د عامو وګړو د ژوند ټولنيز او اقتصادي حالاتو او اړخونو ته ډير پام واړاوه.

دريم: د سياسي او نظامي پېښو د بيانولو پر ځای هڅه وشوه، چې د هغو پېښو لاملونه او پايلې وڅېړل شي، او د بشري ټولنو د بدلونونو د بهير ټول حاکم قواعد او قوانين وموندل شي.

څلورم: د نويو پوهو د نوښتونو په کارولو سره، په ځانګړې توګه لرغون پېژندنې او سکه پېژندنې مورخينو سره يې مرسته وکړه، تر څو د ملتونو د تېر تاريخي بهير څخه يوه واقعي طرحه او تصوير په ګوته کړي.

د روم امپراتورۍ سقوط او زوال کتاب چې د ګيبون اثر دی ، د تاريخ ليکنې د يوې نوې تګلارې يو بېه مثال دی.

په ټولګي کې فعاليت

زده‌کوونکي دې په څو ډلو وويشل شي او هره ډله دې په لاندې موضوع ګانو خبرې وکړئ:

۱- د منځنيو پېړيو او نويو پېړيو ځانګړتياوې په يو جدول کې انځور او يوله بل سره دې پرتله کړي.

۲- په نويو پېړيو کې د تاريخ پوهانو په تفکر او ليد کې څه بدلون را منځته شو؟

۳- په نويو پېړيو کې ولې پوهانو طبيعي علومو ته ډيره پاملرنه وکړه؟

پوښتنې

۱- د نويو پېړيو د پيژندل شويو او نامتو پوهانو نومونه ووياست؟

۲- د نويو پېړيو عمده ځانګړتياوې او خصوصيات په لنډه توګه بيان کړئ؟

۳- پوهه د يوې ټولنې په پرمختګ کې څه رول لري؟

له ټولګي څخه دباندې فعاليت

د اروپايي هېوادونو نومونه په يوه جدول کې ترتيب کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په نويو پيړيو کې د اروپا سياسي بدلونونه

د اروپا نقشې ته وګورئ. په شپاړسمه زيږديزه پيړۍ کې انګلستان او فرانسه څه ناڅه په اوسني شکل و، او د روم مقدسه امپراتوري د اروپا په مرکز کې پرته وه.
په سويلي برخه کې يې سويس پروت و، چې عملاً خپلواک و، خو خپلواکي يې په رسميت نه وه پېژندل شوې. د ايټاليا شمالي ښارونه هم د هغه په شاو خواکې پراته وو. د روم په شاوخواکې د پاپ دولت و چې د څو ايالتونو يوه ټولګه وه او پاپ پر هغوی رياست کاوه. د اروپا په ختيځ کې لهستان د مقدسې امپراتورۍ او روسيې تر منځ پروت و، او مجارستان د عثماني امپراتورۍ په ګاونډيتوب کې په سختۍ سره ساکښله.
په شپاړسمه پيړۍ کې هسپانيا د لوی ځواک لرونکي اروپايي دولت په توګه شمېرل کيده.
په دې لوست کې به په نويو پيړيو کې د اروپا مهمو سياسي بدلونونو سره بلدتيا پيدا کړئ.

په شپاړسمه پيړۍ کې د هسپانيا برلاسي

د اندلس د مسلمانانو له ماتې وروسته په (۱۴۹۲ م)کال ل کې هسپانيا يو ځل بيا د مسيحيانو لاسته ورغله. په هماغه کال کې امريکا هم کشف شوه.



اروپا د ۱۸م پيړۍ په پيل کې

پردې مهال شارلکن و(۱۵۱۹ کال څخه تر ۱۵۵۶م) د هسپانيې پاچا چې د هسپانيې له پاچاهۍ سربېره د روم امپراتوري هم له همدې امله د هالنډ، بلجيم، اتريش او آلمان هېوادونه د هغه د قلمرو برخه و. د امريکا د لوېې و چې په کشف سره په سويلي او مرکزي امريکا کې لوېې مستعمرې هم د هسپانيا په لاس ورغلې. په دې ترتيب سره هسپانيا د نويو پيړيو په پيل کې يو ځواکمن او زبر ځواک اروپايي هېواد و. له دې وروسته هسپانيا د پرتګال په نوم يو کوچنۍ هېواد اشغال کړ چې د هغه د مستعمراتو په پراخيدو هم هڅې وشوې. د هسپانيې پاچاهانو عموماً هغه متعصب کاتوليکان وو چې د پاپ د مخالفو(پروتستان، يهوديان او مسلمانانو) سره يې ناوړه چلند او معامله کوله. د پاپ سره يې هم په پراخه پيمانه ملاتړ وکړ. خو د هسپانيې ځواک او قدرت تر ډېره وخته دوام ونه کړ او ورو، ورو هسپانيه د انحطاط او زوال خواته ولاړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه لاملونه چې دې زوال ته يې لاره چمتو کړه، په اروپا کې د څو مهمو پېښو د رامنځته کيدلو لکه په مرکزي اروپا کې د پروتستان د نهضت بريالیتوب، له هسپانيا څخه د مسلمانانو ايستل، د هالند د وګړو پاڅون او د انګلستان له خوا د هسپانيا د سمندري پوځونو ماته وه.

د مسلمانانو په وړاندې، د هسپانيا د مسيحيانو مذهبي تاوتريخوالی او د عقايدو د تفتيش او پلټنې د محاکمو رامنځته کول په دې هېواد کې د څه کم يو ميليونو ميشتو مسلمانانو د جبري مهاجرت او وتلو لامل شو. چې دا مسلمانان د هغه هېواد له وړ او کار پوهو صنعتګرو، هنرمندانو او بزګرانو له ډلې څخه وو، د هغوی په جبري توګه کډه کول له هسپانيا څخه دغه هېواد د دغه کارګرې طبقې له تجربو او وړتياوو څخه بې برخې کړ.

په (١٥٦٦م) کال کې د هالند هېواد وګړي د هسپانيه د نفوذ پر وړاندې را پاڅېدل، او ويې کولای شو چې پر هغوی بريالي شي او دخپل هېواد خپلواکي تر لاسه کړي.

د هسپانيا پروړاندې د هالند د وګړو بريا، د دغه هېواد حيثيت او ځواک ته يوه لويه ضربه وه.

بل مهم لامل چې د هسپانيې پرمختګ ته يې د پای ټکی کېښود، د انګليستان پر وړاندې په (١٥٨٨م) کال کې د دغه هېواد سمندري ځواکونو ماته وه.

فرانسه د څوارلسم لويی دواکمنۍ پر مهال

په تدريج سره چې هسپانيا خپل ځواک له لاسه ورکاوه، او کمزورې کيده، نورو اروپايي هېوادونو لکه هالند، فرانسه او انګلستان خپل ځواک لا پياوړی کاوه. د اولسمې پيړۍ په پيل کې فرانسه د اروپا د پياوړيو ځواکونو له ډلې څخه وه. دغه ځواک د لاندې لاملونو په پايله کې تر لاسه شوی و:

١- د فرانسې ځواک او شتمنی، د هسپانيې د ځواک او شتمنيو بر عکس چې د امريکا د لويې وچې د باد راوړو سرو زرو او شتمنيو څخه رامنځته شوی وه، د توليد او سوداګريزو چارو پربنسټ ولاړه وه.

٢- پادشاهانو د پوهو سلاکارانو او کار پوه ټولواکانو لکه ريشليو، مازارين او کلبر د رايې او وړانديزونو څخه ګټه اخيستله.

٣- د مذهبي خپلواکۍ سياست په فرانسه کې، د کاتوليکانو او پروتستانانو ترمنځ مذهبي توپيرونه او کړکيچونه کم کړل.

٤- د فرانسې پاچا ادعا درلوده چې د هغه د پاچاهۍ سرچينه الهی ورکړه ده، نو له همدې امله يې ځان د اشرافو له ملاتړ او يا د پاپ له هوکړې څخه بې نيازه ګاڼه او د هغوی د غوښتنو په وړاندې يې د خپلې رايې په خپلواکۍ ټينګار کاوه.

د فرانسې ځواک په اووه لسمه پيړۍ کې د څوارلسم لويې د پاچاهۍ پر مها ل چې اوياکلونو په شاوخوا کې يې حکومت وکړ، خپلو لوړو پوړيو ته ورسېد. که څه هم چې د هغه د حکومت په وروستيو کلونو کې د فرانسې قدرت يو څه کمزوری شو. له دې امله چې د هېواد شتمني يې يوازې د درباري تجملاتو او ښکلو ودانيو په جوړولو لګولې.

سربېره پردې فرانسويانو د خپلو ګاونډيو هېوادونو سره په اروپا کې ښې اړيکې نه درلودې او د هغوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

په کورنیو چارو کې یې لاس وهنې کولې. پداسې حال کې چې د انګلستان سره جګړو د فرانسې وګړي په دې زمانې کې ډیر په تنګ کړي وو، یا له بلې خوا د نانت د حکم لغو کیدل چې د هغه پر بنسټ پروتستان د مذهبي خپلواکۍ څخه برخمن وو، هم د فرانسې د پروتستات چې ډیرې یې صنعتګر او سوداګر وو د هغوی د مهاجرت او کډه کیدو لامل شو. د غې مسئلې د فرانسې اقتصاد کمزورى کړ، پداسې حال کې چې د دغه هېواد اصلي سیال یعنې انګلستان خپل سمندري ځواکونه پیاوړي کول، او خپلو مستعمراتو ته یې ورځ په ورځ پراخوالی ورکاوه.

ډیر پوه شئ
مرکانتلیسم(سوداګرۍ بنوونځی)

په ۱۶ او ۱۷ م، پېړیو کې چې ۱۰ او ۱۱ سپوږمیزو پېړیو سره سمون خوري، اروپایې دولتونو د خپلو شتمنیو او ځواک د ټینګولو لپاره یو ځانګړی پروګرام پلی کاوه، چې د سوداګرۍ یامرکانتلسیم لاس لرلو په بنسټ ولاړ و. مرکانتلیستان په دې عقیده و چې د یوه هېواد رښتینې شتمني د هغه د پیسو او قیمتي فلزاتو د زیرمه کولو څخه عبارت دي چې د حکومت او یا وګړو سره اړین دي. په بل عبارت هر هېواد به چې ډیر سره او سپین زر درلوده، تر ټولو ځواکمن ګڼل کیده. له دې امله دولتونو هڅه کوله چې نه یوازې د خپل قلمرو څخه د سرو او سپین زرو د ایستولو مخه ونیسي بلکې له بهر څخه به یې خپل هېواد ته سره او سپین زره واردول. د دغه چارو د تر سره کولو لپاره اړینه وه، چې اقتصادي پولې او ګمرکي بناوې رامنځته ته کړي. دولتونو هڅه کوله چې د یو توکي د صادرولو په بدل کې بل ارزښتناکه او قیمتي توکي وارد کړي او یا د خپلو توکو دلیږدولو په بدل کې پیسې ترلاسه کړي، او یا پخپل ځان د بسیا کیدو د سیاسیت په وړاندې بیولو سره خپل هېواد د بهرنۍ تړاو او اړتیا څخه خلاص کړي.

له هغه ځایه چې په اروپا کې د مرکانتلیستی سیاست وړاندې بیول، د دې لپاره چې ټول هېوادونه د دغه سیاست سخت غوښتونکي و، د اروپایانو مستعمراتو ته پام شو او هغه لورته یې مخه کړه.

انګلستان خپل پاچا ګیوتین ته سپاري

د نویو پېړیو په پیل کې انګلینډ چې له یوې خوا، د کاتولیکانو او پروتستانتانو د اخ و ډوب ډګر و، او له بلې خوا د پاچا او پارلمان د جګړو ډګر شو. په دغه اخ و ډب کې د پروتستانتانو یوه ډله په انګلینډ کې بریالیتوب ته ورسیده. خو د پاچا او پارلمان تر منځ اخ وډب ضروري و چې په دې پېړیو کې د انګلستان د سیاسي نظام بدلونونه له بنسټیزو لاملونو څخه شمیرل کیږي. په (۱۶۲۸م) کال کې د انګلینډ پارلمان یوه لایحه (دعدالت غوښتنې حقوق) تصویب کړه چې د هغې په سبب لومړي چارلزته ویل کیده چې هغه د مطلق واک خاوند ندی او دا واک نه لري چې د قانون څخه پرته له چا څخه مالیات واخلي او یا څوک زندان ته ولېږ دوي.

دغه مسئله په انګلستان کې د کورنیو جګړو او اختلافاتو لامل شوه چې په پای کې د پارلمان په بریالیتوب پای ته ورسیده. د دغه حرکت مشري د کرامول په نوم د یو با اراده او هوډمن نظامي قوماندان او ځیرک سیاستوال په لاس کې وه چې هغه د (رویین تنان) په نامه یو نوی پوځ رامنځته کړ او ویې کولای شو چې سلطنتي ساتونکو(ګارډ) ته ماتې ورکړي. په پایله کې لومړی چارلیز ونیول شو، لومړی زنداني او بیا په دار وځړول شو. وروسته بیا کرامول په هېواد کې جمهوري نظام ټینګ کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کرامول غوښتل چې د انګلينډ د مستعمراتو سوداګرۍ ته لا زياته وده ورکړي، ايرلنديې اشغال کړ، هالنديانو سره يې جګړه وکړه، هغوی ته يې ماتې ورکړه او نوي سوداګريز قوانين يې را منځته کړل. د کرامول په کړنو د انګلستان سمندري ځواکونه پياوړي شول، په انګلستان کې لومړنی او وروستنی جمهوري نظام پای ته ورسيده او بيا سلطنتي نظام رامنځته شو.

روسيه: لوی پتر په روسيه کې خپل خيالونه په واقعيت بدلوي

د(۱۸ ز) پيړۍ په پيل کې د روسيې له امپراتورانو څخه د لوی پتر په نامه يوه امپراتور تصميم ونيوه چې روسيه پر يوه پياوړي دولت باندې بدله کړي. د روسيې د پياوړي کېدلو لپاره د هغه برنامې عبارت وي، له:

۱- په نويو وسلو باندې د وسلوالو ځواکونو سمبالول، له نويو جنګي فنونو سره د سرتيرو بلدتيا.

۲- د سوداګرۍ او سمندري چلند پراختيا، او آزادو ګرمو اوبو ته د لاس رسۍ هڅه.

۳- د روسيې لويديځ کول

په اتريش او پروس کې د نويو دولتونو رامنځته کېدل

د نويو پيړيو له مهمو سياسي بدلونونو څخه يو هم په اروپا کې د نويو پياوړيو دولتونو رامنځته کېدل و. له دغو دولتونو څخه يو هم د پروس(آلمان) دولت و. دغه دولت د روم د مقدسې امپراتورۍ په شمال کې را منځته شو او د لهستان(پولند) په نيولو سره يې قلمرو پراخ شو، او په لنډ وخت کې په يو مهم هېواد بدل شو.

اتريش هم چې د روم امپراتورۍ يو سويلي ايالت و، ورو ورو يې خپل قلمرو پراخه کړ او په يوې امپراتورۍ بدل شو. د اتريش تر ټولو مهم ګاونډی عثماني هېواد و چې په ۱۸م/ ۱۲ لمريز پيړۍ کې يې دولت کمزوری شو او د متصرفاتو لويه برخه يې اتريش تر لاسه کړه او په اروپا کې په يو ستر هېواد بدل شو.

په ټولګي کې فعاليت

۱- د معاصرو او منځنيو پيړيو توپير په ګوته کړئ،

۲- ستاسو په اند په معاصرو پيړيو کې د اروپا د پرمختګ مهم لاملونه څه و؟

پوښتنې

۱- هسپانيه په شپاړسمه پيړۍ کې څرنګه د نورو هېوادونو په وړاندې مخکښه شوه؟

۲- په اوولسمه پيړۍ کې په اروپا کې کوم لاملونه د نورو هېوادونو په پر تله د فرانسې د سياسي غوره والي سبب شول؟

۳- د انګلستان د هېواد عدالت غوښتنې د حقونو د ليکنې په هکله څه پوهيږئ؟

٤- د روسيې د ځواکمنولو لپاره د لوی پتر پروګرامونه څه وو؟

له ټولګي څخه دباندې فعاليت

د معاصرو پيړيو او منځنيو پيړيو توپيرونه په ځوکړښو کې وليکئ او د ښوونځي په جريده کې يې و ځړوئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د انګلستان صنعتي انقلاب

د انګلستان صنعتي انقلاب نړۍ ته څرنګه بدلون راووست؟



د اتلسمې پېړۍ تر وروستیو پورې د تولید اصلي عامل د انسان مټ او د لاس ځواک و، او نورو عواملو ډېره کمزورې وننده په تولید کې لرله. خو د دې پېړۍ په وروستیو کې د صنعتي انقلاب په رامنځته کیدو لومړی د اوبو محرکه ځواک او وروسته د بخار ځواک د تولید په خدمت کې ورکړای شو.

صنعتي انقلاب چې د انساني ځواک په بدل کې د ماشین د ځواک له کارولو څخه عبارت دی، لومړی له انګلستان څخه پیل شو او ورو، ورو نورو هېوادونو ته یې پراختیا وموندله، د بخار د ماشین په کشفولو سره د تولید بهیر ګړندی شو، د تولید لګښتونه را ټیټ شول او د عامې هوساینې کچه یې په صنعتي هېوادونو کې ډېره کړه.

د اروپایي هېوادونو په صنعتي کیدو یو لړ لاملونو لکه د کافي طبیعي زیرمو شتون،ارزانه انساني ځواک، ډېره مادي پانګه، کار پوهه ځواک، د دولت ملاتړ او د خرڅلاو د بازار اړتیا پیدا شوه، او له هغه ځایه چې په دغو هېوادونو کې هغه ټول عوامل په لاس کې نه و، دولتونو په یو لړ استثماري او توسعه غوښتنې په اقداماتو لاس پورې کړ. له همدې امله صنعتي انقلاب په خپله د دوو اقتصادي- ټولنیزو پېښو د راپیداکیدو او پرمختیا لامل شو.

۱- په بهر کې د آسیایي او افریقایي ملتونو لوټول او د استعمار پراختیا.

۲- د هېواد په د ننه کې د کارګرانو څخه د ګټې اخیستنې او استثمار ډېروالی.

صنعتي انقلاب په انګلستان کې تر ټولو لومړی په دریو برخو کې رامنځته شو چې له اوبدلو، ډبرو سکاره او د اوسپنې ویلې کیدو. چې په پایله کې یې انګلستان په یوه صنعتي ځواک بدل کړ. په دې لړ کې یو شمېر کارخانې د لوړو دود کښونو او تور لوغړن لوګي په درلودو چې په هواکې تیتیده، د شنو او ښایسته کلو او باندو ځای ونیوه چې. د دغو کارځایونو په

(c) ketabton.com: The Digital Library

شاوخواکې د کوم پلان او نقشې پرته استوګنځي را منځته کیدل. دغه ښارونه ډیر چټل او ککړ و، او وړې او سترې کارګران دې ته اړ و چې له دوولس ساعته سخت کار څخه وروسته په هغو کې آرام وکړي.

د صنعتي انقلاب پر مهال، هره نوې اختراع د دې سبب کېده چې نوي ماشینونه دې د یو شمېر کارګرانو پر ځای په کار پیل وکړي، او یو شمېر خلک بېکاره کړي. په پایله کې کارګران بېکاره شول، ماشینونه یې د ځان د بدمرغۍ مسؤول ګڼلو او ځینې وختونه یې ماشینونه ماتول. که څه هم وروسته په دې پوه شول چې ماشین کومه ګناه نلري بلکې نوی اقتصادي نظام د هغوی د بې وزلۍ او بې کارۍ مسؤول دي. نوو کار ځایونو ډېر شمېر پخواني لاسي صنایع او کوچنۍ فابریکې تسخیر کړلې او د کسب او پخواني لاسي صنایعو خاوندان د لویو فابریکو اجیر کارګران شول.

د صنعتي انقلاب په لومړیو کې د کارګرانو مزدوري ډېره لږه وه او کارګران د خپلو خپټو د مړولو لپاره دې ته اړ نه ول چې خپلې ښځې او ماشومان هم د کار لپاره هغو غیر صحي کار ځایونو ته بوځي.

د معدن کارګرانو ټوله ورځ د ډبرو سکرو د زیرمو په ژورو کې په کار کولو بوخت و او د شپې له خوا کورونو ته راتلل او بیا سهار وختي بېرته د معدن په لور روانیدل. ځینې وختونه یې تر څو میاشتو د ورځې روښنایي په سترګو نه لیده.

په ټولګي کې فعالیت

زده‌کوونکي دې په څو ډلو وویشل شي او هره ډله دې په لاندې مسئلو له یو بل سره خبرې وکړي.

۱- د انګستان د صنعتي انقلاب پایلې څه وې. په ګوته یې کړئ.

۲- انقلاب یعنې څه؟ او صنعتي انقلاب څه معنا لري.

پوښتنې

۱- د بخار ماشین په تولید کې څه بدلونونه را منځته کړل؟

۲- ولې کارګرانو د ماشینونو پر وړاندې غبرګون ښوده؟

له ټولګي څخه دباندې فعالیت

صنعت به زموږ په هېواد کې څنګه پرمختګ وکړي. په دې هکله یو مطلب ولیکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د عثماني دولت رامنځته کېدل

په معاصرو پېړيو کې، چې اروپايانو د خپل نوي تمدن بنسټ ايښوده، او پوهې او نوې تکنالوژۍ په مرسته پر مخ تلل تر څو پر نړۍ لاس بري شي، په اسلامي هېوادونو کې څه تېرېدل؟ آيا هغوی هم د بدلون په فکر کې وو؟ آيا د نويو تمدني لاسته راوړنو څخه يې کومه ګټه پورته کړه؟ د استعمار له پېښې سره يې څنګه معامله وکړه؟ په معاصرو پېړيو کې د مهمو اسلامي دولتونو له ډلې څخه يو هم د عثماني دولت و چې په دغه لوست کې به ور سره پيژندګلوي پيدا کړئ.

د سلجوقي ترکانو بريا د ملازګرد په جګړه کې، چې د الپ ارسلان او د ختيځ روم د امپراتور تر منځ پېښه شوه، څو پايلې يې په څنګ کې لرلې: په کوچنۍ آسيا کې لومړی د اسلام د دين خپرېدل د مسلمانانو او مسيحيانو تر منځ دوه سوه کلنې صليبي جګړې يې له مهمو پايلو څخه دي. په تېره بيا، د ترکي مسلمانانو د قبايلو په کوچېدو سره د ايران له ختيځو سيمو څخه د کوچنۍ آسيا په لور، په دغه سيمه کې په ورو، ورو سيمه ييز کوچني دولتونه رامنځته شول چې د خپل پايښت او پراختيا لپاره له خپلو مسيحي ګاونډيانو سره جنګيدل. د دغو قبايلوله ډلې څخه يوه پيژندل شوې قبيله، دقايې قبيله وه چې په انقره او د هغه په شاوخوا کې ميشت شول. د دغې قبيلې مشر ارطغرول و چې خپل ځواک ته يې پراختيا ورکړه. له هغه وروسته يې زوی عثمان په ۶۹۹ قمري کال کې يو دولت رامنځته کړ چې د ده په نوم(عثماني) ياد شو. دغه عثماني دولت چې د شلمې پېړيو تر لومړيو پورې دوام وکړ، د ختيځې نړۍ وروستنۍ ځواکمنه امپراتوري وه، چې نوم او آوازه يې د اروپايانو لپاره د ويرې سبب ګرځيدلی و، نو له همدې امله يې د دغه دولت د له منځه وړلو لپاره ډيرې هڅې وکړې.

عثماني ترکانو د خپل قلمرو د پراختيا او دخپل ځواک د غښتلتيا لپاره دوه مهم پوځي ځواکونه منځ ته راوړل: يو يې عثمانلي لښکر و او بل يې ينې چري، د عثماني دولت د اصلي ځواکونو څخه شمېرل کېده چې د ترکي قبايلو او نظامي ملاتړو څخه را منځته کيده، او د خپلو خدمتونو په بدل کې يې ځمکه لاسته راوړله او د غنيمتونو څخه يې ګټه پورته کوله. خو دينې چرې مسيحي مسلمان شوي ځوانان وو چې د هغوی وندې د عثماني پاچا ساتنه وه او د خپلو خدمتونو په بدل کې يې پيسې ترلاسه کولې چې د دېرشو کلونو له خدمت څخه وروسته هغوی ته ځمکه ورکول کېده.

عثماني پاچاهان

د عثماني پاچايانو تر منځ څو تنه دنړيوال شهرت څخه برخمن وو:

۱ - سلطان محمد فاتح

سلطان محمد د عثماني پاچايانو تر منځ ډير نامتو پاچا و، نوموړي وکولای شو چې د بيزانس د امپراتوری(ختيځ روم) زرکلن سياسي ژوند ته د پای ټکی کېږدي. د هغه ځلانده او نامتو فتحه د قسطنطنيې(د

(c) ketabton.com: The Digital Library

کستانتین ښار) فتحه او د ختیځ روم د امپراتوری پلازمینه وه، چې له هغه وروسته د اسلامبول (د اسلام ښار) په نامه و نومول شو او سلطان محمد د فاتح لقب تر لاسه کړ. دغه فتحه او سوبه دنړۍ په تاریخ کې د ډیرو بدلونونو سرچینه شوه او د اروپا په تاریخ کې د نویو پېړیو د پیل په توګه وپېژندل شو.

۲ - سلطان سلیم

دغه پاچا چې د شاه اسماعیل صفوي معاصر و په خپلو بریدونو سره د ایران پر پولو یې وکولای شول چې د چالداران په جګړه کې په (۹۲۰ق) کال کې صفوي لښکرو ته د هغوی د توپخونې د ځواک او اورلږونکو وسلو سره ماتې ورکړي، هغه عراق او شام هم فتح کړل، او د مصر په لور په لښکر کښۍ کې یې ډیر هېوادونه له منځه یوړل او د مصري عباسیانو حاکمیت او ځواک ته یې د پای ټکی کېښوده. له هغه وروسته یې د مکې مکرمې اداره یې په لاس کې ونیوله، ځان یې د خلیفه په توګه ونوماوه او پر ټولو مسلمانانو د حکومت کولو غوښتونکی شو.

۳ - سلطان سلیمان قانوني(لوی سلیمان)

په ۱۶ م/۱۰ قمری کال کې سلطان سلیمان د سلطان سلیم زوی د عثماني پاچاهانو له ډلې څخه پېژندل شوی پاچا و. د هغه د پاچاهۍ پر مها ل د عثماني امپراتوری قلمرو زیاته پراختیا وموندە، لکه څنګه چې عثماني لښکرو د وین ښار د اوسني اتریش پلازمینه هم د خپلې محاصرې لاندې راووسته. د عثماني دولت سمندري ځواکونه په دې دورې کې په مدیترانه او د هند په سمندري لارو کې شتون درلود. همدغه ځواک و چې په (۱۵۳۸م) کال کې د خیرالدین په مشرۍ د اروپایي متحدینو سمندري ځواکونو ته هم ماته ورکړه. ترکانو سلیمان د دې لپاره چې منظم اداري جوړښتونه او مدني قوانین یې رامنځته کړل د (سلیمان قانوني) په نامه ونومولو، او اروپایانو د هغه د امپراتوری د لویوالي او ځواک له امله هغه ته د(لوی سلیمان) نوم ورکړ.

سلطان سلیمان د عثمانیانو پیاوړی امپراطور

عثماني امپراتوري ولې کمزورې شوه؟

۱۷ ز / ۱۱ق پېړۍ کولای شو د عثماني دولت د زوا ل د پیل دوره وګڼو. دغه زوا ل چې د اروپا د پر مختګ او د لویدیځ د بدلون له دورې سره سمون خوري، د دې لامل شو چې عثماني امپراتوری خپل ټول زیار د خپل سیاسي دریځ او موقعیت په ساتنه ولګوي. ځانګړي لاملونه چې د عثماني دولت د وروسته پاتې کېدو او زوال لامل شو، عبارت دي له:

۱- د عثماني پاچاهانو فساد او وخت تیرول.

۲ - د هر ډول سیاسي او ټولنیزو اصلاحاتو د پلي کولو څخه ډډه کول، چې د اشرافو او درباریانو ګټې یې له خطر سره مخامخ کولې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳- د فتوحاتو ودرول چې د عثماني دولت د لوی پوځ د وزګارتیا لامل شو، او له هغه وروسته پوځیانو چې ډېر یې د ځمکو خاوندان وو، پر کلیوالو یې ظلم او تېریو ته زور ورکړ، او په سیاسي چارو کې یې لاس وهنو ډېرې ستونزې را منځته کړې.

٤- د صفوي دولت سره د عثماني دولت مذهبي شخړې، نه یوازې دا چې د هغه دولت د کمزورتیا لامل شوې، بلکې د مسلمانانو د ټولنیز انحطاط سبب هم شو، دا په داسې حا ل کې وو چې عثمانیانو د خپل قلمرو میشتو مسیحي اقلیتونوته ډېره سیاسي او مذهبي خپلواکي ورکړې وه.

په ۱۸ ز/۱۲ ق پېړیو کې د عثماني دولت کمزورتیا ښکاره شوه. د روسیې او اتریش دوو هېوادونو عثمانیان د بالکان له سیمې او د توري بحیرې د شمال څخه په شا وتمبول. په ختیځ اړخ کې هم د افشاریه د دولت په رامنځته کېدو د ایران لښکرو د نادر افشار په مشرۍ د عثمانیانو پروړاندې را پاڅیدل او سخت زیانونه یې هغوی ته ور واړول.

د نولسمې پیړۍ په لړ کې، عثماني امپراتورۍ د خپل قلمرو د پراختیا او د خپل ځلانده تاریخ باوجود، له د ننه کمزورۍ شوی و، که څه هم بیا وروسته د هغه دولت د واک د ژوندي کولو لپاره هڅې وشوې، او رغنده پروګرامونه هم پلي کړای شو، خو په دې وتوانېدل چې د هغه دولت د زوال بهیر د یو څه وخت لپاره وځنډوي.

په ټولګي کې فعالیت

زده‌کوونکي دې په خو ډلو وویشل شي او هره ډله دې په لاندې موضوعاتو له یو بل سره خبرې وکړي او پایلې دې یو بل ته ووایي.

- ستاسو په اند ولې اروپایان د عثماني پاچا له خوا د ختیځ روم پوځي ماته د اروپا په تاریخ کې د نویو پېړیو پیل وګڼلو؟
- ستاسو په اند د عثماني دولت مشران، د نسکورېدو د عواملو څخه د خلاصون لپاره کومې هڅې کولای شوې چې تر سره یې کړې؟

پوښتنې

۱- د عثماني دولت د کمزورتیا لاملونه څه وو؟

۲- د عثماني پاچاهانو نومونه واخلئ؟

۳- عثماني دولت څرنګه منځته راغی؟

له ټولګي څخه دباندې فعالیت

زده‌کوونکي دې د عثماني امپراتورۍ د واکمنۍ سیمې په اړه معلومات راټول اود اوسنۍ ترکې سره دې پرتله کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د امریکا د متحده ایالاتو د خپلواکۍ انقلاب

په دې لوست کې، امریکا د متحده ایالاتو د خپلواکۍ له انقلاب سره او همدارنګه د امریکا د خپلواکۍ د اعلامیې له موادو سره آشنایي.

د ۱۸ م پیړۍ په پیل کې په امریکا کې د اروپایانو تړولکې لاندې ځایونه

جغرافیایی اکتشافات، په ځانګړې توګه د امریکا د وچې کشف، د شتمنیو نوې نړۍ یې د اروپایې هېوادونو پر مخ پرانستله، یو شمېر زیاد اروپایي هېوادونه چې د مذهبي محدودیتونو او کورنۍ جګړو څخه په تنګ راغلي وو، د ښه ژوندانه لپاره د یوه نوي ځای پلټنه، د طبیعي امکاناتو شتمني او د سرو زرو لپاره امریکا ته مهاجرت وکړ، د دې کډوالو ډېره برخه انګلیستان وو چې د اطلس اقیانوس په لویدیځو سواحلو کې دیارلس ایالته مهاجرمیشتو جوړاوه او له همدې امله د دې خاورې یوه برخه یې د نیوانګلند (نوی انګلیستان) په نامه یاداوه. نوې وچې ته د اروپایانو د یرغلو په لړ کې د هغه ځای بومي وګړي چې سور پوستکي یا د اروپایانو په جګړو کې ووژل شول او یاهم نورو سیموته کډوال شول.

د امریکا خاوره د سرو زرو او نقرې، د ډیرو زیاتو ځنګلونو او کرنیزو ځمکو درلودونکي و. سواحل یې د کبانو نیولو او د بیړۍ چلولو لپاره مناسب او د اقتصادي ودې او پراختیا لپاره زمینه برابره وه. د انګلیستان دولت د خپل واک لاندې سیمې یې د کرنیزو تولیداتو مرکز او د خپلو صنعتي محصولاتو د پیرودلو لپاره ټاکلې وې، په دغه مهال ک کې د نوي مالیاتو وضع د کډوالو نیوکې یې رامنځ ته کړې، په دې مهال ک کې د فرانسې دولت چې د انګلیستان په جګړو کې ماتې خوړلې وې او مستعمرات یې هم په امریکا کې له لاسه ورکړي و، له کډوالو څخه یې ملاتړ وکړ. په پایله کې کډوال په دې وتوانیدل چې د جورج واشنګټن په مشرۍ د انګریزانو ځواکونو ته ماته ورکړي. د دغې ماتې په تعقیب د کډوالو

(c) ketabton.com: The Digital Library

دیارلس ایالاتو د خپلواکی اعلام وکړ، او خپله خاوره یې د امریکا د متحده ایالاتو په نوم ونومولە، او په (۱۷۷۶م) کال کې جورج واشنګټن یې هم د امریکا د لومړي ولسمشر په توګه وټاکه.

د امریکا د خپلواکی اعلامیه

په (۱۷۷۶م) کال کې د امریکا له روشنفکرانو څخه په نامه د توماس پین د (سلیم عقل) په نامه یوه مقاله ولیکه چې ډیر پلویان یې پیداکړه او د هغه (۱۰۰ زره) نسخې په امریکا کې وپیرودل شوې. ناڅاپه د توماس پین دغه فکر د امریکا د خپلواکي په اعلامیه کې د (۱۷۷۶م) کال د جنوری په څلورمه ورځ کې خپور شو چې د خپلواکي د اعلامیې د اصولو برخه یې داسی ده:

۱- ټول خلک یو د بل سره برابر دي او د یو شان حقونو درلودونکي دي.

۲- ټول خلک د ژوند او د خپلواکی د حق درلودونکي دي.

۳- حکومت د خلکو د حقونو د تآمینولو لپاره منځته راغلی دی. په داسې حال کې چې حکومت د خلکو د حقونو د تامینولو توان ونلري دا د خلکو طبیعي او قانوني حق دی چې هغه لرې کړي او د خپلې ټاکنې حکومت منځ ته راوړي.

وروسته له خپلواکي، د امریکا خلک د لویدیځ په لور له پرمختګ سره، د هغه ځای زیاد شمیر سور پوستکی یې له منځه یوړل د هغوی پراخه ځمکی یې لاسته راوړې، او د امریکا د ایالاتو شمیر له دیارلسو څخه پنځوسو ایالاتو ته ورسیده. په دې ترتیب د متحده ایالاتو هېواد چې د اطلس سمندر د سواحلو څخه پیل کیږي تر آرام سمندر سواحلوته پراخوالی پیدا کړ.

په ټولګي کې فعالیت

زده‌کوونکي دې په دوو ډلو ووېشل شي او د لاندنیو مطالبو په هکله دې یو تر بله مشوره وکړي، وروسته د ډلې یو غړی دې پایله نورو ته ووایي.

- ټول خلک یو بل سره برابر دی یعنې څه؟
- ټول خلک د ژوندانه د حق در لودونکي دي یعنې څه؟
- حکومت د خلکو د حقونو د تأمینولو په منظور منځ ته راغلی دی یعنې څه؟

پوښتنې

۱- د امریکا د متحده ایالاتو ځمکې د څه ډول معادنو درلودونکي دي؟

۲- نیو انګلنډ د امریکا د متحده ایالاتو کومې برخې احاطه کړې دي؟

۳- د اروپایانو د هجوم دلیل د امریکا متحده پر ایالاتو باندې څه وو؟

له ټولګي څخه دباندې فعالیت

د خپلواکی په هکله یو مطلب ولیکئ او په راتلونکي لوست کې په ټولګی کې ولولئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د امریکا د متحده ایالاتو د پرمختګ او لوړتیا لارې چارې

امریکا په اوسنی مهال کې د یو شمیر سترو ځواکونو څخه پیژندل کیږی، په پنځلسمې میلادي پیړۍ کې د اروپایي کډوالو په ورتللو سره دغه هېواد له بنسټیزو بدلونونو سره مخ شو، د دغه هېواد پرمختګ او اعتلا د همدغو شرطونو له زمینو څخه رامنځ ته شوی چې په دې لوست کې به یې له ځینو سره آشنا شئ.

د امریکا متحده ایالات یو لوی او پراخه هېواد دي، چې د صنعت درې اصلی مادي (سکاره،اوسپنه او نفت) په کې ډېر زیات وو، په دغه هېوا کې ګن څرویي او له اوبو ډګ سیندونه هم موجود و، چې له هغو څخه د برښنا د تولید ځواک په ډېره لوړه پیمانه جوړیده. د امریکا د متحده ایالاتو نفوس د خاورې د پراخوالی په کچه لږ دي، او هر څوک کولای شي چې د خپل ځان لپاره دکار او فعالیت ډګر پیدا کړی.

د امریکا له کشفولو سره په(۱۴۹۲م) کال کې دنړۍ له ګوټ ګوټ څخه په تېره بیا له اروپا څخه امریکاته زیات کډوال ورغلل، او ببلا ببلو اروپایي ډلو هغو ځمکو ته مهاجرت پیل وکړ او یو تر بله سره ګډ شول، او د هغوی له اختلاط څخه یو نوی ملت د امریکایي ملت په نامه راجوړ شو. هغوی د یوه واحد او یوشان میتود سره زده کړه کوله. همدارنګه د هغو کډوالو په منځ کې چې له اروپا څخه امریکا ته ولاړل یو شمېر پوهان او عالمان هم وو، او هغوی دا فرصت پیدا کړ تر څو د خپلې علمي زده کړې او کړنې لپاره مناسب ځای چمتو او مهیا کړي. د ببلګې په توګه یو بریتانوی پوهاند د سومایل سلاتر (somail slatter) په نامه د لومړۍ ځل لپاره په (۱۷۹۰م)کال کې په هغه هېواد کې(د ټکر ټوټې) جوړولو د فاربریکې بنسټ کېښود، په امریکا کې د نوو صنایعو د ودې چټکتیا په هغه کچه وه چې په لنډه موده کې هغه هېواد له بریتانیا څخه هم زیات پرمختګ وکړ.

د تلګراف او تېلیفون د کرښې رامنځ ته کېدل او د اوسپنې دلاری جوړېدل د کالیو د وړلو او راوړو لپاره چې د امریکا ختیځ او لویدیځ یې یو تر بله ونښلول، او د بخار له بېړیو څخه کار اخېستنه په اقتصادی پر مختګ کې ډېر ګټور وو. همدا رنګه د امریکا د پرمختګ بله لاره په (۱۸۳۸م) کال کې د مریتوب نظام له منځه وړل، د ختیځې امریکې آزادي تر لاسه کول څرنګه چې د مریتوب نظام له منځه وړلو غورځنګ چې په امریکا کې منځته راغلی و، وړو وړو د خپلواکۍ غوښتونکو له عقایدو او مفکورو څخه یې سر راپورته کړ د امریکا د مریتوب ضد غورځنګ چې د ویلیام لوید ګارسین (william lwid garsen) په واسطه (۱۸۰۵- ۱۸۷۹م) کلونو کې رامنځته شوی و، تر پنځو کلو پورې یې ۲۵۰۰۰۰ غړي پیدا کړل.

د امریکا متحده ایالاتو د قضاییه قوې چې ریاست یې جان مارشال له (۱۸۰۱ – ۱۸۳۵م) کالو پورې په غاړه در لود، د امریکا د ملي یووالي لپاره یو بل پیاوړی ځواک و. همدارنګه هغه دموکراتیکې نظریې چې د خلکو او پرګنو سیاسی قدرت یې زیاتولو، او د لومړي ځل لپاره د انګلستان د کورنیو

(c) ketabton.com: The Digital Library

جګړو د اوولسمې پیړۍ په ٤٠ لسیزه کې را منځته شوې و، د امریکایانو غوښتنو ته هم راورسیدې، که څه هم داسې نظریې څه بریالۍ نه شوې خو د هغو له پیل څخه د انساني اړیکو د پرمختګ لپاره یې لاره هواره کړه. پورتنیو اندونو او نظریو په سیاسی برابرېو او د خلکو په اراده باندې یې ټینګار درلود. په اوسني عصر کې متحده ایالاتو د سالمې اداري د رامنځ ته کېدو سره په نوو شرایطو کې د دموکراسي د منلو امکانات پیدا کړل. خو په امریکا کې دموکراسي هیڅ کله هم آسانه وده ونکړه. بلکې د امریکا د دموکراسۍ له نظام سره د هغو خلکو له خوا مخالفت وشو چې د امریکا د دموکراسۍ په نظام کې د ټیټو طبقو له شمول سره مخالفتونه درلول، او هغه یې ردول خو د وخت په تېریدو سره نوموړي مخالفتونه کم شول.

همدارنګه د عرضی او تقاضا غوښتنې پر بنسټ د امریکا د ځانګړو شرایطو په پام کې نیولو سره د آزاد بازار د اقتصادي سیستم په اساسې له معقولو اقتصادی نمونو څخه کار اخیسته، د سالم رقابت را منځته ته کول او همدارنګه د اداري، سیاسي او فرهنګي لاروچارو سمون (اصلاحات) هغه نورې زمینې وې چې د امریکا د متحده ایالاتو د ودې او پر مختګ لامل وګرځید.

په ټولګي کې فعالیت

زده‌کوونکي دې په دوه ډلو وویشل شي لومړۍ ډله دې د کډوالو د فعالیت له څرنګوالي سره په ښلابښلو برخو کې او د امریکا د صنایعو د پر مختګ په اړه خبرې وکړي او دویمه ډله دې د جان مارشال او په امریکا کې دموکراتیک فعالیتونو په اړه خبرې اترې وکړي او پایله دې بیا د هرې ډلې استازی نوروته وړاندې کړي.

پوښتنې

١- ولې کډوال د نړۍ له هر ګوټ څخه امریکا ته ور کډه شول؟

٢- په امریکا کې د مریتوب د نظام له منځه وړل د چا په واسطه او څرنګه رامنځته شول؟

٣- جان مارشال څوک و؟

٤- دموکراتیکو اندونو (ولسواکي) څرنګه امریکا ته لاره پیدا کړه؟

له ټولګي څخه دباندې فعالیت

زده‌کوونکي دې د ښوونکي د لار ښوونو څخه په ګټې اخیستنې سره د امریکا د متحده ایالاتو د پر مختګ او پراختیا په اړه یو مطلب ولیکي او په راتلونکي درسي ساعت کې دې ټولګیوالو ته وړاندې کړي.

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library